د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون

د شرعیاتواو قانون پوهنځی

د تفسیراوحدیث د ماستری پروګرام

# خیراواطلاقات ئې په قرآنکریم کې

## (موضوعي څېړنه)

### د ماستری رساله

محصل: سیف الرحمن سعید

لارښود استاذ: دوکتور عبدالباري حمیدي

کال: ۱۳۹۹ هـ ش - ۱۴۴۲ هـ ق

دافغانستان اسلامی جمهوریت

د لـــوړو زده کــــړو وزارت

د خصوصي پوهنتونونو ریاست

ســــــلام پوهنـــتون

د شرعیاتواو قانون پوهنځۍ

د تفسیر او حدیث د ماسترۍ
پروګرام

# خيراو اطلاقات ئې په قرانكريم كې

(موضوعي څېړنه)

د ماسترۍ رساله


محصل: سيف الرحمن سعيد

لارښود استاذ: د كتور عبدالبارِي حميدي


كال: ۱۳۹۹ هـ ش ـ۱۴۴۲هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیاتو اوقانون پوهنځی

### د تفسیر او حدیث څانګه

### د ماسترۍ بورد

## تــــصـديـق نـــــامـــــه

ښاغلی سیف الرحمن(سعید) د فضل الرحمن زوی د ID: Sh-mst-97-360 نمبر لرونکی، د تفسیر او حدیث د څلورمې دورې محصل د ماسترۍ مرحلې رساله چې عنوان یې: خیر او اطلاقات یې په قرآن کریم کې دی،د دوشنبې ورځ په ۲۵/۴/۱۳۹۹هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۸٦ (نمرو په عدد) شپږ اتیا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

حکم پلاوی:

| ګڼه | دأستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور فصیح الله عبد الباقي | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | استاذ شکر الله مخلص | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور عبد الباري حمیدي | لارښود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورد آمر.................... علمي مرستیال ....................

**ډالۍ**

خپله دغه هڅه !

د خپلې ګرانې کورنۍ په ګډون ټولو هغو ته چې په هېواد کې د يو بشپړ اسلامي نظام د راتګ په هيله دي.

هغو ته چې د اسلام او هېواد سره د مينې په خاطريې خپل ميړونه ،اولادونه ،پلرونه ،اود خوارږه بدن غړي له لاسه ورکړي دي.

هغوته چې په نه جرم د ظالمانو په زندانونو کې د کړاوونو شپې تېروي.

او هغو ته چې د هوسايني اوخوندونو له ژوند څخه يې په هېواد کې د شرعي نظام د راتګ په خاطر د کړاوونو او مصيبتونو ژوند ته ترجيح ورکړې ده.

هغو ته چې په هيواد (ګران افغانستان) کې د سپڅلی خدمت او بشپړ امنيت راوستلو هوډ لرى. په ډېره مينه او اخلاص ډالۍ کوم .

سيف الرحمن ( سعيد)

**مننليک**

زه مننه او کور ودانی کوم د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه چې په ګران هیواد افغانستان کې یې د ماستری د زدکړو زمینه هیوادوالو ته برابره کړې ده وروسته بیا د سلام پوهنتون له درنې ادارې څخه مننه کوم چې په لوړه سطحه محصیلنو ته خپل خدمات وړاندې کوي او د سلام پوهنتون د ماستری د بورډ څخه مننه کوم چې د پوره متقابل احترام سره یې زمونږ ټولو غوښتنو ته پوره جواب ویلو او د سلام پوهنتون د ماستری د ټولو قدرمنو استادانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې په کامل اخلاص او شفقت یی مونږ وروزلو او له ډیر عزتمند شخصیت او محترم مشر استاد دکتور عبدالبـــــاری (حمیدی) صاحب (حفظه الله) څخه مننه کوم چې له ماسره یی د دې رسالې په ترتیب کې پوره مرسته او همکاري وکړه ، خپله هیڅ ډول علمي او مسلکي لارښوونه یي له ما څخه و نه سپموله خپل ډیر ارزښتمن وخت یی ماته وقف کړ،بشپړ لازم او علمي هدایات له ماسره شریک کړل، زه ورته د پاک الله ﷻ له دربار څخه د بابرکته ، خوشحاله او بختور ژوند غوښتنه کوم ، سره د ټولو مسلمانانو الله ﷻ دې هیڅکله هم له خپل رحمت څخه لیرې نه ساتي.آمین.

د ټولو ملګرو څخه چې له ما یی هیڅ ډول علمی مشوری نه دی سپمولی ، بلکې د معلوماتو پته یی راکړه ، کتابونه او موثق مأخذونه یې راته برابر کړي دي مننه کوم

په درنښت

سیف الرحمن ( سعید)

# دموضوعاتو لړلیک


**پیلیزه ........................................................ 1**

د خېرني دغوره کولو لاملونه ........................................ 2

د خېرني ارزښت........................................ 2

د خېرني موخې ........................................ 2

د خېرني د مسئلې صرحه ........................................ 3

د خېرني اساسي ستونزې........................................ 3

د خېړني مخينه........................................ 4

د خېرني کړنلاره :........................................ 4

د خېرني د جوړښت پلان........................................ 5

**لومړی فصل ........................................ 8**

د خیرمفهوم اوپه قرآن کې يې اطلاقات........................................ 8

لومړی مبحث : د خیر پیژندنه ........................................ 8

لومړی مطلب : د خیرلغوي پیژندنه ........................................ 8

دوهم مطلب : د خیر اصطلاحي پیژندنه........................................ 9

دوهم مبحث : د خیرمرادفات........................................ 11

لومړی مطلب : تقوی ........................................ 11

د تقوی لغوي پیژندنه :........................................ 11

د تقوی اصطلاحي پیژندنه :........................................ 11

دوهم مطلب : البر ( نیکي )........................................ 12

د بر(نیکي) لغوي پیژندنه ........................................ 12

د بر( نیکي ) اصطلاحي پیژندنه........................................ 13

دريم مطلب : صلاح ........................................ 14

د صلاح لغوي پیژندنه........................................ 14

د صلاح اصطلاحي پیژندنه........................................ 14

څلورم مطلب : نفع........................................ 15

د نفعې لغوي پیژندنه........................................ 15

د نفعې اصطلاحي پیژندنه........................................ 16

دريم مبحث : خير د اطلاق او تقييد په اعتبار ........................................ 18

لومړی مطلب : مطلق خیر ........................................ 18

دوهم مطلب : مقید خیر ........................................ 22

څلورم مبحث : په قرآنکریم کې د دنیوي او اخروي خیراطلاقات ........................................ 30

لومړی مطلب : په قرآنکریم کی د دنیا حقیقت ........................................................... 30

دوهم مطلب : په قرانکریم کې د دنیوی خیر اطلاقات ............................................................ 32

لومړی اطلاق : خیر د ایمان په معنی ........................................................................ 33

دوهم اطلاق : خیرد اسلام په معنی .......................................................................... 35

دریم اطلاق : خیر د مال په معنی.............................................................................. 36

څلورم اطلاق : خیردعافیت په معنی ......................................................................... 39

پنځم اطلاق : خیرد اجر او ثواب په معنی..................................................................... 41

شپږم اطلاق : خیر د افضل ( ډیرغوره ) په معنی ............................................................. 42

اووم اطلاق : خیر د طعام او مادي رزق په معنی ............................................................. 42

آتم اطلاق : خیر په جنګ کې د کامیابی په معنی : ........................................................... 43

نهم اطلاق : خیر د آسونود محبت په معنی..................................................................... 44

لسم اطلاق : خیر د قرآن په معنی.............................................................................. 45

یوولسم اطلاق : خیر د نفع او ډیرې فایدې په معنی ........................................................... 46

دولسم اطلاق : خیر د قیمتونو د ټیټدلو په معنی................................................................ 46

د یارلسم اطلاق : خیر د صلاح په معنی ..................................................................... 47

څوارلسم اطلاق : خیر د قدرت او قوت په معنی ............................................................ 48

پنځلسم اطلاق : خیر د اصلاح په معنی ...................................................................... 48

شپاړسم اطلاق : خیر د صالح اولاد په معنی ................................................................ 49

اوولسم اطلاق : خیر دعفت او ساتنې په معنی................................................................ 50

آتلسم اطلاق : خیر د ادب او ښو اخلاقو په معنی ........................................................... 50

نولسم اطلاق : خیر د صالح عمل په معنی.................................................................... 51

شلم اطلاق : هغه خیر چی د شرضد دی ...................................................................... 52

یوویشتم اطلاق : خیر د کثرت او کفایت په معنی............................................................. 53

دوه ویشتم اطلاق : خیر د هدایت او حکمت په معنی ....................................................... 54

دریم مطلب : په قرانکریم کې د آخرت حقیقت................................................................ 56

څلورم مطلب : په قرآنکریم کی د اخروی خیر اطلاقات ..................................................... 58

لومړی اطلاق : خیر داخروي اجر په معنی .................................................................. 58

دوهم اطلاق : خیر د رحمت او مغفرت په معنی ............................................................. 61

دریم اطلاق : اخروي خیر د جنت او هغه د نعمتونو په معنی ............................................... 65

**دوهم فصل........................................................................................ 70**

**خیرلوري ته د بلنې قرآني کړنلاره ........................................................... 70**

لومړی مبحث : د خیرلوري ته د قرآنکریم دعوت او د هغه د ثواب بیان ............................................ 70

لومړی مطلب : خيرلوري ته د قرآنکريم بلنه........................................................70
لومړی ډول بلنه : د خيرپه لوري سرعت او يو له بل څخه د خيرپه کارکي مخکي والی.......................71
دويم ډول بلنه : په معاملاتوکي د عدل په لوري دعوت اوبلنه ..........................................74
دريم ډول بلنه : د خيرپه لوري په حسنه قدوة بلنه....................................................75
څلورم ډول بلنه : په نيک کارباندې استقامت په خاصه توګه امربالمعروف اونهی عن المنکر ..............76
دوهم مطلب : په قرآن کي د خيرد اجراوثواب د بيان له لارې خيرلوري ته بلنه ............................77
لومړی ډول : د خيرپه کار اګرکه لږ يا کوچنی هم وي د اجر او ثواب ورکول ..............................77
دوهم ډول : د لږعمل په مقابل کي د زيات اجراوثواب ورکول.........................................79
دريم ډول : قرآنکريم په دې صراحت لري چي د خيرپه کارثواب ورکول هم خيردی........................80
څلورم ډول : د خيرپه کارد الله له لوري جنت ورکول ...............................................81
دوهم مبحث : خيرته په بلنه کي قرآني کړنلاره....................................................84
لومړی مطلب : خيرته په بلنه کي د قرآنکريم خبري اسلوب..........................................84
لومړی اسلوب : خبري اسلوب يواځي د خبرد افادې لپاره............................................84
دوهم اسلوب : خبري اسلوب د خبراوترغيب د افادې لپاره ..........................................86
دريم اسلوب : خبري اسلوب د تشويق لپاره .......................................................87
څلورم اسلوب : خبري اسلوب د خبروعد او وعيد(ثواب عذاب) لپاره ..................................88
پنځم اسلوب : خبري اسلوب د غوره والي لپاره ....................................................90
شپږم اسلوب : خبري اسلوب د خبراو مساومې د افادې لپاره.........................................92
دوهم مطلب : خيرته په بلنه کي د قرآنکريم انشائي اسلوب ..........................................94
لومړی اسلوب : انشائي اسلوب د زجر لپاره.......................................................94
دوهم اسلوب : انشائي اسلوب د زجر ا ودعا لپاره.................................................98
دريم اسلوب : انشائي اسلوب د انکارلپاره........................................................101
څلورم اسلوب : انشائي اسلوب د تشويق او ترغيب لپاره ............................................102
پنځم اسلوب : انشائي اسلوب د اثبات او تعجب لپاره ..............................................103
شپږم اسلوب : انشائي اسلوب د تحقيرلپاره.......................................................105
اووم اسلوب : انشائي اسلوب د تحريک او اغراء لپاره ..............................................106
دريم مبحث : د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه اوخيرته نه پاملرني بدي بيانول 109
لومړی مطلب : د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه ..............................................109
لومړی ډول : په هروخت اوهرځای کي د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه ..............................109
دوهم ډول : له بخل څخه په سخت وعيد سره د قرآنکريم وېرونه .......................................110
دريم ډول : له کفران ( د الله جل جلا له د نعمتونوناشکرئ ) څخه د خيرپه پرېښودلووېرونه ..................111
څلورم ډول : د تکذيبوونکوامتونوله تقليد څخه د قرآنکريم وېرونه......................................113

دوهم مطلب : د خیرپرېښودلومذمت بیانول ........................................................ 114
لومړۍ ډول : د خیرد پرېښودونکي چې د ترسره کولو قدرت یې ولري مذمت بیانول.................. 114
دوهم ډ ول : د خیرپرېښودل د منافقینوصفت دی .................................................... 116
**دریم فصل.................................................................................................. 119**
**د اهل خیراوصاف اود خیرګټې.................................................................... 119**
لومړی مبحث : د اهل خیراوصاف ............................................................................ 119
لومړی مطلب : د غوره خلکواعتقادي اوتعبدي اوصاف ................................................ 119
لومړۍ صفت : ایمان ............................................................................................ 119
دوهم صفت : په عبادت کې اخلاص.......................................................................... 121
دوهم مطلب : د غوره خلکوسلوکي اواخلاقي اوصاف ................................................. 123
لومړی صفت : له الله (جل جلاله) څخه وېره .............................................................. 123
دوهم صفت : امربالمعروف اونهی عن المنکر............................................................... 126
دریم صفت: د لغوې اوبې فایدې خبروڅخه اعراض اومخ اړول ....................................... 129
څلورم صفت : خپلوخاوندانوته د امانتونوسپارل........................................................... 131
پنځم صفت : د غوسې زغمل اوخلکوته عفوه کول ....................................................... 133
شپږم صفت : د فرج یا شرمګاه ساتنه ........................................................................ 135
دوهم مبحث : په قرآنکریم کې د خیردنیوي ګټې.......................................................... 138
لومړی مطلب : په دنیا کې د خیرفردي ګټې ................................................................ 138
لومړۍ ګټه : علم اوحکمت ترلاسه کول........................................................................ 138
دوهمه ګټه : په عبادت کې د الله ( جل جلاله) له لوري مرسته ترلاسه کول ....................... 139
دریمه ګټه : له ګناهونوڅخه د نفس پاکوالی ................................................................ 141
څلورمه ګټه : نفسي سکون اواطمینان ترلاسه کول........................................................ 142
پنځمه ګټه : د دعا قبلیدل......................................................................................... 144
دوهم مطلب : په دنیاکې د خیرټولنیزې ګټې................................................................. 145
لومړۍ ګټه : په ځمکه کې د الله (جل جلاله) د توحید خپرېدل ....................................... 145
دوهمه ګټه : د الله (جل جلاله) نصرت اود غنیمت مال ترلاسه کول .................................. 147
دریمه ګټه : مالداره اوغني کیدل ................................................................................ 149
دریم مبحث : د خیراخروي ګټې ................................................................................ 153
لومړی مطلب : په آخرت کې د خیرفردي ګټې ............................................................. 153
لومړۍ ګټه : د الله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کول....................................................... 153
دوهمه ګټه : د توبې قبلیدل ...................................................................................... 154
دوهم مطلب : په آخرت کې د خیرټولنیزې ګټې.............................................................. 156

لومړۍ ګڼه : د الله (جل جلاله)  له لوري د رحمت اومغفرت ترلاسه کول............................................156
دوهمه ګڼه : جنت ته دا خیلیدل..............................................................................................158
**پایله....................................................................................................................163**
**وړاندیزونه.............................................................................................................165**
**د آیاتونو لړلیک.......................................................................................................166**
**د احادیثو لړلیک.......................................................................................................173**
**د اعلامو پیژندنه.......................................................................................................174**
**مأخذونه..................................................................................................................175**

## د څېړنې لنډيز

دا چې په دې ليکنه کې به ( خيراو اطلاقات يې په قرآنکريم کې ) ترعنوان لاندې موضوع وڅېړل شي په دې کرښوکې به د نوموړې موضوع اهميت اهداف او کليدي نکتوته په لنډه توګه اشاره وشي.

**د موضوع اهميت :** که د اوسنی نړۍ اوسېدونکوته وکتل شي ليدل کېږي چې دوی د خپل ژوند حقيقي هدف ته چې هغه په دنيوي ژوند کې د خيراو نيکو کارونو ترسره کول دي پاملرنه نه کوي او د ژوند لويه برخه په داسې شيانو تيروي چې هغه د دوی لپاره هېڅ فايده نه لري نو ( خيراو اطلاقات يې په قرآنکريم کې ) موضوع اهميت په دې کې دی چې د خيرشتون د انسانانو د ژوند لپاره داسې اړين اوضروري دی چې د خيرپه نه شتون کې انسان د خپل ژوند حقيقي هدف ته شا کړېده نو په همدې سبب نوموړې موضوع څېړل شوېده ترڅو انسانان دې مهم ټولنيزارزښت ته پاملرنه وکړي ترڅو په دنيا کې داسې يوټولنيز ژوند ولري چې په هغه کې د ټولنې د ټولو وګړو حقوق او مسئوليت خوندي وي اوله بلې خوا په آخرت کې د الله (جل جلاله) د رضايت ترلاسه کولو سبب شي چې دا هغه څه دې چې د انسانانو نيکمرغي ورسره تړلې ده نو همدې هدف ته د رسېدلو لپاره هڅه شوېده ترڅو نوموړې موضوع د قرآنکريم د مبارکوآياتونو په رڼاکې په روانه پښتو ژبه په داسې توګه وڅېړل شي چې هرلوستونکی په آسانه توګه وکولای شي ترې استفاده وکړي.

**د موضوع اهداف :** د دې موضوع له ليکنې څخه حقيقي موخه دا ده چې په دې توګه وتوانېږو هغه خلک چې د هغوی په ژوند کې نوموړی مفهوم شتون نه لري دې مفهوم ته متوجه شي ترڅو دا سې ژوند ولري چې له اطمينان خوښيو اولاسته راوړنوڅخه ډک وي اونورو انسانانوته فايده رسول او د ښوکارونو ترسره کول د دوی د ژوند په اصلي هدف اوپه اساسي شعاربدل شي.

همدارنګه په خاصه توګه دا يادونه اړينه ده چې په اوسني وخت کې اسلامي امت له ډېرو ناخوالو سره لاس اوګرېوان دی نود دې امت ځوانان دا مسئوليت لري ترڅو د علم په زېور د سمبالولوله لارې دا دنده ترسره کړي هغه الهي پيغام چې د ټول بشريت د ژغورلو ضامن دی ترخلکوپورې ورسوي چې خپله داعيان بايد په لومړي سرکې په خپل ځان کې د خيرد لاسته راوړلو لپاره هڅه اوکوشش وکړي ترڅو د دوی دعوت په نورو خپل تاثيرات ولري اود يوې نېکې نمونې په شکل له نورو سره مخامخ شي.

بل دا چې له دې ليکنې څخه هدف په روانه پښتو ژبه خپلو هېواد والوته د داسې ټکو وړاندې کول دي چې لوستل به يې له فايدې څخه خالي نه وي.

همدا رنګه تريوحده پورې د خپل ايماني مسئوليت ادا کول هم دي له الله (جل جلاله) څخه غواړم چې زما دا نيمګړې هڅه په خپل دربارکې قبوله کړي.

**د موضوع کليدی اواساسي نکات :** د موضوع په ليکنه کې هغه اساسي نکات چې زه ورسره مخامخ شوم په لاندې توګه دي.

لکه د خيراساسي مفهوم اوهدف د خيرد نيوي اواخروي اطلاقات په مختلفو اساليبو خيرته د قرآنکريم بلنه اودې لارې ته د خلکوتشويقول اوله بدو کړنوڅخه پرهېزپه دنياکې د خيرد موجوديت په صورت کې د الله (جل جلاله) له لوري د ډول ډول نعمتونوترلاسه کول او همدا ډول په آخرت کې د زيا تونعمتونو ترلاسه کول همدا رنګه د خيرد مرادفاتو سره آشنا کېدل او د خيرد ضد چې هغه شردی اود انسان د هلاکت سبب ګرځي بيانول.

په پای کې دا ويلی شم که يوڅوک په واقعي توګه د ځان لپاره د بريا غوښتونکی وي نوهغه بايد د خيرمفهوم په خپل ژوند کې پلی کړي چې دا کارد ده لپاره د دارينو د نيکمرغی سبب او وسيله ده.

# پیلیزه

الحمد لله والشكر له وهو الشكور الحميد، منزل الْقُرْآن هدى ورحمة، والصلاة والسلام والبركات على سيدنا ورسولنا ونبينا وحبيبنا أبي القاسم مُحَمَّد بن عَبْد الله، صَلَّى الله عَلَيْهِ وعلى آله وصحبه وتابعيه اجمعين .

**أما بعد:**

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ** ([1]

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا** ([2]

**يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا (70) يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ الله وَرَسُوله فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا (71)**([3]

امابعد : خير هغه جامع لفظ دی چې د انسان د ژوند ټولو پړاونو ته شاملیږي او هر هغه څه ته خير ويلای شو چې د هغه په وسيله يو شخص الله (جل شانه) ته نږدی کيږي په داسې حال کې چې که د نننی نړۍ اوسيدنکو ته وکتل شي دا به جوته شي چې دوی خير ته شا اړولې ده دا په داسې حال کې چې قرآنکريم له سره تر پايه انسانان د خير او ښو کارونو تر سره کولو ته هڅولی دي او نوموړي هدف ته د رسيدو لپاره يي د تاريخ په مختلفو پړاوونو کې پيغمبران (عليهم السلام) را ليږلي دي چې دا سلسله د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) په راليږلو سره بشپړه شو بده هغه (صلی الله عليه وسلم) د حجة الوداع په محال په خپله خطبه کې امت ته يو مهم مسوليت ور له غاړی کړ او دوی ته يې داســـې وويل **(فليبغ الشاهد الغائب)** ([4]

ترجمه : دا پيغام د حاضر کسان غير حاضرو ته ورسوي .

نو د دې حديث له مصداق سره سم د ټول مسلمه امت دا مسئوليت دی چې تر څو په خپل دنيوي ژوند کې خير او ښو کارونو ته مخه کړي او نور کسان هم دغې لارې ته دعوت کړي چې په دې وسيله به دنيوي او اخروي سعادت او نيکمرغي تر لاسه کړي نو دغې موضوع ته په پام سره ما هم وغوښتل چې تر څو د قرآنکريم د مبارکو آيتونو له جملې څخه هغه آيتونـه چې پـه هغه کې د خير يادونـه شوې ده د يوې ځانګړې موضوع تر سرليک لاندی چې هغه (خير او اطلاقات يې په قرانکريم کې) ده راټول کړم تر څو خلک اومونږ وکولای شو په آسانۍ سره د خير لارې وپيژنو او په خپل ژوند کې ور باندې عمل وکړو.

---

۱ آل عمران ، ايت ۱۰۲ .

۲ نساء ،آيت(۱ ـ ۲ )

۳ احزاب، ايت (۷۰- ۷۱)

۴ البخاري ، آبوعبدالله محمد بن اسماعيل،صحيح البخاري ، ،ج ۱ ، ص ۳۶۳ ، د حديث شميره ۱۷۳۹، باب الخطابة آيام المناء .

## د څیرني دغوره کولو لاملونه

زما د موضوع (خیر او  اطلاقات یې په قرانکریم کې ) د غوره کولو اسباب په لاندې ډول دي .

۱- دا چې قرانکریم  نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده چې دا له ډیرى آیاتونو څخه په واضح ډول معلومیږي ، همدارنګه نبوي سنتو هم نوموړې موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې ده .

۲- د سلفو زیاته پاملرنه نوموړې موضوع ته چې په اړه یې زیاتې لیکنې کړې دي خو  هغه مسائل او موضوعات چې زه یې دلته په دې رساله کې بیانوم په مختصره توګه راوړل شویدي چې هرلوستی شخص په آسانی سره ترې استفاده کولای شي  همدارنګه هغه ټولې لیکنې په عربي ژبه کې دي چې په پښتو  ژبه کې د دې موضوع  لیکنې ته ضرورت لیدل کیږي.

۳- د اوسنی نړۍ د اسپډونکواشد ضرورت د انساني قضیاوو د حل په برخه کې قرآني درملنې ته .

۴- د ډیرو خلکو غفلت او د نوموړې موضوع له یاده ویستل.

۵- په روانه  اوساده ژبه د خیر د مفهوم وړاندې کول.

پورتنې ټول لاملونه  ما ته د یادې موضوع د ارزښت قناعت راکوي  چې څیرنې ته ضرورت لري ، نو ځکه ما  (خیر او اطلاقات یې په قرانکریم کې) موضوع انتخاب کړه

## د څیرني ارزښت

خیر داسې موضوع ده چې زیات ارزښت لري او د هغه مهمو موضوعاتو له جملې څخه شمیرل کیږي چې  قرآنکریم او نبوي سنتو ورته پاملرنه کړې ده او دا د قرآنکریم له ډیرى آیاتونو څخه روښانه کیږي چې د خیر موضوع په اړه راغلي دي.

همدارنګه د خیر موضوع د مسلمانانو د ژوند له مهمو قضایاوو څخه شمیرل کیږي چې اسلام مسلمانان ورته متوجه کړې دي ، د هغو علامې ، اسباب ، ډولونه ، مثالونه  او د خیر لاس ته راوړلو لارې چارې یې ورته په ګوته کړې دي تر څو له نوموړو لارو څخه په استفادې په دنیوی ژوند کې خپل ځان د الله (جل شانه) د رحمت وړ  وګرځوي او په آخرت کې د الله (جل شانه) هغه نعمتونه چې دى ډول کسانو ته یې تیار کړي دي  تر لاسه کړي ، دا هغه څه دي چې  په دې بحث کې به وڅیړل شي له الله (جل شانه) څخه د مرستې او استقامت غوښتنه کوم .

## د څیرني موخې

۱- دا چې زما دا نیمګړې هڅه د الله  (جل جلاله) د رضایت سبب اوترڅوحده پورې د خپلې ټولنې د اوسېدونکولپاره د خیرلارې ته تشویقولوپه برخه کې مؤثره واقع شي .

۲- بل دا چې د مسلمان دا عي په صفت زه هم د دې کارپه وسیله خپل ایماني مسئولیت یوه برخه ادا کړم.

۳- همدا رنګه په پښتوژبه د دیني موضوعاتو د څېړلوپه برخه کې د لیکل شوو رسالوپه غنامندۍ کې ځه ناځه زیاتوالی راشي.

## د ځیرنې د مسئلې صرحه

د خیر لاس ته راوړل په دنیا کې د انسان له اساسي دندو څخه شمیرل کیږي ، دا چې ولې قرآنکریم د خیر موضوع بیان کړې ده ؟ دا هغه ستونزه شوه چې د لاندې سوالونو په وسیله به ورته د جواب پیدا کولو هڅه کیږي .

اصلي سوالونه ؟؟

۱- د خیر حقیقت څه شی ده ؟

۲- آیا خیر په بشري ژوند کې حتمي واقع کیدونکی ده ؟

فرعي سوالونه ؟؟

۱- آیا خیر د انسان په ژوند کې د کومې ګټې درلودونکی دی او کنه ؟

۲ ـ آیا خیرته رسېدل په آسانۍ سره ممکن دي ؟

۳ ـ په دنیوي ژوند کې د خیرلاره خپلول له انسانانوڅخه حتمي ده ؟

۴ ـ خیرته د رسېدلولارې مشحصې دي اوکنه ؟

۵ ـ خیرپه ټولنیزژوند باندې مثبتې اغېزې درلودلای شي ؟

دې ټولو سوالونو ته د ځیرنې په دوران کې د قرآنکریم څخه د جواب پیداکولو هڅه کوو.

## د ځیرنې اساسي ستونزې

د دی بحث د ځیرنې څخه اصلي مقصد لاندې ستونزو ته د حل لارو لټول دي:

۱- د خیر په هکله د یاداشتونو را ټولول چې یو ستونزمن کار دی او کافي وخت ته ضرورت لیدل کیږي .

۲- د خیرپه اړه په روانه پښتو ژبه د یو علمي رسالې لیکل او د دې ژبې مینوالوته وړاندې کول.

۳- د خیر کارونو ترسره کولو ته د ټولنې د اوسېدونکو متوجه کول .

۴ ـ په دې اړه تریوحده پورې خپل ایماني مسئولیت ادا کول.

۵ ـ له مطالعې سره د مینه لرونکوځوانانو علمي تنده خړوبول.

## د څېړنې مخینه

له سلفو څخه هغه څه چې د خیر په اړه راغلي دي په دې برخه کې یو قیمتي میراث دی ، هغوی د خیر موضوع ته چې د انسانانو په ژوند کې د ډیر اهمیت وړ ده ډیره پاملرنه کړې ده ، ځینو یې د خیر او هغه څه چې له خیر سره تړاو لري (ځانګړی کتابونه تألیف کړی دی) او ځینو نورود خپلو تألیفاتو یو جزء یا فصل او یا هم باب نوموړي موضوع ته ځانګړې کړی ده چې څو مثالونه یې د نمونې په ډول دلته ذکرکوم.

۱- مجالات الصراع بين الخير و الشر ، تاليف : د.عمر سليمان الاشقر ، د تآليف کال ۱۴۱۲هـ ق.

۲- مفاتيح الخيروالشر ، تآليف : استاد سلمان نصيف الدحدوح ، د تآليف کال : ۱۴۱۹ هـ ق.

۳- عظمة القران ودعوته الى الخيروالكمال ، تآليف : د . محمد جمعة عبدالله ، د تآليف کال : ۱۴۱۸ه .

۴- مفاتيح الخير ، تآليف نذير حمدان ، د تآليف کال : ۱۴۲۶ هـ ق .

۵- الابتلاء بالخير مفهومه و حقيقته و موقف المسلم منه و جزاء شكره ، تآليف : د. محجوب احمد طه ، د تآليف کال ۱۹۹۹م.

د یادونې وړ ده چې پورتني ټول تألیفات په عربي ژبه کې دي او په پښتو ژبه کې مې په دی هکله څه ونه موندل نو لازمه مې وګڼله چې نوموړي موضوع د هغې د اهمیت په اساس بیا وڅیړم.

## د څیړنې کړنلاره :

د دې موضوع په څیړنه کې په موضوعي منهج باندې بسنه شوې ده او د خیر لفظ په اړه د قرآنکریم هغه آیاتونه چې نوموړی لفظ په کی راغلی دی او د آیاتونومدلولات اومعاني د معتمدو تفاسیرو څخه چې په نوموړې موضوع کې اساسي مصدر شمیرل کیږي، په استفادې څیړل شوي دي او نورو هغو منابعو او مصادرو څخه استفاده شوې ده چې نوموړې موضوع سره تړاو لري همدارنګه د بحث په لیکلو کې مې هغه ښه خپله کړې چې خپل لاربسود استاد راته ښونه کړې ده اود څیرنې په کړنلاره کې لاندې نکتو ته اشاره کوم

۱- په لومړي سرکې د قرانکریم مبارک آیاتونه راوړل.

۲- لفظاً او معناً د قرآنکریم د آیاتونو څیرنه او د هغوی تفسیرد مفسرینو داقوالو په رڼا کې چې د خیر په هکله راغلي دي.

۳- په تفاسیرو، احادیثو اود کتابونوپه اصلي مصادرو اعتماد.

۴- دڅیرنې په جریان کې دنبوي احادیثو تخریج او دهغوی د درجې بیانول.

۵- په کتابتونو کې د ځينو کتابونو د نشتون پر مهال مې پلټنه کړې چې له مكتبة الشاملة استفاده وکړم او يا هم په انټرنټ کې د اصلی کتاب پی ډی اف بڼه پيدا کړم او بيا له هغه څخه اقتباس وکړم .
۶- په بحث کې مې هڅه کړې چې آسانه او روانه پښتو ژبه په کې وکاروم تر څو هر لوستونکی ته يې لوستل آسان او ورباندې وپوهيږي.
۷- د قران کريم او احاديثو نصوصو پښتو ژباړه مې د هر نص په پای کې کړې ده البته د قرآنکريم د آيتونو ژباړه مې د کابلي تفسير څخه کړېده .
۸- د مراجعو او مصادرو يادونه مې د پاڼې په پای کې نقل کړې ده.
۹- دهر عنوان په اړه مې لومړی د لغت د کتابونو، تفسيرونو او نورو مهمو کتابونو چې موضوعاتو پورې يې تړاو درلود استفاده کړې ، چې د هر مطلب په پای کې مې د شميرې په ذکر کولو او بيا د ورقې په پای کې د کتاب نوم ، جلد او صفحې په ذکر کولو سره ورته اشاره کړې ده .
۱۰- د بحث له اوږدوالي څخه د ځان ژغورنې په خاطر مې ځينې اوږده مطالب لنډ او مختصر کړې دي خوپه څنګ کې مې ورته د اړوند کتاب حواله د پاڼې په پای کې ورکړې ده.
۱۱- په بحث کې د ياد شوو علماوو لنډه پيژندنه مې د پاڼې په پای کې له حوالې سره ذکر کړې ده.
۱۲- په بحث کې چې د پيغمبرانو(عليهم السلام) اوصحابه کرامو (رضی الله عنهم) نومونه را غلي دي هغه مې نه دي معرفي کړي.

## د څيړنې د جوړښت پلان

زما دغه ليکنه په پيليزه ، دريو فصلونو ، پايلې ،وړانديزونو او لړليکونو مشتمله ده چې په لاندې ډول بيانيږي: پيليزه مشتمله ده د موضوع اهميت ، د موضوع د ټاکنې په لاملونو ، د موضوع په اهدافو ، په دی موضوع کې په مخکنيو ليکنو او د موضوع په کړنلاره.

### لومړی فصل : د خيرمفهوم اوپه قرآن کې يې اطلاقات

په لمړي فصل کې څلور مبحثونه شامل دي چې په لومړي مبحث کې د خيرلغوي پيژندنه ، اصطلاحي پيژندنه ، په دويم مبحث کې د خيرمرادفات چې عبارت دي له تقوی ، نيکی ، صلاح او خلکو ته له فايدی رسولو څخه او په دريم مبحث کې ، خير د اطلاق او تقييد په اعتبار څيرل شوی دی اوڅلورم مبحث په قرآنکريم کې د دنيوي اواخروي خيراطلاقاتوته ځانګړی شويدی.

### دوهم فصل : خيرلوري ته د بلنې قرآني کړنلاره

دوهم فصل په درې مبحثونو مشتمل دی چې په لومړی مبحث کې (خير لوري ته د قرانکريم دعوت او د هغه د ثواب بيان) بيان شوی دی په دويم مبحث کې ( خير ته په بلنه کې د قرانکريم کړنلاره ) ذکر شوې ده او په دريم مبحث کې د خير له پرېښودلو څخه د قرآن وېرونه بيان شوې ده .

دریم فصل : د اهل خیر اوصاف او د خیر ګټې

دریم فصل چې په درى مبحثونو مشتمل دى په لومړي مبحث کې (د اهل خیر اوصاف اود خیرګټې) بیان شوى دي او په دویم مبحث کې ( په قرانکریم کې د خیر دنیوى ګټې ) بیان شوى دي اوپه دریم مبحث کې (د خیراخروي ګټې) په ګوته شویدي.

همدارنګه د رسالى په لیکلو کې د خپل ګران لارښود استاد دکتور عبد الباري (حمیدي) نه نړۍ مننه کوم چې له ما سره یې د دې بحث د لیکلو پر مهال خپلې اړینې لارښونې شریکې کړې ، کور یې ودان.

ومن الله التوفیق

## لومړی فصل : د خیر مفهوم اوپه قرآن کې یې اطلاقات

### لمړی مبحث : د خیر پیژندنه

#### لمړی مطلب : د خیرلغوي پیژندنه

#### دوهم مطلب : د خیر اصطلاحي پیژندنه

# لومړی فصل

## د خیرمفهوم اوپه قرآن کې یې اطلاقات

لکه څنګه چې الله (جل جلاله) خپل بندګان په دنیوي ژوند کې د خیر ترلاسه کولواودې لارې خپلولوته په مختلفواوډول ډول لارو څخه په استفاده هڅولي دي چې د دې لارو څخه یوه هم هغوی ته د تاریخ په مختلفوپړاوونوکي د پیغمبرانو (علیهم السلام) په وسیله د الهي احکامو رسول او دوی ته د ښواوخیرد لارو په ګوته کول دي چې تول ژوند یې د همدې هدف د لاسته راوړلولپاره هڅې کړېدي چې د دوی آخري پیغمبر رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) هم دې هدف ته د رسېدلو لپاره د ژوند ترپایه هڅې ترسره کړې اوانسانیت ته یې د بري لار په ګوته کړه چې د دوی د دنیوي اواخروي بریا اوسعادت یوازینۍ لاره همدغه ده .

### لومړی مبحث : د خیرپېژندنه

په راتلونکي بحث کې د خیرلغوي او اصطلاحي مفهوم وړاندې کوم.

### لومړی مطلب : د خیرلغوي پېژندنه

د خیرلغوي مفهوم : د خیرکلمه که د حروفو په لحاظ کوچنۍ ده خو د مفهوم په لحاظ ډېره پراخه ده د دې کلیمي په ښېړنه کې د معجم الوسیط لیکوال داسې لیکلي دي : (خار) د (خیرا وخیارة ) له کلیمي څخه اخیستل شویدی چې د غوره کولو په معنی دی عرب وایی : ( خایره فی کذا ) یعنې هغه ته یې د غوره کولو اختیار ورکړ دا هم وایي: (خیربین الاشیاء) ([1]) یعنې ځینې څیزونه یې د نورو په مقابل کې غوره کړل .

همدارنګه : خیرکرم شرف اصل اوطبیعت ته هم ویل کېږي.[(2)]

ابن منظورافریقي[3] په خپل کتاب لسان العرب کې داسې لیکلي دي. خیرد شرضد ته ویل کېږي اوجمع یې خیورده.

داسې ویل کېږي ( خِرْتَ یا رجل فأَنتَ خائِرٌ وخارَالله لك) یعنې تاغوره کړته اختیارلرې اوالله (جل جلاله) تاته اختیاردرکړی دی، عرب وایي : (فلانة الخَیْرَةُ من المرأتین وهي الخَیْرَةُ والخِیَرَةُ والخُوْرَی والخِیرى

---

[1] ابراهیم مصطفی ، أحمد الزیات حامد عبدالقادر محمد النجار، المعجم الوسیط ، ، تحقیق: مجمع اللغة العربیه ، چاپ ځای دارالدعوة ،دټوکونوشمیر: ۲ د ټوک ګڼه ۱ ، د پاڼې ګڼه ۲۶۴.

[2] المعجم الوسیط ، ،ج ۱ ص ۲۶۴.

[3] - ابن منظور: محمد بن مکرم بن علي ابوالفضل جمال الدین بن منظور الانصاري الأفریقي دی چې د رویفع بن ثابت الأنصاري له اولادې څخه شمیرل کیږي ،په طبراس کې په ۶۳۰هـ کې تولد شوی او په مصر کې په ۷۱۱ هـ کې وفات شوی ده ، له مشهورو کتابونو څخه یې (لسان العرب) دی . وګوره : زرکلي ،خیر الدین بن محمود بن محمد ،ألاعلام ،دټوک ګڼه۷،دپاڼی ګڼه ۱۰۸، ۱۵ چاپ ،چاپ کال ۲۰۰۲م چاپ ځای : دارالعلم الملایین.

وخارَهُ على صاحبه خَيْراً وخِيَرَةً وخَيَّرَهُ فَضَّله ) يعنې فلانۍ ښځه د دوه نورو ښځوڅخه غوره او ښهتره ده اوهغه شخص يې په خپل ملګرى غوره وګڼه . اود خيركلمه مشدده اومخففه دواړه راځي لكه داسي ( رجل خَيْرٌ وخَيِّرٌ وامرأَة خَيْرَةٌ وخَيِّرَةٌ ) يعنې:غوره اوبهتره سړى اوغوره اوبهتره ښځه اوجمع يې (أَخْيارٌ وخِيَارٌ) راځيپه دې اړه چې خيارد كومې كلمې څخه مشتق شويدى دعربوله دې ويناڅخه (هذا خِيار الشيء ، وهؤلاء خِيارُ الناس وأخيارهم. وتخيّرتُ هذا الشيءَ ) يعنې داغوره شى دى اوداغوره كسان دي اودا شى مې غوره كړهمدارنګه عرب وايي (إبلٌ خيارٌ) يعنې غوره اوښان (وقوم أخاير) يعنې غوره قومونه أخايرد خيرجمع ده عربوته ځكه خيارويل كيږي چې خيارد دوى د يوې قبيلې پلاروؤ.

همدارنګه عرب وايي ( فلانٌ حَسَن الخِيرِ)( [1]) يعنې فلانى شخص د خير خاوند دى.

## دوهم مطلب : د خيراصطلاحي پيژندنه

**خيرپه اصطلاح** كې **:** ( الخيراسم جامع لكل ما يقرب إلى الله من الأعمال الصالحة صغيرها وكبيرها ).(2)

يعنې : خيرد هغه ټولو لويواوكوچنيوصالحوعملونويوجامع نوم دى چې الله تعالى ته د قرب اونژديوالي لامل ګرځي.

زما په نظر د خيرلپاره غوره تعريف همدا دى ځكه چې نوموړى تعريف د خيرټولو ډولونوته شامل دى.

اويا هم الخير: (اسم لكل ممدوح ومرغوب فيه . والخير : الكرم .). ([3])

يعنې : خيرهرهغه څه ته ويل كيږي چې په زړه پورې اوستايل شوى وي خير، كرم ته هم ويل كيږي.

خير دا ډول هم تعريف شويدى (الخير وجدان كل شيء كمالاته اللائقة والشر ما به فقدان ذلك والخير يعم الدعاء إلى ما فيه صلاح ديني او دنيوي فينتظم الأمر بالمعروف والنه ي عن المنك). ([4])

يعنې : خيرپه يوشي كې د ټولومناسبوكمالاتوجمع كېدلوته ويل كېږي چې د شرپه وسيله نوموړي كمالات له مينځه ځي او خيردعاته هم ويل كيږي ځكه په دعاكې ديني اودنيوي صلاح وي چې دا بيا امربالمعروف اونهى عن المنكرته شامليږي.

---

[1] ابن دريد ، أبو بكر محمد بن الحسن ، الاشتقاق ، تحقيق : عبد السلام محمد هارون ،چاپ ځاى : مكتبة الخانجي - القاهرة / مصر - چاپ وار : دريم ، د ټوكونوشمير:1د پاڼي ګڼه ،٨٩

[2] السعدي، عبد الرحمن بن ناصر، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان ،تحقيق : عبد الرحمن بن معلا اللويحق ،چا پ ځاى: مؤسسة الرسالة لومړى چاپ 1420هـ -2000 م د ټوكونوشمير : 1 د ټوک ګڼه ١، د پاڼې ګڼه ١٢٨

[3] ا بن الجوزي ، جمال الدين أبي الفرج عبد الرحمن ، نزهة الأعين النواظر في علم الوجوه والنظائر ، تحقيق : محمد عبد الكريم كاظم الراضي ، چاپ ځاى : مؤسسة الرسالة - لبنان / بيروت – 1404 هـ - 1984 م ، لومړى چاپ ، د ټوكونوشمير: 1 د پاڼي ګڼه ٢٨٥

[4] نزهة الأعين النواظر في علم الوجوه والنظائر ، ج ١ ص ٢٨٥

**دوهم مبحث : د خير مرادفات**

**لمړی مطلب :تقوی**

**دوهم مطلب: نيکي**

**دريم مطلب : صلاح**

**څلورم مطلب : نفع ( فايده رسول )**

## دوهم مبحث : د خيرمرادفات

که چېرته د خيرمراد فاتوته وکتل شي ډېرزيات دي په راتلونکي بحث کې به د مثال په توګه څونمونوته په لنډه توګه اشاره وشي ترڅو له يوې خوا د موضوع په روښانتيا کې مرستندوی شي اوله بلې خوا تريوحده پورې د بحث د اوږوالي مخه ونيول شي.

## لومړی مطلب : تقوی

**د تقوی لغوي پيژندنه :** (وقى له يقي وقيا وقاية اوواقية) څخه اخيستل شويدی د حمايت ساتنې اوحفاظت په معنی دی عرب وايي (وقاه الله من السوء ووقاه السوء) (1) يعني الله (جل جلاله) دې يې له بدو څخه وساتي اوځان يې له بدو څخه وساته.

(2) الله (جل جلاله) فرمايلي دي (فَوَقَاهُمُ الله شَرَّ ذَلِكَ الْيَوْمِ)

ژباړه : نو وبه ساتي دوی لره الله (په سبب د حسناتود دوی) له شره سختئ د دې د دغې ورځې.

اويا وقي له (وَقَاهُ يقيه وقْياً) په فتحې او(وِقايَةً)(3) څخه په کسره باندې اخيستل شوی دی معنی يې ده صانه يعني هغه يې وساته اوله ضررڅخه يې وژغوره دهغه حمايت اوحفاظت يې وکړاوهغه د ده په حفاظت کې دی اوله دې جملې څخه د الله (جل جلاله) دا قول هم دی **(مالهم مِن الله من واقٍ)** أَي مِن دَافِعٍ(4)

ژباړه: اونه به وي دوی ته له عذابه د الله تعالی څخه هېڅ ساتونکی يعني بې له سزا ورکولوڅخه به يې نه پرېږدي.

اوياهم تقوی په لغت کې د ځان ساتنې او وقايې په معنی ده.

## د تقوی اصطلاحي پيژندنه :

تقوی په اصطلاح کې داسې تعريف شوېده : (هو الاحتراز بطاعة الله عن عقوبته وهو صيانة النفس عما تستحق به العقوبة من فعل أو ترك والتقوى في الطاعة يراد بها الإخلاص وفي المعصية يراد به الترك والحذر وقيل أن يتقي العبد ما سوى الله تعالى إلى وقيل المحافظة على آداب الشريعة وقيل مجانبة كل ما يبعدك عن الله تعالى وقيل ألا ترى في نفسك شيئا سوى الله وقيل آلا ترى نفسك خيرا من أحد وقيل ترك ما دون الله والمتبع عندهم هو الذي أتقي متابعة الهوى وقيل الاهتداء بالنبي عليه السلام قولا وفعلا). (5)

---

1 المعجم الوسيط ج ٢ ص ١٠٥٢.

2 الانسان ١١.

3 أبو الفيض ، الملقّب بمرتضى ، الزَّبيدي محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني ، تاج العروس من جواهر القاموس، تحقيق مجموعة من المحققين، چاپ ځا ی ، دار الهداية ، د توکونوشمير 40 ج ٤٠ ص ٢٢٦.

4 الرعد ٣٤.

5 الجرجاني ، علي بن محمد بن علي ، التعريفات للجرجاني، تحقيق : إبراهيم الأبياري، چاپ ځای : دار الكتاب العربي – بيروت، د چاپ کال ، ١٤٠٥ ص ٩٠.

يعني : د الله (جل جلاله) د اطاعت په وسيله د هغه د عذاب څخه ځان ساتل اويا تقوى د نفس ساتل د هغه څه څخه چې هغه د عذاب وسيله وي چې د هغه کارد کولواويا هم نه کولوامرشوى وي او په طاعت کې له تقوى څخه هدف اخلاص دى اوپه معصيت اوګناه کې د تقوى څخه مراد د هغه کارڅخه ځان ساتل دي.

اوياهم تقوى دې ته ويل کېږي چې له الله (جل جلاله) څخه پرته له نورو څخه ځان وساتل شي.

اويا هم تقوى د شريعت په آدابو محافظت ته ويل کېږي.

اويا هم تقوى د هرهغه څه څخه ځان ساتلوته ويل کېږي چې د الله (جل جلاله) څخه د لرې کېدلو سبب ګرځي. چاويلي دي چې تقوى د ې ته ويل کېږي چې په خپل نفس کې د الله (جل جلاله) څخه پرته بل هېڅوک ونه ګورې. چاويلي دي چې تقوى دا ده چې خپل ځان د هېڅا څخه غوره ونه ګڼې.

اويا هم تقوى داده چې له الله (جل جلاله) څخه پرته ټول پرېښودل شي اود دوى په نزد متبع هغه چاته ويل کېږي چې دخپلونفسي خواهشاتو او غوښتنوڅخه ځان وساتي.

اويا هم تقوى قولا او فعلا په پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) پسې اقتداء کولوته ويل کېږي.

اوياهم (حفظ النفس عما يؤثم بترك المحظور وبعض المباحات).[1]

يعني د ځان ساتل له هغه څه څخه چې د ګناه سبب ګرځي د منع شوواوځينومباحوکارونوپه پرېښودلوسره.

## دوهم مطلب : البر ( نېکي )

**د بر(نيکي) لغوي پيژندنه :** البِرُّ په لغت کې د عقوق يا نافرمانى ضد ده همدا رنګه (المَبَرَّةُ) هم داسې دى عرب وايي (بَرِرْتُ والدي د را په کسرې سره أبرَّهُ بِرّاً فأنا بَرٌّ به و بَارٌّ) يعني د خپل پلار اطاعت مې وکړاوزه له هغه سره د نيکي کوونکوله جملې څخه يم، اود برجمع ( أبْرارٌ) د ( البَارِّ)جمع (بررة ) راځي همدارنګه عرب وايي (أبْرارٌ وجمع البَارِّ بررة) [2] يعني نيکان اود بارجمع بررة راځي.

ابن فارس[3] په په خپل کتاب کې د دې کلمې په لغوي څېړنه کې داسې ليکلي دي.(برّبا او را) څلوراصول لري لومړى رېښتيا ويل،دوهم حکايت الصوت،دريم د بحرخلاف چې وچه ده او څلورم نبات ته ويل کېږي هرچې صدق اورېښتيا ويل دي لکه د عربو دا قول (صدَق فلانٌ وبَرَّ، وبَرَّتْ يمينه ، وأَبَرَّها) يعني

---

[1] المناوي, محمد عبد الرؤوف,التوقيف على مهمات التعاريف, تحقيق : د محمد رضوان الداية: چاپ ځاى : دار الفكر المعاصر - بيروت , دمشق:لومړى چاپ ، 1410د ټوکونو شمير: ١ ، ص ٢١٦.

[2] الرازي, محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر, مختارالصحاح: , تحقيق : محمود خاطر, چاب ځاى : مكتبة لبنان ناشرون – بيروت: نوى چاپ ، چاپ کال ، 1415 – 1995:د ټوکونو شمير : 1, ص ٧٣.

[3] - أحمد بن فارس بن زكريا د (مقاييس اللغة) تأليف کوونکى او يو د لغت او ادب له ائمه وو څخه شميرل کيږي ، له مشهورو کتابونو څخه يي ( تمام الصفيح ) او ( جامع التأويل ) دي. وګوره :وفيات الأعيان، د ټوک ګڼه ١، د پاڼى ګڼه ١١٨، تحقيق :احسان عباس ، چاپ ځاى :دارصادربيروت

فلاني شخص ریښتیا وویل او هغه خپل قسم پوره کړاو په صداقت یې په خپل قسم وفا وکړه ، اوهرچې حکایت الصوت دی عرب وایي (لا یَعْرِفُ هِرّا من برّ) هر د پسونو را بللوته ویل کیږي بر د اوبه کولو په وخت کې په پسونوباندې نارو وهلو ته ویل کیږي. اودریم اصل چې د بحرخلاف دی عرب وایي (وأَبَرَّ الرّجلُ) یعنې په وچه کې ولاړ، (وأَبْحَر) او په بحرکې ولاړ(البرّیّة) صحراء ته ویل کیږي خوعرب یې نکره استعمالوي هغوی وایي (خرجتُ بَرّا وخرجتُ بحراً) یعنې وچې ته ولاړم اوبحرته ولاړم، اوهرچې نبات دی نود نبات څخه (البُر) یوغنم ته ویل کیږي امام اصمعي ویلي دي (أبَرَّت الأرضُ) یعنې دا هغه وخت کیږي چې له غنموزیات حاصل واخیستل شي.(1)

### د بر( نېکي ) اصطلاحي پېژندنه

(البر بالكسر أي التوسع في فعل الخيروالفعل المرضي الذي هو في تزكية النفس كالبر في تغذية البدن ونسب تارة الى الله تعالى نحو إنه  هو البر الرحيم وتارة إلى عبده فيقال بر العبد ربه أي توسع في طاعته فمن الله الثواب ومن العبد الطاعة ويكون في الاعتقاد وغيره).(2)

ژباړه : یعنې برد با په کسرې د خیرپه کارکې توسع ته ویل کیږي اود خیرکارد نفس په تزکیه کې داسې رول لري لکه څنګه چې غذا د بدن په تزکیه کې رول لري ځینې وخت د برنسبت الله (جل جلاله) ته کیږي لکه  (إنه هوالبرالرحيم) اوکله هم بنده ته لکه (بر العبد ربه أي توسع في طاعته) یعنې: بنده د الله (جل جلاله) په اطاعت کې زیات کوشش وکړنو نېکي د الله (جل جلاله) له لوري ثواب ورکولوته ویل کیږي او د بنده له لوري د الله (جل جلاله) اطاعت ته ویل کیږي او بریا نېکي په عقیدوي اونورو برخو کې شتون لري.

اویا هم (كل ما تقرب به إلى الله عز وجل من عمل خير فهو أنفاق). یعنې: براونېکي هرهغه نیک عمل ته ویل کیږي چې د هغې په وسیله یوڅوک الله (جل جلاله) ته نژدې کیږي چې دا نېک عمل د انفاق له جملې څخه هم شمېرل کیږي.

اویا هم (البِرُّ خير الدنيا والآخرة فخيرالدنيا ما ييسره الله تبارك وتعالى للعبد من الهدى والنِّعْمَةِ والخيراتِ وخَيْرُ الآخِرَةِ الفَوْزُ بالنعيم الدائم في الجنة) .(3)

---

1 زکریا أبو الحسین أحمد بن فارس , معجم مقاییس اللغة:: المحقق : عبد السلام محمد هارون: چاپ ځای : دار الفکر، چاپ کال : 1399هـ - 1979م.د ټوکونو شمیر: 6، دټوک ګڼه ۱ د پاڼي ګڼه (۱۷۷ ــ ۱۷۹)

2 التوقيف على مهمات التعاريف ص ۱۲۲ .

3- ابن منظور, محمد بن مكرم بن منظور الأفريقي المصري, لسان العرب چاپ ځای : دار صادر - بیروت لومړی چاپ ، د ټوکونو شمیر : 15، د ټوک ګڼه ۴ د پاڼي ګڼه ۵۱

يعني : نېکي د دنيا او آخرت خيرته ويل کېږي هرچې د دنيا خير دی هغه دې ته ويل کېږي چې الله (جل جلاله) خپل بنده ته د هدايت، نعمت اوټولو ښو کارونو لاره آسانه کړي او هرچې د آخرت خيردی هغه په جنت کي د همېشنيو نعمتونو لاسته راوړل دي.

## دريم مطلب : صلاح

### د صلاح لغوي پېژندنه

صلاح لـه (صَلَح يَصْلَحُ ويَصْلُح صَلاحاً وصُلُوحاً) څخه ا خيستل شويدی د فساد ضدته ويل کېږي اوجمع يې (صُلَحاءُ وصُلُوحٌ وصَلُح) راځي عرب ځيني وخت په صالح سره ډېر شي ته اشاره کوي لکه (مَغَرَتْ في الأَرض مَغْرَةٌ من مطرهي مَطَرَةٌ صالحة) ([1])

يعني په ځمکه کي باران زيات شوچي دا ډېربنه باران دی.

### د صلاح اصطلاحي پېژندنه

(الصلاح هو سلوك طريق الهدى، اويا هم هو استقامة الحال على ما يدعو إليه العقل والصالح المستقيم الحال في نفسه، اوياهم القائم بما عليه من حقوق الله وحقوق العباد والكمال في الصلاح منتهى درجات المؤمنين ومتمنى الأنبياء والمرسلين) (2)

يعني صلاح د هدايت په لاره تللوته وايي.

يا هم يعني صلاح په هغه حال استقامت ته ويل کېږي چې عقل د هغه په لوري بلنه کوي اوصالح شخص په خپل حال استقامت کوونکي ته ويل کېږي.

ياهم د الله (جل جلا له) او بندګانو په حقوقو درېدلوته صلاح ويل کېږي اوپه صلاح کې د کمال درجې ته رسېدل د مؤمنانولپاره انتهايي درجه ده همدې درجې ته رسېدل د پيغمبرانواو انبياؤ (عليهم السلام) آرزو او غوښتنه هم ده.

ابن حجر[1] صلاح په لاندي توګه تعريف کړېده :

(الصلاح صفة تشمل خلال الخير، ولذلك كررها كل منه م عند كل صفة، والصالح هو الذي يقوم بما يلزمه

---

[1] ـ لسان العرب ج ۲ ص ۵۱۶

[2] الكفومي،أبو البقاء أيوب بن موسى الحسيني ، معجم في المصطلحات والفروق اللغوية ، تحقيق: عدنان درويش - محمد المصري، چاپ ځای: مؤسسة الرسالة - بيروت ، چاپ کال 1419هـ - 1998م، ص ۸۸۶.

من حقوق الله وحقوق العباد، فمن ثم كانت كلمة جامعة لمعاني الخير) [2]

يعني صلاح هغه صفت ته ويل کيږي چې د خيرتولوبرخوته شامل دی په همدې سبب په هرصفت کې تکراريږي اوصالح هغه شخص ته ويل کيږي چې د الله (جل جلاله) اوبندګانوحقوقو ته پاملرنه کوي په همدې سبب د خيرد ټولومعانيونغښتونکې ده.

ياهم الصلاح هيئة لازمة لشرف ونحوه ([3]

يعني صلاح د شرف لپاره اړينه اوضروري ده.

## څلورم مطلب : نفع

### د نفعې لغوي پېژندنه

نفع نون فاءعين د (نفعه ينفعه نفعا و منفعة) څخه ا خيستل شويدی د ضرر او زيان په خلاف دلالت کوي عرب وايي (انتفعه بکذا) [4] يعني د هغه شي څخه يې فايده وا خيستله.

(النفع ضد الضريقال نفعه بكذا فانتفع به) [5] يعني نفع د ضررضد ته ويل کېږي داسې ويل کېږي د فلاني شي څخه يې ګټه وا خيستله او هغه ته يې ګټه ورسېدله.

د لسان العرب ليکوال د نفع د مادې په اړه دا سې ليکلي دي (في أَسماء الله تعالى النافِعُ هو الذي يُوَصِّلُ النفْعَ إِلى مَن يشاء من خلْقه حيث هو خالِقُ النفْعِ والضَّرّ والخيْرِ والشرِّ والنفْعُ ضِدُّ الضرِّ نَفَعَه يَنْفَعُه نَفْعاً ومَنْفَعةً) [6]

يعني د الله (جل جلاله) په نومونوکې د نافع معنى داده چې الله (جل جلاله) هغه ذات دی چې د خپلو مخلوقاتو له جملې څخه يې چې چاته خوښه شي هغه ته نفعه اوفايده رسوي ځکه الله (جل جلاله) د نفعې

---

1 احمد بن علي بن محمد كناني عسقلاني ابوالفضل شهاب الدين چې په ابن حجر مشهورد ی د علماؤاو مؤرخينوله جملې څخه دی په اصل کې د عسقلان دی چې د فلسطين له مربوطاتوڅخه دی په قاهره کې پيدا شويدی اوپه همدې قاهره کې وفات شويدی چې د ډېروتاليفاتوخاوند دی. وګوره الزركلي ، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس، الدمشقي (المتوفى : 1396هـ)
چاپ ځای : دار العلم للملايين ، د ټوک ګڼه ۱، د پاڼي ګڼه ۱۷۸.

2 ابن حجر, أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي, فتح الباري شرح صحيح البخاري چاپ ځای : دار المعرفة - بيروت ،چاپ کال : 1379 د ټوکونو شمير ۱۳،د ټوک ګڼه ۷ د پاڼي ګڼه ۲۱۰ .

3 التعاريف للمناوى ۱۲۸.

4 ابن فارس ، أبو الحسين أحمد بن زكريا، معجم مقاييس اللغة ، تحقيق عبد السلام محمد هارون، دار الفكر، چاپ 1399هـ - 1979م. عدد الأجزاء : ۶ ج ۵ ص ۲۷۱ .

5 مختارالصحاح ص ۶۸۸.

6 لسان العرب ج ۸ ص ۳۵۸.

ضرز خيراوشرپيداکوونکي دی اونفعه نَفَعَه يَنْفَعُه نَفْعاً ومَنْفَعَةً څخه اخيستل شوېده د ضررضد ته ويل کيږي.

## د نفعي اصطلاحي پېژندنه

(النفع وصول موافق الجسم الظاهر وما يتصل به في مقابلة الضر) [1]

يعني : د ضررد دفع کولولپاره ظاهري جسم ته د هغه د موافق شي رسېدلوته نفعه ويل کيږي.

اوياهم (النفع ما يستعان به في الوصول إلى الخيرات وما يتوصل به إلى الخير خير وضده الضر).[2]

يعني: نفعه له هغه شي څخه عبارت ده چې له يوشخص سره نېکيوته په رسېدلوکې مرسته کوي اود کوم شي په وسيله چې يوشخص خيرته رسيږي هغه خيراوغوره دي چې ضد يې له شرڅخه عبارت دی.

---

[1] التعاريف ص ٧٠٨.

[2] التعاريف ص ٧٠٨

## دریم مبحث : خیر د اطلاق اوتقیید په اعتبار

### لمړی مطلب :  مطلق خیر

### دوهم مطلب :  مقید خیر

## دریم مبحث : خیر د اطلاق او تقیید په اعتبار

په راتلونکي بحث کې خیراطلاق اوتقیید په بڼه چې د قرآنکریم په مبارکوآیاتونو کې دواړه ډوله خیر راغلی دی څېړل شویدی.

### لومړی مطلب : مطلق خیر

په لومړي سرکي به د مطلق تعریف او ورپسي هغه مبارک آیاتونه چې په هغه کې خیرپه مطلق ډول ذکرشویدی وړاندې شي.

المطلق مادل على الحقيقة بلاقيد. ([1])

یعني مطلق له هغه شي څخه عبارت دی چې بغیرد کوم قید له ذکرکولوڅخه په حقیقت باندې دلالت وکړي.

کله چې په قرآنکریم کې د خیرلفظ په مطلقه توګه ذکرشي په دې کې د هغونعمتونو په لوري اشاره شوېده چې د الله (جل جلاله) له لوري خپلو بندګانوته ورکړل شویدي اوهغه نعمتونه په دنیا او آخرت کې د الله (جل جلاله) د بندګانو لپاره د سعادت او نېکمرغۍ وسیله ده چې په دې اړه الله (جل جلاله) داسې فرمایلي دي **(وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ)** (2)

ژباړه : اوکه په تحقیق دوی ایمان راوړی وای اوپرهېزیې کړی وای (له سحره اویهود یته نوهرومرو(خامخا) ثواب له طرفه د الله څخه ډېرغوره دی (له دې سحراورشوت د تورات په تحریف) که وی دوی چې پوهېدلی (په بهترۍ د «تورات» نوسحربه یې نه زده کاوه اوله پاک الله څنې به وېرېدل اوله مناهیوبه لرې کرځېدل).

له دې مبارک آیت څخه هدف دادی که د یهودو ډله ایمان راوړي اوله سحرڅخه خپل ځانونه وساتي نوکوم ثواب چې د الله (جل جلاله) له لوری دوی ته ورکول کیږي هغه د دوی لپاره له سحرڅخه غوره دی اوثواب د عمل جزا همدارنګه اجرته ویل کیږي. (3)

په دې مبارک آیت کې د خیرلفظ نکره ده مطلق ذکرشویدی یعني: د الله (جل جلاله) له لوري ثواب اګرکه کم هم وي هغه د ټولو ناروا کارونو څخه لکه سحرغوره دی.(4)

---

[1] العثيمين ، محمد بن صالح بن محمد (المتوفى : 1421هـ) الأصول من علم الأصول ، چاپ ځای : دار ابن الجوزيد چاپ کال : 1426هـ ص ۴۴۱.

[2] البقره ۱۰۳.

[3] : السمرقندي, أبو الليث نصر بن محمد بن إبراهيم الفقيه الحنفي , تفسير السمرقندي ( بحر العلوم), تحقيق: د.محمود مطرجي, چاپ ځای : دار الفكر - بيروت ،د ټوکونو شمیر۳، دټوک ګڼه ۱ ، دپاڼي ګڼه ۱۰۷.

[4] : ابن عرفة الورغمي أبو عبد الله محمد بن محمد , تفسير ابن عرفة , تحقيق : د. حسن المناعي، چاپ ځای : مركز البحوث بالكلية الزيتونية - تونس – لومړی چاپ , چاپ کال: 1986 م , د ټوک ګڼه ۱ ،دپاڼي ګڼه ۳۸۹.

يادا چې په دې مبارک آيت کې دې ټکي ته اشاره شوېده که چېرته يهود د سحر پرځای په پيغمبر(صلی الله عليه وسلم)اوياهم خپل کتاب باندې حقيقي ايمان راوړي چې په هغه کې د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم)د راتګ بشارات ذکرشويدي اودوی ته د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) د متابعت امرشويدی په خپل کتاب عمل او هغه د حدودو محافظت اوساتنه وکړي له هغه شي څخه ځان وساتي چې د عصيان اوسرکشۍ په سبب مجرمين ورسره مخامخ کېږي نود صحيح ايمان او صالح عمل په نيجه کې د الله (جل جلاله) له لوري ثواب د دوی لپاره د ټولوهغو منافعو څخه چې دوی د مخالفت په نتيجه کې ترلاسه کړي وي غوره او بهتره دی، بيا الله (جل جلاله) وويل **(لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ)** يعنې دوی چې په کومو اباطيلو کې لګيا دي او په ډول ډول تآويلاتو يې خپل کتاب ته را جع کوي دوی صرف د خپل ګومان مطابق عمل او په تقليد اعتماد کوي د دوی هيڅ شی هم د هېڅ ډول علم سره مطابقت نلري که چېرته دوی د صحيح علم مطابق عمل کولای د هغه اثرات به د دوی په اعمالوکي ترسترګو شوي وای په پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) به يې ايمان راوړی وای او د هغه (صلی الله عليه وسلم) پيروی به يې کولای چې په نتيجه کې به دوی هم کاميابي ترلاسه کړې وای.(1)

همدا ډول الله (جل جلاله) په بل مبارک آيت کې فرمايلي دي **(إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ)** (2)

ژباړه : بېشکه صفا اومروه (چې په مکه کې دوه غرونه دي) له نخښو(دعبادته) د الله (جل جلاله) څخه دي نوهرڅوک چې اراده د حج وکړي د بيت الله تعالی يا اراده د عمرې وکړي نونشته هېڅ ګناه په ده باندې په دې کښې چې طواف وکړي په دې دواړو، اوهرڅوک چې وکړي په خپله خوښه څه نېکي نوبېشکه الله شکرقبلوونکی، ښه عالم دی.

په دې مبارک آيت کې د خير لفظ نکره ده چې د عموم افاده کوي.

حسن بصري[3] (رحمه الله) ويلي دي چې د خيرڅخه بغيرله فروضوڅخه لکه لمونځ، زکات، طواف او د طاعاتوټول ډولونه مراد دي.(4)

---

[1] محمد رشيد بن علي رضا ، تفسيرالمنار چاپ ځای : الهيئة المصرية العامة للكتاب, د چاپ کال : 1990 م ,د ټوکونوشمير ١٢، دټوک ګڼه ١، دپاڼي ګڼه ٣٣٦

[2] البقره ١٥٨

[3] - حسن بن يسار البصری ، أبوسعيد ، په کال ٢١هـ ق کې په مدينه منوره کې تولد شوی دی ، نوموړی د بصری د خلکو امام وو ، او په بصره کې په کال ١١٠هـ ق کې وفات شوی دی . وګوره الاعلام للزرکلي ج ٢ ص ٢٢٦.

[4] مظهری محمد ثناء الله ,تفسير المظهری , تحقيق : غلام نبی تونسی, چاپ ځای : مکتبة رشديه المطبعة : باکستان , چاپ کال : 1412 هـ د ټوک ګڼه ١ ، د پاڼې ګڼه ١٥٥

په بل مبارک آیت کې الله  (جل جلاله) فرمایلي دي **(إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ فَإِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا)** [1]

ژباړه : که ښکاره کوی تاسې خیر(نېکي یا طاعت) یا پټوئ دغه (خیر) یا عفوه کوئ ! له بدی (چې ظلم دی) نوبېشکه الله (هم) دی ښه عفوه کوونکی (دگنه گارانوسره له قوت اوقدرته) ښه قادر(په عذاب د ظالم اوثواب د مظلوم اونورو).

ابن عباس (رضی الله عنه) ویلي دي چې له خیرڅخه نېک اعمال لکه روژه او صدقه مراد او مقصد دي. [2]

په پورتني مبارک آیت کې دې تکي ته اشاره ده چې خیرښکاره کول هغه که قولي وي یاهم فعلي یایې پټول او یا د بدو په مقابل کې ښېگنه کول چې الله (جل جلاله) خپل بندگان نوموړوکارونوته هڅولي دي او ښه بدله ورکوي الله (جل جلاله) ښه کارخوښوي او د بدو کارونو ترسره کوونکوته عفوه کوي همدا د الله (جل جلاله) له لوري له خپلو بندگانو سره وعده ده چې عفوه کوونکو او له نورو سره ښېگنه کوونکو ته اجراو ثواب ورکوي الله (جل جلاله) د دې  قدرت هم لري چې گنهگارانو ته په دنیا اوآخرت کې جزا ورکړي خولکن د عفوې ځای یې تعین کړیدی د آیت په پای کې الله (جل جلاله) څومره ښه الفاظ جمع کړیدي چې عفوه او قدرت دی **(فَإِنَّ اللهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا )** په دې کې دې خبرې ته اشاره شوېده چې د انتقام اخیستلو قدرت درلودل د عفوې مانع نه  شي جوړېدای او د الله (جل جلاله) په اخلاقوځان مزین ښایسته کول ښه او نېک کاردی چې خپل بندگان یې هم دې نکتې ته متوجه کړېدي نو په عفوه کې خیربرکت او احسان دی.[3]

دلته هم د خیرکلمه نکره ده چې په عموم باندې دلالت کوي.

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(قُلِ اللهم مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ** شيءٍ **قَدِيرٌ)**[4]

ژباړه : ووایه (ای محمده!) یا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د باچاهی!) ورکوې ته سلطنت هرهغه چاته چې اراده وکړې (یا الله د ورکولویې) اوبېرته اخلي سلطنت له هرهغه چاڅنې چې اراده وکړې (د

[1] النساء ۱۴۹.

[2] الأندلسي محمد بن يوسف الشهير بأبي حيان , تفسير البحر المحيط , تحقيق : الشيخ عادل أحمد عبد الموجود - الشيخ علي محمد معوض شارك في التحقيق 1) د.زكريا عبد المجيد النوقي2) د.أحمد النجولي الجمل , چاپ ځای : دار الكتب العلمية - لبنان / بيروت ، چاپ کال 1422 هـ - 2001 م ,د ټوکونو شمیر 8 دټوک گڼه۴، دپاڼې گڼه ۱۱۸.

[3] الزحيلي وهبة بن مصطفى , التفسير الوسيط :چاپ ځای : دار الفكر دمشق , چاپ کال : 1422 ق ، د ټوک گڼه ۱،د پاڼې گڼه ۴۰۵.

[4] آل عمران ۲۶.

ببرته اخيستويي) اوعزت ورکوې هرهغه چاته چې چې اراده وکړې (ياالله د عزت يې) اوخوارذليل کوې هرهغه څوک چې اراده وکړې (د ذلت يې،) په لاس (د قدرت) ستا (هرراز) خير(ښېګڼې) دي ښېشکه ته «يا الله» پرهرشي باندې (چې اراده وفرمايې) ښه قادريې. هم په ورکولوهم په اخيستلوهم په عزت هم په ذلت).

الف او لام د خير په کلمه کې د عموم افاده کوي نو معنی دا شوه چې ستا په قدرت باند ټول خيرات او برکات حاصلېږي اوبهترين خيرات د الله (جل جلاله) پېژندنه او په هغه ايمان راوړل دي او خيرخپله هم د الله (جل جلاله) لوري خلق شويدی نه د بل چا له لوري.[1]

قتادة[2]( رحمه الله ) فرمايي مونږ ته ويل شويدي چې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) الله (جل جلاله) ته سوال وکړترڅو الله (جل جلاله) د فارس او روم پاچاهي د ده امت ته ورکړي نو د الله (جل جلاله) له لوري پورتنی آيت نازل شو چې په دې کې د الله (جل جلاله) د قدرت ځيني دلايل ذکرشويدي چې هغه مالک الملک مغني اومانع دی د خپلو بندګانوله جملې څخه چاته پاچاهي اونبوت ورکوي لکه چې د ابراهيم (عليه السلام) د آل په اړه الله (جل جلاله) فرمايي **(أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَى مَا آتَاهُمُ اللهُ مِنْ فَضْله فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُمْ مُلْكًا عَظِيمً)** [3]

ژباړه : بلکه آيا حسد کوي دغه (يهودان) خلقوسره (له محمد اواصحابوسره يې) پرهغه شي چې ورکړي دي هغوته الله (جل جلاله)له فضل (احسان رحمت) خپل، نوپه تحقيق ورکړی دی مونږ اولادې د ابراهيم ته کتاب (تورات، زبور، انجيل) اوحکمت (شرعي علوم، ژورې (اوچتې) خبرې) او ورکړی دی مونږ دوی ته سلطنت ډېرلوی.

اوځينوکسانوته صرف د دنيا پاچاهي ورکوي لکه اوسني او پخواني پاچاهان اوله هغه چا څخه چې د الله (جل جلاله) خوښه شي د دوی د ظلم فساد او بد سياست په سبب پا چاهي اخلي لکه له ډېرو اشخاصو څخه يې چې ا خيستې ده همدا ډول چاته چې د الله (جل جلاله) خوښه شي عزت ورکوي اوڅوک ذليلوي عزت اوذلت په مال او پا چاهئ کې شتون نه لري څوک چې له عزت يا ذلت سره مخامخ وي هغه صرف د الله (جل جلاله) په اراده ورسره مخامخ شوی وي ټول خير يواځې د الله (جل جلاله) په لاس او

---

1 رازی ، الإمام العالم العلامة والحبر البحر الفهامة فخر الدين محمد بن عمر التميمي الرازي الشافعي, ( مفاتيح الغيب } چاپ ځای : دار الكتب العلمية بيروت,چاپ کال 1421هـ - 2000 م , دټوکونو شمير 32 ،دټوک ګڼه ۸ ، د پاڼې ګڼه ۱۰۵.

2 - قتادة ابن دعامة بن قتادة بن عزيز په کال ۶۱هـ ق کې په بصره کې تولد شوی دی ، يو د لويو مفسرينو له جملی څخه شميرل کيږی ، امام احمد بن حنبل رحمه الله دده په هکله فرمايې : قتاده د بصری د تکړه حافظانو له جملی څخه وو او په حديثو باندی يې هم علم درلود او په کال ۱۱۸ هـ ق کې د طاعون مرض له وجی مړ شو. وګوره : الاعلام للزرکلی ، ج۵، ص ۱۸۹.

3 النساء ۵۴.

اراده کې دی هرهغه څه چې شوي یاهم کېږي هغه د الله (جل جلاله) د خیراو نعمت څخه خالي نه وي په داسي توګه چې یا خپله د انسان لپاه اویا هم د نورو انسانانو لپاه په هغه کې خیر نغښـــتی وي الله (جل جلاله) په ټولو شیانو د کامل قدرت درلودونکي هیڅ کارنه ترسره کوي مګرد خپل عدل حکمت او مصلحت پربناء يې ترسره کوي.(1)

له پورتني بحث څخه دا څرګنده شوه چې الله (جل جلاله) د خپل مقدس کتاب په ځینو آیاتونو کې د خیر لفظ په مطلق ډول ببله کوم قید څخه ذکرکړیدی او دې ټکي ته پکې اشاره شوېده چې د خیرساحه اومفهوم د انسانانو په ژوند کې ډیرې پراخه او ژورې اړیکې لري که انسانان د خیرکارونه د خپل ژوند په ټولو اړخونوکې عملي کړي نو په نتیجه کې به د دوی د دنیا او آخرت د سرلوړی او کامیابۍ سبب او ذریعه شي.

## دوهم مطلب : مقید خیر

په دې مطلب کې به لومړي د مقید تعریف اوبیا هغه آیتونه راوړل شي چې خیرپه مقیده توګه پکې ذکرشویدی.

المقیَّد : (هو ما دل على الحقيقة بقيد. كالرقبة المقيَّدة بالإيمان)(2) في قوله تعالى: {فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ}(3)

یعني : مقید له هغه حکم څخه عبارت دی چې په حقیقي معنی باندې د یوقید د ذکرکولو په وسیله دلالت کوي لکه د غلام آزادول چې په ایمان سره د الله په لاندې قول کې ذکرشویدی.{فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ} (4)

ژباړه : اوهرڅوک چې مړکړي کوم مؤمن په خطاء سره نوشته پرقاتل آزادول د غاړې (د مريي) مؤمن

یعني مقید له هغه شي څخه عبارت دی چې د یوقید په وسیله په حقیقي معنی باندې دلالت وکړي لکه د رقبې آزادول چې د ایمان لرلو په شرط د الله (جل جلاله) په پورتني قول کې مقیده شوې ده.

د قرآنکریم په ځینو مبارکوآیاتونوکې د خیرلفظ په مقید ډول ذکرشویدی لکه چې الله (جل جلاله) په لاندې مبارک آیت کې فرمایلي دي **(وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ)**(5)

ژباړه : اوقسم دی خامخا که ووژلی شوئ تاسي په لاره د الله کښې یا مړه شوئ تاسي ( په لاره د الله کښې چې طاعت دی) نوخامخا مغفرت له جانبه د الله اورحمت (مهرباني د الله) خیر(ډېربښه) دی له هغو(مالونو) چې دوی يې جمع کوي.

---

1طنطاوی د. محمد سيد ( شيخ الأزهر ) , التفسير الوسيط للقرآن الكريم د ټوکونو شمیر: 15 ،د ټوک ګڼه ۱ د پاڼي ګڼه ( ۱۸۴ ۱۸۵)

2 صبحي الصالح ,مباحث في علوم القرآن چاپ ځای : دار العلم للملايين ،چاپ کال: 2000 ,د ټوکونو شمیر: ۱، دپاڼي ګڼه ۲۵۳.

3 النساء ۹۲.

4 النساء ۹۲.

5 آل عمران ۱۵۷.

په ذکرشوي آيت کې خيرپه رحمت او مغفرت باندې مقيد شويدی الله (جل جلاله) خپلو بندګانوته دا په ډاګه کړېده چې په سفروتل او په غزا کې شرکت کول د مرګ وسيله او سبب نه دي که يوکـــــــس د الله (جل جلاله) په لارکې د تورې په وسيله په شهادت ورسېږي د الله (جل جلاله) کوم رحمت اومغفرت چې د شهادت په پايله کې ترلاسه کوي د هغه څه څخه چې په دنيا کې يې جمع کوي او الله (جل جلاله) په لارکې له نه وژل کېدو څخه غوره او بهتره دي.[1]

په بل مبارک آيت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لهمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الانـهر خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِنْ عِنْدِ الله وَمَا عِنْدَ الله خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ)**[2]

ژباړه : ليکن هغه کسان چې وېرېږي دوی له ربه خپله شته دوی لره جنتونه چې بهېږي له لاندې د (ونواومانيود) هغوويالي تل به وي دوی په هغو(جنتونو) کښې په دې حال کښې چې (دغه جنتونه ځای د) مېلمستيا يوپېشکشي) ده له (جانبه د) الله، اوهغه (باقي شی) چې په نزد د الله دي خير(ډېرغوره) دي له پاره د نېکانو.

په دې مبارک آيت کې د خيرلفظ ترهغه څه پورې چې د الله (جل جلاله) په وړاندې لکه جنت اود هغه نعمتونه چې دا هم صرف د متقيانو لپاره دي او د بل هيچا لپاره نه دي مقيد شويدی د آيت معنی دا شوه چې کوم کسان چې د الله (جل جلاله) اطاعت کوي او له منهياتو څخه ځان ساتي د هغوی لپاره داسې جنتونه دي چې لاندې به ترې ويالې بهېږي خوراکونه او سيوري به يې همېشه وي چې دا پايله د متقيانو لپاره ده د کافرانو لپاره پايله د جهنم اوردی تردې وروسته کوم څه چې تردې هم ډېرښه دي د هغه نېکانو لپاره تيارشويدي چې د دوی په اعمالوکې اخلاص شتون ولري اوکوم عذاب چې د کافرانو لپاره آماده شويدی هغه شراو بد دی.[3]

همدا رنګه د خيرلفظ په قرآنکريم کې په تقوی باندې هم مقيد شويدی لکه چې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ الله وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ)**[4]

---

1 أبو العباس ,أحمد بن محمد بن المهدي بن عجيبة الحسني الإدريسي الشاذلي الفاسي, البحر المديد في تفسير القرآن المجيد, تحقيق : أحمد عبد الله قرشی رسلان,چاپ ځای : قاهرة , چاپ کال : 1419 هـ , د ټوکونو شمير**6** د ټوک ګڼه ١ ،د پاڼې ګڼه۴۲۶.

2 آل عمران ١٩٨ .

3 حجازی ، دکتور محمد محمود ، التفسيرالواضح ، چاپ ځای : دار الجيل الجديد ،د ټوکونو شمير : 3 ، دټوک ګڼه١ ، د پاڼې ګڼه ٣٢٨.

4 البقرة ١٩٧.

ژباړه : (وخت د) حج (څو)میاشتي معلومې دی نو هرچا چې فرض کړ(په خپل ځان) په دې میاشتوکې حج نونه دې کوي جماع (اونه دواعي د هغې) اونه ګناهونه اونه جګړې په (ورځو) د حج کښې. اوهرڅه چې کوئ (تاسې) له نیک کارځنې نوپوهیږي په هغه باندې الله (جل جلاله) اوتوښه واخلئ (له ځانوسره) نوبېشکه بهتره د توښې ځان ساتل دي له سواله او ووېرېږئ! له ما ځنې ای خاوندانود (صافو) عقلو!.

دا مبارک آیت د یمن د اوسېدونکو په اړه نازل شویدی چې د حج په موسم کې به یې له ځانه سره مکې مکرمې ته د خوراک لپاره توښه نه راوړه او دا به یې ویل (نحن متوکلون) چې په مکه مکرمه کې به یې بیا سوال کاوه الله (جل جلاله) دوی ته وویل (**وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى**)[1]

ژباړه : اوله ځان سره توښه واخلئ ځکه چې بهترینه توښه د سوال اونوروڅخه د غوښتلوڅخه د ځان ساتل دي .

په دې مبارک آیت کې الله (جل جلاله) خپلو بندګانو ته امر کړیدی چې د تقوی توښه خپله کړي ځکه تقوی بهترینه توښه ده چې تاسې سلامتیا اوعافیت ته رسوي. [2]

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلاله) فرمایلي دي (**أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللَّهِ أَوْ أَشَدَّ خَشْيَةً وَقَالُوا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا الْقِتَالَ لَوْلَا أَخَّرْتَنَا إِلَى أَجَلٍ قَرِيبٍ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيلٌ وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ لِمَنِ اتَّقَى وَلَا تُظْلَمُونَ فَتِيلًا**)[3]

ژباړه : آیا نه دي کتلي تا (نه دی رسېدلی تاته حال د) هغوکسانوچې وویل شول دوی ته ونیسئ تاسې لاسونه خپل (له جنګه په مکه کښې) اوقائموی (سم اداء کوئ سره له ټولوحقوقو) تاسې لمونځ او ورکوئ! تاسې زکوة! نوکله چې (په مدینه کښې) فرض کړشوپه دوی باندې (له کفاروسره) جنګ په دې وخت کښې یوه ډله له دوی نه وېرېدله له خلقونه په شان د وېرې (د دوی) له الله نه بلکه ډېرزیات له جهته د وېرې او ویې ویل دوی ای ربه زمونږه! ولې دې فرض کړپه مونږ باندې جنګ، ولې دې ورسته نه کړومونږ ترهغې نېټې نژدې پورې وواېه ای محمده! دغوورېدونکوته) متاع (فائده) د دې دنیا ډېره

---

[1] البغوي محيي السنة ، أبو محمد الحسين بن مسعود ,معالم التنزيل تحقيق : محمد عبد الله النمر - عثمان جمعة ضميرية - سليمان مسلم الحرش ,چاپ ځای : دار طيبة للنشر والتوزيع خلورم چاپ :1417 هـ - 1997 م ,دټوکونو شمیر : 8 ، د ټوک ګڼه ١ ، د پاڼې ګڼه ٢٢٥ .

[2] محمد علي السايس , تفسير آيات الأحكام ,چاپ ځای : المكتبة العصرية للطباعة والنشر , چاپ کال : 2002 ، د ټوکونو شمیر : 1 ، د ټوک ګڼه ١ د پاڼې ګڼه ١١٨.

[3] النساء ٧٧.

لړه ده اوآخرت ډېرغوره دی هغه چاته چې وېرېږي (له الله نه )، اوظلم به ونه کړی شي پرتاسې (په اندازه) د يوه ډېرنري تار.

په دې مبارک آيت کې د خيرلفظ ترمتقيانو پورې مقيد شويدی همدوی ته يې نسبت شويدی نو د آخرت خيرصرف د متقيانو لپاره دی د آيت معنی دا شوه چې د جنت نعمتونه همېشه دي او د هغه چا لپاره غوره دي چې د الله (جل جلاله) څخه وېره ولري د هغه اوامر عملي کړي لکه جهاد او دا سې نور اګر که عملي کول يې سخت هم وي. (1)

همدا ډول د خير لفظ په قرآنکريم کې په مال پورې هم مقيد شويدی لکه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي: **(وَإِنه لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ)**(2)

ژباړه : اوبېشکه دا (انسان) په مينه محبت د مال کښې خامخا زيات قوي ډېرسخت دی.

امام فراء[3] ويلي دي د دې معنی دا شوه چې انسان مال خوښوي اومال انسان ته ډېرمحبوب دی. (4)

همدا رنګه د خيرلفظ په قرآنکريم کې په ښو اوجيدو آسونو پورې هم مقيد شويدی لکه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَوَهَبْنَا لِدَاوُودَ سُلَيْمَانَ نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ (30) إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصَّافِنَاتُ الْجِيَادُ (31) فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ)** (5)

ژباړه : اوومونږبښه داود ته سليمان، چې ښه بنده ؤ بېشکه چې دی ډېررجوع کوونکی دی (الله ته). کله چې وړاندې کړی شوپه ده باندې په ده باندې په آخرد ورځې کښې هغه ګړندي خاص آسونه په دريوپښوولاړاود يوې سوې نوکه يې په ځمکه لګولې نووويل (سليمان) بېشکه زه چې يم غوره مې کړه مينه د آسونوپه ذکرد رب خپل ترهغه پورې چې پټ شو(لمر) په پرده کښې.

په پورته مبارکوآيتونوکې آسونوته خيرويل شويدي چې د دې سبب په آسونوکې د خير شتون دی ځکه چې آسونه د جهاد آله ده. (6)

---

1 البحرالمحيط ج۳ ص ۷۱۵ ۷۱۶.

2 العاديات ۸.

3 - يحی بن زياد بن عبدالله بن منظور الديلمی په کال ۱۴۴هـ په کوفه تولد شوی د کوفينو امام او په لغت او نحو کې يې لوی لاس درلود او په کال ۲۰۷هـ کې د مکې په لار کې وفات شوی دی د مشهورو کتابونو څخه يې المقصور والممدود او المعانی دی . وګوره سيرأعلام النبلاء ج ۲ ص ۱۳.

4 محمود الألوسي أبو الفضل , روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ,چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي – بيروت ، د ټوکونو شمير : 30،د ټوک ګڼه ۱۵ ، دپاڼې ګڼه ۴۴۲.

5 ص ( ۳۰ _ ۳۲ )

6الديرزوري ، عبد القادر ملاحويش آل غازی الفراتي، تفسير بيان المعاني ، چاپ ځای : مطبعة الترقی دمشق ,چاپ کال : 1382 ق ، د ټوک ګڼه ۱ ، د پاڼی ګڼه ۳۱۱.

پيغمبر(صلی الله علیه وسلم) هم د آسونو په اړه فرمايلي دي (الخيل معقود فی نواصيها الخيرالی يوم القيمة)[1]

يعنې د قيامت تروروځې پورې د آسونو په تندي کې خيرشتون لري.

د دې حديث مصداق اوس هم ظاهردی ځکه چې د ډول ډول کشتيو طيارو او موټرو د شتون سره بيا هم په اوسني وخت کې له آسونو څخه استغناء ناممکنه ده.

په بل مبارک آيت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نَصْبِرَ عَلَى طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ)**[2]

ژباړه : او(ياد کړئ !) هغه وخت چې وويل تاسې ای موسی! هېڅکله صبرنشوکولی مونږپرطعام يو(قسم د من اوسلوی) باندې پس وغواړه زمونږلپاره له خپل پروردگارنه چې را وباسي مونږته له هغوشيانوڅخه چې زرغونوي يې ځمکه له سابو(ساګو) د دې اوله بادرنګو(ترو) د دې اوله هوږې (ياغنمويا نخودو) د دې اوله نسکود دې اوله پيازو د دې نو وويل (موسی) آيا بدلوی! (اخلی!) تاسې هغه شی چې هغه نا کاره دي په هغه شي چې هغه ډېرغوره دي (کله چې موسی داسې وکړل نو) کوزشئ (د شام له تيه نه ) يوه ښارته پس ښېشکه تاسې ته تاسې ته دي هغه شی چې غواړی يې اومقرر کړی شوپردوی (د نعمت د کفران اوپه خپل قسمت د نارضايئ په سبب) ذلت اومحتاجي اواخته شول دوی په غضب له (جانبه د) الله دا (خواري اوعاجزي) په سبب د دې وه چې ښېشکه دوی ؤ کافران (منکران) په آيتونو(احکامو) د الله او وژل به يې انبياء (لکه شعيب، زکريا اويحيی) په ناحقه سره دا (کفراوقتل) په دې سبب ؤچې سرکشي يې کوله (له احکامود الله نه ) او وو دوی چې له حدودو به تېرېدل ( د عصيان په سبب).

په ذکرشوي آيت کې د خيرلفظ د افضل معنی افاده کوي چې دا معنی هم د آيت له مفهوم څخه څرګندېږي اومراد ورڅخه من اوسلوی دي.

د آيت معنی دا شوه چې تاسې پياز اوړه نسک د من اوسلوی په بدل کې غواړی په داسې حال کې چې من اوسلوی ستاسولپاره غوره دي.[3]

---

[1] صحيح مسلم ج ٣ ص ١٤٩٣ د حديث شميره ١٨٧١، باب الخيل في نواصيها الخير إلى يوم القيامة.

[2] البقرة ٦١.

[3] ابياری ، إبراهيم الإبياری ، الموسوعة القرآنية ، چاپ ځای : موسسة سجل العرب ، چاپ کال : 1405 ق، د توک ګڼه ٩ ، دپاڼې ګڼه ٨٥.

همدا ډول الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ)** [1]

ژباړه : يئ تاسې (ای محمدي امته!) خير(بهترد هرهغه) امت چې اېستلی شوی دی د پاره د خلقوچې حکم کوی تاسې (هرچاته) په معروف (نېکۍ) سره . اومنع کوی تاسې (هرڅوک) له منکر(بدۍ) ځنې اوايمان لری په الله باندې (په دوام اوثبات سره)،اوکه ايمان راوړی وی اهل د کتابونو(په قرآن اومحمد نو) خامخا به ؤ (دا ايمان بهتر) خيردوی لره، ځيني له دوی څخه مؤمنان دي اوزيات د دوی فاسقان دي (نا فرمانان متمردان په کفر).

په دې مبارک آيت کې د خيرلفظ ترايمان اوخلکوته ترنفعې رسولوپورې مقيد شويدی د آيت معنی دا شوه چې تاسې په لوح محفوظ ياهم د الله (جل جلاله) په علم يا په پخوانيو امتونوکې او يا هم د خلکو لپاره غوره خلک ياست بيايې د امت د غوره والي سبب بيان کړيدی**(تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ)**همدا رنګه يی اهل کتاب ايمان راوړلوته هم دعوت کړيدي **(ولوآمن)** يعنې دا چې که چېرته اهل کتاب ستاسې په شان ايمان راوړي نوايمان راوړل د دوی لپاره له اوسني حالت څخه غوره دی اوځينويې ايمان هم راوړي لکه عبدالله بن سلام اوملګري يې خواکثريت د دوی په خپل کفراو فسق کې سرکشي کوونکي دي. [2]

په بل مبارک آيت کې د خيرلفظ د فعل ترعاقبت او پايلې پورې مقيد شويدی چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَإِذْ قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إنه هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ)**[3]

ژباړه : او(ياد کړئ) هغه وخت چې وويل موسی قوم خپل ته ای قومه زما! بېشکه تاسې (چې ياست) ظلم کړی دی تاسې پرځانونوخپلوپه سبب د نيولو د تاسې خوسی (سخی) لره (په خدايی سره ) پس توبه وباسئ (ټول) خالق د تاسې ته نو ووژنئ ځانونه خپل دغه (ځان وژل) ستاسې بهتردي تاسې تّه په نزد د خالق د تاسې پس قبوله يې کړه توبه ستاسې! بېشکه الله هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان دی (په توبه کوونکو).

د آيت معنی دا شوه چې ای پيغمبره (صلی الله عليه وسلم) بني اسرائيلوته د موسی (عليه السلام) د هغه نصيحت يادونه وکړه چې دوی ته يې داسې وويل د خوسکي د عبادت په سبب تاسې خپل ځان ته تاوان ورساوه اوکوم اجراوثواب چې د الله (جل جلاله) له لوري ستاسولپاره تيارشوی ؤ هغه مو له لاسه

---

[1] آل عمران ۱۱۰.

[2] البحرالمديد ، ج ۱ ص ( ۳۹۳ - ۳۹۵)

[3] البقرة ۵۴.

ورکړچي دا واقعه د اعراف اوطه په سورتونوکي په تفصيل سره ذکرشوېده نو هغه ذات ته توبه او رجوع وکړئ چي تاسي يي پيدا کړي ياست او ځيني شکلونه اوصورتونه يې يو له بل سره مختلف ګرځولي دي د الله (جل جلاله) په دې قول کې **(الى بارئكم)** کې د دوی د جهل نهايي درجې ته اشاره ده ځکه چې دوی د الله (جل جلاله) عبادت پرې ايښی ؤ او د يو غبي حيوان عبادت يې کاوه چې هغه غويي ؤ چاچې د خوسي عبادت نه دی کړی هغه دې مجرمان قتل کړي او په **(أَنْفُسَكُمْ)** يې ځکه اشاره وکړه چې مؤمن د مؤمن ورور دی د يو کس ورور خپله د ده په شان دی. (1)

1 المراغى الشيخ أحمد مصطفى ، تفسير المراغي ، چاپ ځای : شرکة مکتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبي وأولاده بمصر ،د ټوکونو شمير : 30 ، د ټوک کڼه ١ ، د پاڼو ګڼه (١١٩ ـ ١٢٠)

## څلورم مبحث : په قرآنکريم کې د دنيوي اواخروي خيراطلاقات

### لومړی مطلب : په قرآنکريم کې د دنيا حقيقت

### دوهم مطلب : په قرآنکريم کې د دنيوي خيراطلاقات

### درم مطلب : په قرانکريم کې د آخرت حقيقت

### څلورم مطلب : په قرآنکريم کې د اخروی خيراطلاقات

## څلورم مبحث : په قرآنکریم کې د دنیوي او اخروي خیراطلاقات

### لومړی مطلب : په قرآنکریم کی د دنیا حقیقت

ډیر ځله الله (جل جلاله) په قرانکریم کی ددنیا یادونه کړې ده چې د انسان لپاره د ابتلاء او امتحان ځای دی او فاني او له منځه تلونکي ده چې د انسان لپاره یوه وسیله ده ترڅوله دې وسیلې څخه په استفاده د حقیقی ژوند لپاره چې اخروی ژوند دی خپل ځان اماده کړي او له دنیا څخه د یوې وسیلې په توګه استفاده وکړي او هیڅکله دنیا ته د اصلي مقصد او هدف په ستر ګه ونه ګوري د لغت علماوو د دې لفظ په څیرنه کی داسې لیکلي دي..

دنیا د ( دَنآ) ( يَدْنُو ) ( دُنُوًّا ) فهو ( دَانٍ ) څخه اخیستل شوېده د قرب اونژدېوالي په معنی ده و( دَانَيْتُ بين الأمرين) [1] یعني دوه شیان مې یوله بل سره نژدې کړل.

یاهم (دنأ) په نارينه وکي خسيس اوبد سړي ته ويل کيږي الدُّونُ هغه چاته ويل کيږي چې خېته يې خرابه وي یاهم بېکاره اوړوته ويل کيږي اوجمع يې (أَدْنِياءُ ودُنَآءُ) راځي او(نَأَ يَدْنَأُ دَناءةً فهو دَانِئٌ) یعنې هغه ډېربد دی او( دَنُؤَ دَنَاءةً ودُنُوءةً صارَ دَنيئاً لا خَيْرَ فيه وسَفُلَ في فعْله ) [2] یعنې: هغه ډیربېکاره شی دی چې هېڅ خیرپکې نشته اوډیربدکاریې یې وکړ.

نوله دی څخه دا معلومه شوه چې دنیا د الله په وړاندی هیڅ ارزښت نلری او داسې یوه متاع ده چې ژر له مینځه تلونکی ده هیڅ کله بقاء نلری .

همدارنګه د قرانکریم په ډیرو مبارکو آیتونو کی همدی ټکی ته اشاره شوی چې الله (جل جلاله) آخرت له دنیا څخه غوره بللی دی الله (جل جلاله) فرمایي **(وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ)** [3]

ژباړه : اونه دی حیات دنیوي (ژوندون لږخسیس) مګرلوبې (د هلکانو) اوساعت تیري (د لېونیانو) دی اوخامخا درا آخرنی خیر(بهتر) بهتردی د پاره د هغوکسانوچې پرهېزګاري کوي نوآیا عقل نه چلوئ تاسي (چې دنیا ښه ده که عقبی؟ چې ایمان راوړی!).

په دی مبارک ایت کې الله (جل جلاله) خپلو بندګانو ته دا یادونه کوي او دوی ته وعظ او نصیحت کوي چې ای زما بندګانو چې تاسې متوجه اوسئ او د دنیا په لذتونو دوکه نشی ځکه د دنیا نعمتونه زائلیدونکي دي او دا داسې دي لکه چې یو څوک ساتیري او بازي کوي او ده ته د دې ساتیری لذت نه پاتې کیږي

---

[1] الفیومي ، أحمد بن محمد بن علي المقري ، المصباح المنیر، چاپ ځای : المكتبة العصرية ، د ټوک ګڼه١، د پاڼي ګڼه ١٠۶ .

[2] لسان العرب ،ج١، ص ٧٧.

[3] الانعام ٣٢.

هر چې آخرت دی هغه غوره او ښه دی دهغه کسانو لپاره چې د شرک شر او ګناهونو څخه ځان وساتي نو څه سبب دی چې فاني او زائلیدونکي ته مخ اړوونکي یاست[1]

امام سمر قندي[2] په دې اړه داسې لیکلي دي : د دنیا ژوند د ماشومانو د لوبو په شان دي چې یوه بناء جوړه کړي او بیا یې بیرته ړنګوي او مسخرې ورباندې کوي داسې څه جوړوي چې په کې نه اوسیږي او داسې ارزوګانې لري چې هغه ته نه رسیږي اوبیا یې ویلي دي چې آخرت یعنې جنت غوره دی د هغو کسانو لپاره دی چې د شرک او ګناهونو څخه یې ځان ساتلی وي. [3]

په بل آیت کی الله (جل جلاله) د دنیا ژوند ته متاع ویلی ده الله (جل جلاله) فرمایي **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ)** [4]

ژباړه : ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی « یعني ای مؤمنانو**!**» څه باعث دی په تاسې کله چې وویل شي تاسې ته چې ووځئ تاسې په لاره د الله کښې «غزاته» درانه «اومائل» کیږی ځمکې ته اوغزا ته نه ځی آیا راضي شوي یی تاسې په دې حیات دنیوي «ژوندون لږخسیس تېرودونکي» له نعمتونود آخرت نه اونه دي نفع اخیستل د دې حیات دنیوي «ژوندون لږخسیس» په «مقابل د نعمتونود» آخرت کې مګرلږ«حقیر» دي.

امام طبري [5] د دې آیت په تفسیر کې لیکي الله (جل جلاله) وایي آیا تاسې د آخرت د نعمتونو په مقابل کې په خپلو دنیوي برخوباندې خوښ یاست او هغه څه چې الله (جل جلاله) په جنت کې د متقیانو لپاره آماده کړي دي **(فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا)** الله (جل جلاله) وایي د کوم دنیوي ژوند او لذتونو څخه چې تاسې استفاده کوی د آخرت د هغو نعمتونو او کراماتو په مقابل کې چې الله (جل جلاله) د خپل ا طاعت کوونکو او اولیاؤ لپاره تیار کړي دي ډیر کم دي الله (جل جلاله) خپلو بندګانو ته وایی: ای مؤمنانو تاسې د جنت د

---

[1]جزائری ، جابر بن موسى بن عبد القادر بن جابر أبو بكر الجزائري ,أيسر التفاسير لكلام العلي الكبير ، چاپ ځای : مكتبة العلوم والحكم، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية ،پنځم چاپ ، چاپ کال : 1424هـ/2003م،د ټوک ګڼه۲، دپاڼو ګڼه ( ۵۱- ۵۲)

[2] - نصر بن محمد بن أحمد بن ابراهيم ، ابوالليث الفقيه سمرقندی په امام الهدی سره مشهور او فقيه ، امام ، مفسر ، محدث او حافظ وو د مشهورو تالیفاتو څخه یې ( تفسير القران ) ( عمدة العقايد ) او داسې نور دی او په کال ۳۷۳هـ ق کې وفات شوی دی. وګوره : الاعلام للزركلي ج ۲ ص ۱۶۷

[3] بحر العلوم ، ج۱، ص (۶۴- ۶۵).

[4] التوبة ۳۸.

[5] - محمد بن جرير بن يزيد بن كثير الأملى الطبري أبوجعفر ، په بغداد کې تولد شوی او په ۳۱۰ هـ کې په نوموړي ځای کې وفات شوی دی ، د مشهورو تالیفاتو له جملې څخه یې ( تفسير الطبري ، كتاب التاريخ ، تهذيب الأثار ) او داسې نور دي . وګوره : أبوالفداء ، اسماعيل بن عمر بن كثير ، البداية والنهاية ، چاپ کال ۱۴۰۷هـ ، چاپ ځای: دار الفكر ، دټوکونو شمیر۱۵، دټوک ګڼه ۱۱ ، دپاڼی ګڼه ۱۴۵.

نعمتونو او د کرامت هغه شرف دلاسته راوړلو لپاره هڅه وکړي چې الله (جل جلاله) د خپلو اولياؤ او دوستانو لپاره آماده کړي دي .[1]

الله (جل جلاله) فرمايلي دي آيا تاسې د آخرت د ثواب په مقابل کې د دنيا په منافعو باندې خوشحاله ياست **(فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا)** ځکه د دنيا ژوند ختميدونکی دی او په مقابل کې د آخرت ژوند هميشه دی .[2]

په بل مبارک ايت کې الله (جل جلاله) د دنيا ژوند ته دغرور وسيله ويلې ده الله (جل جلاله) فرمايي **(فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ)**[3]

ژباړه : بېشکه وعده د الله رښتياده (د بعث، د حساب، د جزا وعده) پس نه دې غره کوي تاسې خامخا دغه ژوندون لږخسيس! اونه دې غره کوي خامخا تاسې په (عفوه اوکرم د) الله (جل جلاله) هيڅ غره کوونکی.

الله (جل جلاله) فرمايی د دنيوي ژوند لذتونه او زينت دې تاسې دوکه نکړي چې هغه ته ميلان وکړی او د الله (جل جلاله) دعذاب څخه د خلاصون لپاره آمادګي پريږدی.[4]

نو معنی دا شوه چې د دنيا د ژوند لذتونه ، زينتونه او اوږد عمر تاسې په غرور کې نه اچوی او انسي او جني شيطان دې تاسې دې ته نه اماده کوي چې الله (جل جلاله) د حلم او کرم خاوند دی او بيا به تاسې توبه وباسی الله (جل جلاله) به مو وبښي او ډول ډول ګناهونه تاسې ته ښايسته کړي او ګناه ته مو تشويق کړي نو تاسې متوجه شئ ځکه له مرګ څخه خلاصون نشته او نا څاپه راځی نو الله (جل جلاله) خپلو بندګانو ته دا نصيحت کوي چې تاسې توبه وباسئ .[5]

## دوهم مطلب : په قرانکريم کې د دنيوی خير اطلاقات

که چېرته د الله (جل جلاله) کتاب ته مراجعه وشي د خيرلفظ په د نيوي اواخروي دواړومعانيو باندې استعمال شويدی چې په را تلونکي بحث کې به په قرآنکريم کې د خيردنيوي معاني يا هم اطلاقات په مفصله توګه ترڅېړني لاندې ونيول شي اود نوموړی مطلب په اړه به د قرآنکريم د مبارکوآياتونو په رڼاکي بحث وشي.

---

1 جامع البيان في تفسير القرآن للطبري اسم المصنف : أبي جعفر محمد بن جرير الطبري (224 - 310) عدد الأجزاء :١٢ دار النشر : دار هجر. تحقيق : د /عبد الله بن عبد المحسن التركي. ج۴، ص ( ٢٥٢- ٢٥٣.)

2 أبو الحسن علي بن محمد بن حبيب الماوردي البصري ,( تفسير الماوردی ) النكت والعيون, تحقيق : السيد ابن عبد المقصود بن عبد الرحيم ،چاپ ځای : دار الكتب العلمية - بيروت / لبنان –دټوکونو شمير 6 ،د ټوک ګڼه ٢، د پاڼي ګڼه(٢٦٢-٢٦٣)

3 لقمان ٣٣.

4 تفسير الطبری ج١٨، ص ٥٨٢.

5 ايسر التفاسير . ج۴، ص٢١٩.

## لومړی اطلاق : خیر د ایمان په معنی

د قرآنکريم په مبارکوآيتونوکي د خيرلفظ ځيني وخت  د ايمان په معنی باندې استعمال شويدی چې په دې اړه الله تعالی د انفال په سورت کی فرمايلي دي **(وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ)** [1]

ژباړه : اوکه معلوم وی الله ته په دوی کې څه خيرنوخامخا اوروِلی به يې وی دوی «په سماع قبول سره» اوکه اوروِلی وی دوی ته (الله سره له دې چې ورمعلوم دی دا چې په دوی کې هېڅ خيرنشته) نوهرومرو(خامخا) به ګرځېدلي وو دوی حال دا چې دوی به ځنګ کوونکي وو(له قبوله د حق عنادا اوانکارا).

د آيت معنی داشوه چې که چيرته الله (جل جلاله) دې کنو او ګونکيانو کې خير يعني ايمان راوړلو لپاره آمادګي او له هغه څه سره مينه  چې د دوی نفسونه  او زړونه  پرې اصلاح کيږي ليدلی نو دوی ته به يې د قرآن د اوريدلو توفيق ورکړی وای چې پرې وبوهيږي او تدبر په کې وکړي يعني دوی به حق اوريدلای وای او هغه به يې قبول کړی وای لکن الله (جل جلاله) په دوی کې داسې څه نه  ويني نو خير يې له دوی څخه د دوی د بدې آمادګی په نتيجه کې پټ کړ . [2]

الله (جل جلاله) وايي که چېرته الله (جل جلاله) په دوی کې صداقت ليدلای نو دوی ته به يې د ايمان راوړلو توفيق ورکړی وای او دوی ته به يې د اسلام کرامت ورکړی وای دوی به له ايمان څخه بيرته ګرځيدلي او مرتد شوی وای هغه چې د الله (جل جلاله) په ازلي علم کې د دوی په اړه موجود دی. [3]

په بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايی **(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ)** [4]

ژباړه : ای نبي! ووايه ته هغه چاته چې په لاسونوستاسوکښې دي له بنديانو(قيديان) که معلوم کړي الله په زړونوستاسې کې کوم خير«ايمان» نودربه کړی تاسې ته خير«بهتر،غوره» له هغه مال چې اخيستی شويدی له تاسي نه  اومغفرت به وکړي تاسي ته، اوالله ښه بښونکی «د خطياتو» ډېررحم والا دی «د اجراوثواب په انعام سره».

---

[1] الانفال ۲۳.

[2] التفسير الوسيط ، ج۶، ص ۷۱.

[3] بحر العلوم ، ج۲، ص۱۴.

[4] الانفال ۷۰.

**(إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ)** يعني : که الله (جل جلاله) ستاسو په زړونو کې په صادق ایمان او کامل اخلاص پوهیدلای نو کوم د فدیې مال چې له تاسې څخه اخیستل شوی له هغه څخه غوره شی چې ایمان دی الله (جل جلاله) به تاسې پرې مشرف کړي وای . (1)

امام رازي[2] د دې آیت په تفسیر کې لیکلي دي : دا لازمه ده چې له دې خیر څخه هدف ایمان اوپه ټولو تکالیفو کې د الله (جل جلاله) او رسول (صلی الله علیه وسلم) په اطاعت باندې پابندي او له کفر او له ټولو ګناهونو څخه توبه وویستل شي . (3)

همدارنګه د هود په سورت کې الله (جل جلاله) فرمایلي دي: **(وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ)** (4)

ژباړه : اونه وایم زه تاسوته چې ما څخه څه خزاني د الله دي اونه وایم (داچې) پوهېږم په غیب باندې (په علم الیقین سره) اونه وایم زه چې ښځکه زه پرښته یم اونه وایم زه په حق د هغو(فقیرانومؤمنانو) چې سپک ورته ګوري سترګې ستاسې چې له سره به ورنکړي دوی ته الله هېڅ خیر، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چې په نفسونود دوی کې دی، (که زه د هغه ووایم) نوزه په دغه وخت کې خامخا له ظالمانوڅخه به یم.

دلته په دې مبارک آیت کې مراد له خیر څخه ایمان او هدایت دی چې د دنیا او آخرت د کامیابۍ وسیله ده . (5)

کافرانو به د مؤمنانو او د دوی د ایمان په اړه ویل چې که چیرې دا دین او قرآن حق وای نو په قبلولو کې به یې زمونږ څخه ضعفاء ، فقیران او غلامان ، شپانه لکه صهیب ، بلال مخکې شوي نه وای ځیني قبیلې لکه جهینه [6]، مزینة [7] ،

---

1 ایسرالتفاسیر ، ج۲، ص۳۳۰.

2 - ابوعبدالله محمد بن عمر بن الحسن التیمی الرازی چی په فخرالدین سره ملقب ده ، د طبرستان په (ري) سیمه کی په کال ۵۴۴هـ کی تولد شوی ، او نوموړی د تفسیر فلسفه او علم الاصول د علماوو څخه شمیرل کیږی او دمشهورو مولفاتو له جملې څخه یې ( تفسیر الکبیر ) دی ، په کال ۶۰۶هـ کې وفات شوی دی . وګوره : الأعلام ، للزرکلي،ج۶، ص۳۱۳

3 تفسیر الفخر الرازی ،ج۱۵،ص۵۱۵.

4 هود ۳۱.

5 تفسیر المنار ، ج۱۲، ص ۵۸.

6 جهینة قبیله د قضاعة قبیلې یوه څانګه ده د اسلام تر راوړلو وروسته د دې قبیلې اوسیدونکي په کوفه، بصره اومصرکې اوسېدل اوځیني نویې په حلب اوشام په نورو ښارونوکې اوسېدل اواوس د دې قبیلې زیا تره کسان د سره بحرپه غاړه د دیره په ښارکې اوسیږي . وګوره : الاعلام للزرکلي ج ۲ ص ۱۴۲.

7 مزینه قبیله د مضر قبیلې یوه شاخه ده چې د دې قبیلې سلسله عد نانیانوته رسیږي . وګوره : کحاله ، عمر رضا ، معجم قبائل العرب القدیمة والحدیثة، چا پ خای، دار العلم للملایین بیروت، چاپ کال 1388 ه - 1968 م.

اوغفار[1] او دوی نه پوهیږي چې الله (جل جلاله) هغه څوک چې خوښه یې شي هدایت کوي او چا ته یې چې خوښه شي هغه ګمراه کوي څوک چې مستحق وي تر دې وروسته چې دوی د قرآن په وسیله هدایت تر لاسه نه کړي نو د دوی عناد ښکاره شي تر دې وروسته چې دوی د هدایت په لار برابر نشي هیڅ حجت او عذر نه لري .[2]

## دوهم اطلاق : خیرد اسلام په معنی

د قرانکریم په ځینو مبارکو آیاتونو کې خیر د اسلام په معنی راغلی دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایی **(أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ـ مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُرِيبٍ)** (3)

ژباړه : نووبه ویل شي دووپرښتوته وغورځوئ تاسي په دوزخ کې هریوکافرعناد کوونکی د خیرتیرېدونکی له حدودومشروعو، ظالم اوشک کوونکی (په دین کښې)

معنی دا شوه چې د خیر ډیروکارونو څخه خلک منع کوي لکه زکات او کوم حقوق چې پر ده باندې دي هغه نه اداء کوي او فقیرانو او خپلوانو ته هیڅ خیر نه رسوي لکه صله رحمي او صدقه او خپل خپلوان د اسلام په مبارک دین کې د داخلیدو څخه منعه کوي ، یاهم دا چې دا آیت د ولید بن مغیرة په اړه نازل شوی دی چې هغه خپل وراره له اسلام راوړلو څخه منع کاوه او ویل به یې که د تاسي له جملې څخه څوک مسلمان شي تر څو چې زه ژوندی وم هیڅ ښېګڼه به ورسره ونکړم . (4)

په بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایی **(مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ)** (5)

ژباړه : نه خوښوي (دوست نه ګڼي) هغه کسان چې کافران شوي دي له اهل کتابوڅخه اونه له مشرکانوڅخه دا خبره چې نازله کړه شي پرتاسي کومه ښه خبره (لکه وحی، نصرت) له ربه ستاسي (د حسد اورخې (کینې) له مخې) اوالله خاصوي په رحمت خپل سره هغه څوک چې اراده یې وکړي (د تخصیص په رحمت سره) اوالله څښتن (خاوند) د فضل ډېرلوی دی.

په دې مبارک آیت کې له خیر څخه هدف اسلام او نبوت دی . (1)

---

[1] غفارقبیله د کنانة قبیلي یوه شاخه ده ، د عدناني عربوله جملي څخه بلل کیږي چې د مکې په شا اوخوا کې اوسېدل. وګوره : معجم قبائل العرب القديمة والحديثة ج ۳ ص ۸۸۹.

[2] التفسير الواضح ، ج۱، ص۶۱۶.

[3] - ق ، ایت ( ۲۴-۲۵)

[4] الزحيلي د وهبة بن مصطفى , التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج],چاپ ځای : دار الفكر المعاصر بيروت ، دمشق ،چاپ کال : 1418 هـ , دټوکونو شمیر : 30 , د ټوک ګڼه ۲۶، دپاڼې ګڼه ( ۳۰۲—۳۰۳).

[5] بقره ، ۱۰۵.

### دریم اطلاق : خیر د مال په معنی

د قرانکریم په مبارکو آیتونو کې خیر د مال په معنی هم استعمال شوی دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي (**كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ**) [2]

ژباړه : فرض کړی شویدی په تاسي باندې کله چې حاضرشي یوله تاسي ته (اسباب) د مرګ که پرې ايښي يي وي څه مال، وصيت کول له پاره د موراوپلاراو(نورو) خپلوانوپه ښه انصاف سره دا حکم لازم دی پرپرهېزګارانوباندې.

د خير څخه هدف دلته د قران عظيم الشان په دې آيت کې مال دی ، دا چې څومره مال ته خير ويل کيږي په دی کې اختلاف دی على ، عائشه او ابن عباس (رضی الله عنهم) وايي چې خير ډير مال ته ويل کيږی چې (۷۰۰۰) دينارو ته دوی کم مال ويلی ، قتاده له حسن څخه روايت کړی خير زر ديناره يا له زر دينارو څخه زيات مال ته ويل کيږی ، شعبی وايی د ( ۵۰۰) دينارو څخه تر ( ۱۰۰۰ ) دينارو پورې مال ته خير ويل کيږي . [3]

په بل مبارک آيت د قران عظيم الشان کې الله (جل جلاله) فرمايي (**لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ**) [4]

ژباړه : نشته پرتا باندې (پرسمه صادقه لاره) برابرول د دوی ولېکن الله ( په سمه صافه لاره) برابروي هغه څوک چې اراده وکړي (د برابروالي يي) اوهرهغه شی چې صرفوی يي تاسي له خيره (له مالنه ) پس لپاره د نفسونو(ځانونو) ستاسي دي، اونه صرفوی تاسي (ای مؤمنانو!) مګر(صرفوی يي) خاص له پاره د طلب د رضا د الله، اوهرهغه شی چې صرفوی يي تاسي له خيره (له مال نه ) نوپوره به درکړشي تاسې ته (ثواب د هغه) اوپه تاسي به ظلم ونه کړل شي (د ثواب په کموالي سره).

د آيت معنی دا شوه چې کوم مال چې تاسي نفقه کوی الله (جل جلاله) پرې ثواب در کړي برابره ده که په مؤمن يا هم کافر خپل مال صدقه کړي ، که چيرته مو هدف د رضايت تر لاسه کول وي او الله (جل

---

1 الجوزي ، عبد الرحمن بن علي بن محمد ، زاد المسير ، زاد المسير في علم التفسير, چاپ ځای : المكتب الإسلامي – بيروت ،دريم چاپ ، 1404دټوکونو شمير: 9 ، د ټوک ګڼه۱، د پاڼې ګڼه۱۲۶.

2 البقرة ۱۸۰.

3 الجامع الاحکام القران ، ج۲، ص۲۵۹

4 البقرة ۲۷۲.

جلاله) د دې وعدې تاکید کړی دی (**وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ**) یعنې حال دا چې الله (جل جلاله) به د تاسې اجر که ډېر کم هم وي کم نکړي .[1]

په بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایی (**لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ**)[2]

ژباړه : خیراتونه ستاسې له پاره د هغوفقیرانو دي چې بند کړی شوي دي په لاره د الله (په جهاد اونوروطاعاتو) کښې چې توان نه لري دوی د ګرځېدلوپه ځمکه کې (له پاره د معاش اوتجارت د طاعت د مشغولتیا په سبب) ګمان کوي په دوی نا پوه (په حال د دوی) د غنیانوپه سبب د نه سوال کولوپه کوشش سره پېژنې به ته دوی (ای سامعه !) دوی په ځېرو(علائمود توضع اواثرد مجاهدې) د دوی سره، نه کوې دوی سوال له خلقوځنې په سختۍ (په الحاح اوکوښش) سره، هرشی چې تاسې صرفوئ (یې په هرشي کې) له خیره (له مال نه ) پس بېشکه الله په هغه باندې (هم) ښه عالم دی

دخیر څخه دلته هدف او مقصد مال دی .[3]

په بل مبارک آ یت کی الله تعالی فرمایی (**وَإِنه لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ**)[4]

ژباړه : اوبېشکه دا (انسان) په مینه محبت د مال کې خامخا سخت ډېرقوي دي.

د خیر څخه هدف مال دی او په دې کې دوه مذهبه دي :

لومړی دا چې : انسان له مال سره ډېره مینه لري .

دوهم داچې : انسان د مال د محبت په سبب بخیل او حریص دی .[5]

په بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایي (**يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلْ مَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ**)[6]

ژباړه : پوښتنه کوي له تانه (ای محمده ! مؤمنان) چې څه شی صرف کړي دوی (په لاره د الله کښې؟) ووایه (ای محمده !) هرشی (لږیا ډېر) چې صرفوئ (خرچ کوئ) تاسې له مالوڅخه نو(یې صرف کړئ) له پاره د موراوپلاراوله پاره د خپلوانواوله پاره د یتیمانو(پلارمړیو) اومسکینانو(چې څه شی نه لري)

---

[1] ایسر التفاسیر ، ج۱، ص۲۶۶.

[2] بقره ۲۷۳.

[3] ایسر التفاسیر ، د توک ګنه۲، د پاڼې ګنه۲۷۵.

[4] العادیات ۸.

[5] ابن کثیر، ج۸، ص۴۶۷.

[6] البقرة ۲۱۵،

اوله پاره د مسافرانواو هرهغه څه چې يې کوی تاسې له نېک کاره نوبېشکه چې الله په هغه باندې (لکه په نورواشياؤ) ښه عالم دی.

امام طبري د دې آيت په تفسير کې وايي ای محمده ! اصحاب له تا څخه پوښتنه کوي چې د خپل مال څخه څه شی نفقه او صدقه کړي ، دوی ته ووايه چې کوم مال نفقه او صدقه کوي نو خپلو پلرونو ، ميندو ، خپلوانو ، يتيمانو ، مسکينانو او مسافرو ته نفقه او صدقه ورکړئ نو کوم د خير کار چې تاسې کوی الله (جل جلاله) پرې عالم دی د تاسې لپاره يې ذخيره کوي تر څو د قيامت په ورځ تاسې ته پوره اجر او ثواب در کړي د هغه مال په مقابل کې چې تاسې له خلکو سره احسان کړی دی .[1]

د اعراف په مبارک سورت کې الله تعالی فرمايی **(قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ)** [2]

ووايه (ای محمده ! دوی ته) چې زه نه لرم واک د پاره د نفس (ځان) خپل د «رسولو» نفع اونه د «دفع کولود» ضررمګرهغه څه چې اراده وفرمايي الله اوکه وی زه چې پوهېدلی په (خبرود) غيب باندې نوخامخا حاصل کړی دېرله خيرځنې، اونه به ؤرسېدلی ماته کوم زيان، نه يم زه مګر«خويم» وېروونکی (د کفاروپه جحيم سره) اوزېری کوونکی د پاره د«هغه» قوم چې مؤمنان دي په نعيم سره،

ضحاک له ابن عباس څخه د دې آيت په اړه ( ولو كنت أعلم الغيب لاستكثرن من الخير) يعنی مال – او په يو روايت کې راغلي چې زه په دې پوهيدم چې کله يو شی واخلم فايده به په کې ونکړم خو په هغه کې به مې فايده کړې وه او هيڅ کله به ماته فقر نه ؤ رسيدلی [3]

په سورت فصلت کې الله (جل جلاله) فرمايي **(لَا يَسْأَمُ الْإِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ وَإِنْ مَسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ)** [4]

ژباړه: نه ستړی کېږي انسان له غوښتلود خير(اود انواعود ښېګنو) اوکه ورسېږي ورته کوم شرپس نا امېده وی دی دېرسخت (له رحمته د الله).

الله (جل جلاله) وايي انسان چې کله د خپل رب څخه د خير غوښتنه کوي چې مال او د بدن صحت دی نه ستړی کيږي او که چيرته هغه ته خير ورسيږي چې بلاء او فقر دی نو د ده په ذهن کې راګرځي چې زه خو د دې خير څخه وروسته د شر لپاره آمادګي نه لرم .[1]

---

[1] تفسير الطبرى ، ج۴، ص۲۹۱.

[2] اعراف ۱۸۸.

[3] ابن كثير ج۶، ص۴۷۸.

[4] فصلت ۴۹.

## څلورم اطلاق : خیردعافیت په معنی

د قرآنکریم په ځینو آیاتونو کې خیر دعافیت په معنی هم استعمال شوی دی لکه چې په دې اړه الله تعالی د انعام په سورت کې فرمايي (**وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**) [2]

ژباړه : اوکه ورسوي الله تاته څه سختي (لکه فقراومرض) نونشته هېڅ لرې کوونکی د هغه مګرهم دی دی اوکه ورسوي تاته څه خیر(لکه صحت اوغناء) نودی پرهرشي (چې اراده وفرمايي) بنه قادردی (نوتل خیراوشرنفع اوضررد الله په اراده رسيږي) اوهم دی غالب زوروردی د پاسه د بندګانوخپلو(په قدرت، قوت، قهر، غلبه نه په مکان) اوهم دی ښه حکمت والا ښه خبرداردی له هرشي.

نو معنی داشوه چی ای محمده ! که چیرته ته له فقر ، سختی او مرض سره مخامخ شی نو دهغه پورته کوونکی او لری کوونکی بغیر له الله (جل جلاله) څخه بل هیڅوک نشته او که چیرته الله تعالی تا ته عافیت پراخی او نعمتونه در کړی نو هغه په هر شی قادر دی لکه خیر او ضرر . [3]

نو معلومه شوه چې خیر په دې آیت کې د عافیت په معنی دی له ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت دی (**عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَلَا أَحْفَظُ حَدِيثَ بَعْضِهِمْ عَنْ بَعْضٍ أَنَّهُ قَالَ كُنْتُ رَدِيفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا غُلَامُ أَوْ يَا غُلَيِّمُ أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهِنَّ فَقُلْتُ بَلَى فَقَالَ احْفَظْ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظْ اللَّهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ تَعَرَّفْ إِلَيْهِ فِي الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلْ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ قَدْ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا هُوَ كَائِنٌ فَلَوْ أَنَّ الْخَلْقَ كُلَّهُمْ جَمِيعًا أَرَادُوا أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَإِنْ أَرَادُوا أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ عَلَيْكَ لَمْ يَقْدِرُوا عَلَيْهِ وَاعْلَمْ أَنَّ فِي الصَّبْرِ عَلَى مَا تَكْرَهُ خَيْرًا كَثِيرًا وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا**) [4]

---

[1] ابن کثیر ، ج۱۲،ص ۲۴۹.

[2] انعام ۱۷.

[3] الجامع الاحکام القران ، ج۶، ص۳۹۸.

[4] أحمد بن حنبل , مسند الإمام أحمد بن حنبل , تحقيق: شعيب الأرنؤوط ,چاپ ځای : مؤسسة الرسالة ،دويم چاپ : 1420هـ ، 1999م ، دټوکونو شمیر: 50 دټوک ګڼه ۵ ، د پاڼي ګڼه ۱۹ امام آلبانی د دي حدیث په اړه ویلي دي چي دا حدیث صحیح دی. وګوره : الألباني ، محمد ناصر الدين ،صحيح وضعيف الجامع الصغير وزيادته ،چاپ ځای : المكتب الإسلامي ، د پاڼي ګڼه ۱۳۹۲.

ژباړه : له عبدالله ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روايت دی هغه فرمايلي دي چې زه د پيغمر(صلی الله عليه وسلم) ترشا په اوښ ناست وم هغه ماته وويل اې ماشومه ! آيا زه تاسوته داسې کلمات دروښيم چې الله (جل جلاله) تاته پرې نفعه ورسوي ما وويل هوهغه صلی الله عليه وسلم) ماته وويل د الله (جل جلاله) د حدودو محافظت کوه الله (جل جلاله) به ستا حفاظت وکړي د الله (جل جلاله) د حدودوحفاظت کوه هغه به هميش له تاسره وي الله (جل جلاله) د سهولت اوپراختيا په وخت کې په يادلره هغه به تا د سختی په وخت کې په ياد ولري کله دې چې سوال کاوه له الله (جل جلاله) څخه سوال کوه اوکه دې د مرستې غوښتنه کوله نوله الله (جل جلاله) څخه د مرستې غوښتنه کوه قلمونه په هغه څه وچ شويدي چې هغه کېدونکي دي که چېرته ټول انسانان راجمع شي د دې لپاره چې تاته فايده ورسوي اوالله (جل جلاله)هغه تاته نه وي ليکلي هغوی تاته فايده نه شي رسولی اوکه وغواړي تاته تاوان ورسوي که الله (جل جلاله) هغه تاته نه وي ليکلي هغه تاته نه شي رسولی په دې باندې وپوهېږه چې کوم شی نه خوښوې په هغه باندې صبرکولوکې ډيرخيردی د الله (جل جلاله) نصرت اومرسته له صبرسره ده په غم پسې خوشحالي اوپه سختی پسې آساني وي .

له دې مبارک حديث شريف څخه په ډاګه معلومېږي چې يوچاته فايده اوضرر رسول يواځې د الله (جل جلاله) ترارادې پورې تړلي دي.

همدارنګه الله (جل جلاله) په بل مبارک آيت کې فرمايلي دي (**وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ**) [1]

ژباړه : اوکه ورسوي الله تاته کوم قسم ضرر(لکه مرض اوفقر) نونشته لرې کوونکی د هغه هېڅوک مګرهم دی دی، اوکه اراده وکړي تاته د خير(لکه صحت اوغناء) نونشته هېڅ منع کوونکی د فضل د ده! رسوي الله دا (خير) هرهغه چاته چې اراده وفرمايي له بندګانوخپلونه ، اوهم دی ښه مغفرت کوونکی (د خطياتو) ډيررحم والادی (په اکرام د اجراوثواب).

په دې آيت کې چې کوم خير ذکر شوی دی مفسرين په دې اړه دوه قوله لري لومړی دا چې : د خير څخه هدف عافيت دی دوهم دا چې د خير څخه هدف غنا ده . [2]

---

[1] يونس ۱۰۷.

[2] زاد المسير ، ج۳، ص ۱۲.

## پنځم اطلاق : خیرد اجر او ثواب په معنی

په قرانکریم کې د خیرلفظ د اجراوثواب په معنی هم استعمال شوی دی لکه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ)** (1)

ژباړه : اواوښان غوايان (دهديې) ګرځولي دي مونږدا تاسي ته له علائمو د دين د الله شته تاسي ته په دې کښې خير(ديني اودنيوي ګټه «فائده» پس يادوئ نوم د الله په دې (اوښانوغوايانو د ذبحې په وخت کښې په داسي حال چې ولاړ وي (په دريوپښوچې يوه يې ترې تړلې وي) نوکله چې پرېوتل اړخونه د دوی (په ځمکه پس له حلالولواوروح يې وخوت اوپس له پخېدلو) نوخورئ تاسې له دې نه (که موخوښه وی) اوخورئ يې په صبرکوونکي اوپه بې صبره (سوالګروفقيرانو) هم داسي (لکه چې وموښوده ذبح د دوی ) تابع کړې دي مونږدغه (مذبوحي) تاسي ته د پاره د دې چې وباسی تاسي (په دې نعمت).

ابن کثير[2] د **(لکم فيها خير)** په تفسير کې وايي چې له دې څخه د دنيا او آخرت ثواب او اجر مراد دی (3)

تفسير الماوردي د دې په تفسير کی ليکلي دي چې د خير په تفسير کې دوه قوله دي لومړی دا چې د خير معنی اجر ده چې دا د سدي قول دی دوهم دا چې د خير معنی منفعت دی ځکه که چاته ضرورت شي خلک پرې سپرلي کوي او که يې شيدې ولوشل شي ځښل کيږی . (4)

په بل مبارک آيت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ)** (5)

ژباړه : بېشکه هغه کسان چې راوړي يې دي غټ دروغ (په شان د عائشي کښي) يوټولی دی له تاسي (مسلمانانو) نه ګمان مه کوئ په دې (دروغو) چې شربد دي تاسي ته (ای مخلصانومؤمنانو) بلکه دغه (دروغ) خيردی تاسي ته (له جهته د ثواب اومنقبت د تاسې) مقرر دی هرسړي ته له دغو(بهتان ويونکوجزاء د) هغه ځيزچې ګټلی يې دی له ګناه (په قدرد خوض اوشغل د ده)، اوهغه څوک چې پورته

---

1 الحج ۳۶.

2 - اسماعيل بن عمر بن کثير بن ضوَ بن درع ، ابوالفداء عماد الدين حافظ ، فقيه او تاريخ ليکونکی په کال ۷۰۱هـ ق کې تولد شوی دی او په کال ۷۷۴هـ ق کې په دمشق کی وفات شوی د مشهورو تاليفاتو څخه يې شرح صحيح البخاری ، طبقات الفقهاء الشافعين انو تفسير القران الکريم دی .وګوره : الاعلام للزرکلی ، ج۱، ص ۳۲۰.

3 ابن کثير ، ج۵ ،ص۴۲۶.

4 تفسير الماوردی ، ج۴، ص ۲۶.

5 النور ۱۱.

يي کړلوی بارپېتې د دغو(دروغواوشايع يي کړل) له دغه (تېولي) نه شته ورته عذاب لوی(په دارينوکښې).

په (**بل هو خير لکم**) کې تسليت دی مراد دا چې دا لوی خير دی ستاسو لپاره او الله (جل جلاله) تاسوته د صبر په نتيجه کې ډير او لوی اجر درکوي .[1]

## شپږم اطلاق : خير د افضل ( ډيرغوره ) په معنی

د قرآنکريم په ځينو مبارکو آيتونو کی خير د افضل ( ډيرغوره ) په معنی هم راغلی لکه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي(**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ**) [2]

ژباړه: ئی تاسي (ای محمدي امته!) خير(بهتردهرهغه) امت چې استلی شوی دی د پاره د خلکوچې حکم کوئ تاسي (هرچاته) په معروف (نېکی) سره اومنع کوی تاسي (هرڅوک) له منکر(بدی) څنې اوکه ايمان راوړی وی اهل د کتابونو(په قرآن اومحمد نو) خامخا به ؤ(دا ايمان بهتر) خيردوی لره، ځينې له دوی څخه مؤمنان دي اوزيات د دوی فاسقان دي (نافرمانان متمردان په کفر).

(**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ**) يعني : مونږتاسي د ځمکې پرمخ افضل ترين اوبا برکت ترين امت پيدا کړی. [3]

## اووم اطلاق : خير د طعام او مادي رزق په معنی

د قرآنکريم په ځينومبارکوآيتونوکښې د خيرلفظ د مادي رزق په معنی باندې هم استعمال شويدی چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ**) [4]

ژباړه: پس اوبه کړه (موسی رمه) د دغودواړو بيايي شا وګرځوله (ښځوته اولاړشو) سيوري ته نو ويې ويل ای ربه ځما بېشکه زه هرهغه خيزته چې ولېږې ته ماته له خيره فقير(محتاج) يم.

د خير کوم لفظ چې په دی آيت کی ذکر شوی دی په دی کی دوه قوله دی لومړی دا چې د خير څخه مراد (شبعة من الطعام) يعني د طعام يوه برخه ده چې دا د ابن عباس (رضی الله عنه) قول دی دوهم قول دا چې هدف ترې

(شبعة يومين) يعني د دوه ورځوخوراک دی چې دا د سعيد ابن جبير(رضی الله عنه) قول دی . [1]

---

[1] روح المعانی ، ج١٨ ، ص١١٥.

[2] ال عمران ١١٠.

[3] ايسر التفاسير ١ ٣٥٩.

[4] قصص ٢٤.

په بل مبارک آیت کښې الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**فَعَسَى رَبِّي أَنْ يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِنَ السَّمَاءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا**) [2]

ژباړه : پس امېد لرم چې ژردی چې رب زما راکړي ماته (په دنيا په آخرت کښې خير) بهتره له باغ ستا اوچې ولېږي پردغه (باغ ستا) تندر(له طرفه د) آسمانه پس صبا ته وګرځي (باغ ستا) ډاګ ميدان ښوی چې ښوييږي

معنی دا شوه چې که زه اوس له تا څخه فقير يم نو زه له الله (جل جلا له) څخه دا توقع لرم چې تا فقير کړي او ما غني نو زما د ايمان په برکت ما ته رزق را کړي او ستا له باغ څخه ماته ښه باغ راکړي . [3]

همدارنګه د هود په سورت کې الله تعالی فرمايي(**بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ**) [4]

ژباړه : هغه باقي رزق پاتي کړی د الله (تاسوته له حلاله) خيرډېرغوره دی تاسي ته (له هغه چې تاسويې ټولوی په خيانت سره) که يی تاسي مؤمنان (باورکوونکي په خبره زما) اونه يم زه پرتاسوډېرساتونکی (له منهياتو).

(**بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ**)ابن عباس (رضی الله عنه) د الله (جل جلا له) د دي قول په اړه ويلي دي د الله (جل جلا له) رزق د تاسو لپاره غوره دی . [5]

### آتم اطلاق : خير په جنګ کې د کاميابۍ په معنی :

د قرآنکريم په ځينومبارکو آيتونو کې خير په جنګ کی د کاميابۍ په معنی باندې هم استعمال شوی دی چې په دي اړه الله تعالی فرمايلي دي (**وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا**) [6]

ژباړه : اوبېرته وشړل الله (له مديني نه ) هغه کسان چې کافران شوي وو(په ماتې بې له جنګه) سره له قهره خپله (ډک زړونه ) چې ويې نه موند هيڅ خير(برې پرمؤمنانو)، اوکفايت وکړالله مؤمنانوته د جنګ

---

[1] الماوردی ، ج۴، ص۲۴۶.

[2] کهف ۴۰.

[3] روح المعانی ، ج۱۵، ص ۳۸۰.

[4] هود ۸۶.

[5] الجامع الاحکام القران ، ج۹، ص ۸۶.

[6] احزاب ۲۵.

کولو (په امداد د پرښتو) اودی الله قوي ښه زورور(په انفاذ د احکامو) ډیرزبردست (په هرچا اوپه هرشي).

یعنې د احزاب لښکر ته الله (جل جلاله) د مسلمانانو په مقابل کې په جنګ کې کامیابي ورپه برخه نه کړه او د دوی زړونه په هغه څه خوشحاله نشول چې دوی یې اراده لرله دوی خیر ته ونه رسیدل یعنې د مسلمانانو په ضد په جنګ کې کامیاب نشول .[1]

ابن کثیر وایي : په دنیا کې هم دوی خیر ترلاسه نه کړ چې دوی د کامیابي او غنیمت په طمع وو او په آخرت کې هم چې د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د دښمنۍ او د هغه د وژلو او د هغه د لښکر د له مینځه وړلو په مقابل کې به په دوی ګناهونه باروي .[2]

(**لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا**) یعنې د پیغمبر او د صحابه کرامو(رضی الله عنهم) په مقابل کې به کامیابي تر لاسه نکړي .[3]

### نهم اطلاق : خیر د آسونود محبت په معنی

د قرآنکریم په مبارکوآیتونوکې د خیرلفظ د آسونوپه معنی باندې هم استعمال شویدی چې په دې باره کې الله تعالی فرمایلي دي (**فَقَالَ إِنِّي أَحْبَبْتُ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي حَتَّى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ**) [4]

ژباړه : کله چې وړاندې کړی شوپه ده باندې په آخرد ورځې کښې هغه ګړندي خاصه آسونه په دریوپښوولاړاو د یوې سوې نوکه یې په ځمکه لګولي نو وویل (سلیمان) بېشکه زه چې یم غوره مې کړه مینه د آسونوپه ذکردرب خپل ترهغه پورې چې پټ شو(لمر) په پرده کښې.

(**حُبَّ الْخَيْرِ**) یعنې د اسونو محبت د الله (جل جلاله) له ذکر څخه مشغول کړم چې هغه د مازدیګر لمونځ وو ځکه چې د جهاد لپاره د آسونو په تیارولو مصروف وو .[5]

په (**حُبَّ الْخَيْرِ**) کې دوه قوله دی اول دا چې دا مال دی چې دا د سعید ابن جبیر قول دی دوهم دا چې (**حُبَّ الْخَيْرِ**) د اسونو محبت دی چې دا د سدي او قتادة قول دی او د دواړو قولونو معنی یوه ده ځکه د خیر څخه هدف آسونه دي چې دا هم مال دی امام فراء ویلي دي عرب اسپ ته خیر وایی.[6]

---

[1] زاد المسیر ، ج۶، ص۳۷۲.

[2] ابن کثیر ج۶، ص ۳۹۶.

[3] الدرر المنثور، ج۱۲، ص۱۳.

[4] ص ۳۲.

[5] ایسر التفاسیر ، ج۴، ص۴۴۸.

[6] زاد المسیر ، ج۷، ص۱۲۹.

### لسم اطلاق : خير د قرآن په معنی

خير د قرانکريم په ځينو آياتونو کې د قران په معنی باندې هم استعمال شوی دی چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ)** (1)

ژباړه: نه خوښوي (دوست نه ګڼي) هغه کسان چې کافران شوي دي له اهل کتابوڅخه اونه له مشرکانوڅخه (داخبره) چې نازله کړه شي پرتاسې کومه ښه خبره (لکه وحی نصرت) له ربه ستاسې (د حسد اورخې (کينې) له مخې) اوالله خاصوي په رحمت خپل سره هغه څوک چې اراده يې وکړي(د تخصيص په رحمت سره) اوالله څښتن (خاوند) د فضل ډېرلوی دی.

**(أن ينزل عليكم من خير من ربكم)** معنی دا شوه چې اهل کتاب او د عربو مشرکان دا نه خوښوي چې د الله (جل جلاله) له لوري په تاسې خير نازل شي لکه قرآن او رسالت او قرآن کريم د لويو خيرونو له جملې څخه دی نو قرآن لوی هدايت دی الله (جل جلاله) د قران په وسيله ستاسې صفونه متحد کړي دي او ستاسې عقلونه يې پرې د بت پرستی د چټليو څخه پاک کړي دي او تاسې يې پرې د فطرت په لارو او طريقو برابر کړي ياست. (2)

**(أن ينزل عليكم من خير من ربكم)** يعني هغه څه چې الله (جل جلاله) په خپل پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) نازل کړي دي لکه وحی او نبوت او يهودانو او مشرکينو ځکه دا نه خوښول چې په مؤمنانو د الله (جل جلاله) له لوري کوم خير نازل شي د مسلمانانو سره د عداوت او کينې په سبب چې مسلمانانو سره يې لرله . (3)

تفسير في ظلال القران د خير په تفسير کې ليکلي دي : اهل کتاب او مشرکين د مسلمانانو لپاره خير نه خوښوي او هغه لوی خيرچې دوی يې د مسلمانانو لپا ره نه خوښوی هغه دا دين دی هغه داسې چې الله (جل جلاله) مسلمانان د دې خير لپاره غوره کړي دي او په دوی يې قرآن کريم نازل کړی دی او الله (جل جلاله) په دې نعمت باندې له مسلمانانو سره محبت کوي او په ځمکه کې يې دوی ته د عقيدې امانت سپارلی دی چې دا په خپله لوی امانت اوخير دی. (4)

---

1 البقرة ۱۰۵.

2 التفسير الوسيط للزحيلی ، ج۱، ص ۸۴.

3 تفسير الخازن ، ج۱، ص ۶۸.

4 فی ظلال القران ، ج۱،ص ۱۰۱.

## یوولسم اطلاق : خیر د نفع او ډیرې فایدې په معنی

په قرانکریم کې د خیر لفظ د ډیرې نفعې او فایدې په معنی باندې هم استعمال شوی دی چې په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي(**مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**) [1]

ژباړه : هغه چې منسوخ کوو مونږله کوم آیته یا هېرووېي (له زړونو) د مؤمنانوڅخه نورا لېږووبهترله هغه (پخواني څخه په سهولت اوکثرت د اجرکښې) یا په مثل د هغه (په تکلیف اوثواب کښې)، آیا نه پوهیږې ته چې بېشکه الله په هرڅه بنه قادر دی (نورا لېږي بهترله منسوخه یا د هغه په مثل)، یعنې داسې څه چې د بندګانو لپاره غوره دي او یا هم دهغه په شان که هغه د متلو وحی په وسیله وي او یا د غیر متلو او خیریت عام دی که هغه نوی حکم وي یاهم منسوخ شوی چې یواځې د ثواب لپاره وي یا داچې دعمل اوثواب دواړولپاره وي .[2]

ابن کثیر د دې آیت په تفسیر کې ویلي دي : یعنې په حکم کې چې په هغه کې به د مکلفیتونو مصلحت وي لکه څنګه چې علی بن أبی طلحه له ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت کړی دی (**نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا**) الله تعالی وایي چې د تاسو لپاره په ( انفع لکم ) کی منفعت غوره وي .[3]

## دولسم اطلاق : خیر د قیمتونو د ټیټدلو په معنی

خیر په قرانکریم کې د قیمتونو د ټیټیدلو په معنی هم استعمال شوی دی لکه څنګه چې الله تعالی دې موضوع ته د هود په سورت کې داسې اشاره کړیده (**وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَاقَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُحِيطٍ**) [4]

ژباړه : او(لېږلی ؤمونږښاریا اولاده د) مدین ته (قوم) ورور د دوی شعیب، وویل (شعیب) ای قومه زما عبادی کوئ (یواځې) د الله نشته تاسې لره هېڅ (برحق) معبود له دغه الله اومه کموئ پیمانه اوتله بېشکه چې زه وینمه تاسې په خیر(خوشحاله ماړه په شتو) اوبېشکه زه وېرېږم پرتاسې (په سبب د دې خیانت) له عذابه د ورځې چا پیرېدونکي (په تاسې پورې په سختۍ اوعذاب سره).

د (**إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ**) په هکله مجاهد (رحمه الله) ویلي دي چې دلته هدف د قیمتونو ټیټوالی دی .[5]

ابن عباس (رضی الله عنه) د خیر په هکله ویلي دي (**فی رخص الاسعار**) یعنې دا چې زه تاسې ګورم چې قیمتونه مو کم او ارزانه دي. [1]

---

1 بقره ۱۰۶.
2 روح المعانی ، ج۱، ص۳۵۲.
3 ابن کثیر ، ج۱، ص ۳۷۸.
4 هود ۸۴.
5 بحر العلوم ، ج ۲، ص ۱۶۶.

په (**إِنِّي أَرَاكُمْ بِخَيْرٍ**) کی دوه قوله دي لومړی دا چې له دې څخه د قیمتونو ټیټول مراد دي چې دا د ابن عباس (رضی الله عنه) ، حسن او مجاهد (رحمهم الله) قول دی .

دوهم دا چې له دې څخه د مال پراخي او ډېر والی مراد دی چې له ابن عباس (رضی الله عنه) څخه دا قول هم روایت شوی دی او د قتادة او ابن زید (رحمهم الله) قول هم دی ، امام فراء (رحمه الله) ویلي دي چې ستاسې مالونه ډیر او قیمتونه مو ارزانه دي نو تاسې د وزن او پیماني کمولو ته څه ضرورت لرئ . (2)

## د یارلسم اطلاق : خیر د صلاح په معنی

د قرانکریم په ځینو آیاتونو کې خیر د صلاح په معنی هم استعمال شوی دی لکه څنګه چې الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي(**وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ**) (3)

ژباړه: اوهغه کسان چې غواړي مکاتب والی له هغو(وینځومریو) چې مالکان شوي دي د هغوښي لاسونه ستاسي نومکاتبان کړئ دوی که چېرې پېژانده تاسي په دوی کښي خیراو ورکوئ دوی ته له ځینومالونود الله هغه چې درکړي یي دي تاسي ته، اومه مجبوروئ تاسي وینځې خپلې په زنا (اوبدوکارونو) که چېرې اراده لري دوی د ځان پاک ساتلود پاره د دې چې طلب کوئ تاسي (په دغه اکراه سره) مال د ژوندون لږخسیس (چې هغه باړه د زنا او وړوکی دی) اوهرهغه چې زوریي وکړیه دوی پس بېشکه الله وروسته له زورد مالکانوپردوی ډېربښونکی ښه رحم والا دی.

خیراً (صلاحاً فی دینه لکیلا یقع فی الفساد بعد العتق) یعني دلته خیر په دین کې د صلاح په معنی دی د دې لپاره چې ترآزادئ وروسته په ګناه کښې واقع نه شي. (4)

عبدالله ابن عباس (رضی الله عنه) ویلي دي څوک چې دا نه وایي چې خیرد لته د مال په معنی دی دا هم نه وایي (ان علمتم فیه خیراً) لیکن داسې ویل کیږي (علمتم فیه الخیر والصلاح والامانة ولا یقال علمت فیه المال . (5)

---

1 تفسیر البحر المحیط ، ج۵، ص ۲۵۲.

2 زاد المسیر ، ج۴، ص ۱۴۷.

3 النور ۳۳.

4 بحر العلوم ،ج۲، ص۵۱۱.

5 البخاري, صدیق حسن خان القنوجي , نیل المرام من تفسیر آیات الأحكام, تحقیق : محمد حسن إسماعیل - أحمد فرید المزیدي

نو د ده له قول څخه دا معلومه شوه چې خیر د لته د صلاح په معنی دی .
همدارنګه د آل عمران په سورت کې الله (جل جلاله) فرمایي **(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)** (1)
ژباړه : او وي دې (تل) له تاسې سره یوه ډله چې بولي (خلق) په طرف د خیر(اسلام) اوامر(حکم) کوي خلکوته په معروف (نېنېکۍ) سره اومنع کوي «خلق» له منکر(بدی) نه اودغه (آمرین باالمعروف ناهین عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسېدلي.
په تفسیر الوسیط کې د خیر په هکله راغلي دي : د خیر څخه مراد هغه شی دي چې په هغه کی د خلکو صلاح وي هغه که دیني وي یا هم دنیوي . (2)

## څوارلسم اطلاق : خیر د قدرت او قوت په معنی

په قرآنکریم کې د خیرلفظ د قدرت او قوت په معنی هم استعمال شوی دی لکه چې د دخان په سورت کې الله تعالی فرمایلي دي **(أَهُمْ خَيْرٌ أَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ أَهْلَكْنَاهُمْ إِنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ)** (3)
ژباړه : نوفرمایي الله چې آیا دغه (قریش) غوره دي (په مال اوقوت کې) که قوم د «تبع» اوهغه کسان چې پخوا تېرشوي وو له دغو(قوم د تبع لکه عاد اوثمود بلکه قوي نه وو په مال اوقوت نوسره له هغه هم) هلاک کړل مونږدوی بېشکه دوی وو ګنه ګاران (کافران منکران له بعثه اوله قیامته).
**(أَهُمْ خَيْرٌ)** (ای اشد و أقوی) یعني: داچې دوی ترټولو ډیرپیاوړي اوقوي خلک وو. (4)
د **(أَهُمْ خَيْرٌ)** معنی دا شوه چې دوی په قوت او شوکت کې غوره دي (5)
**(أَهُمْ خَيْرٌ)**(ام قوم تبع) په دې کې دوه وجې دي لومړی دا چې د دوی نعمتونه او مالونه ډیر دي .
دوهم دا چې آیا دوی د عزت او قوت خاوندان دي که د قوم تبع . (6)

## پنځلسم اطلاق : خیر د اصلاح په معنی

په قرآنکریم کې خیر د اصلاح په معنی هم استعمال شوی دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي **(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)** (1)

---

چاپ ځای : دار الکتب العلمية ,چاپ کال : 2003/01/30. د ټوکونو شمېر : 1 د پاڼې ګڼه۴۰۳.

[1] ال عمران ۱۰۴.

[2] التفسیر الوسیط ، ج ۲، ص ۲۰۱.

[3] الدخان ۳۷.

[4] زاد المسیر ، ج۷، ص ۳۴۷.

[5] شمس الدين, محمد بن أحمد الشربيني, تفسير سراج المنير ، چاپ ځای : دار الکتب العلمیة ـ بیروت ، د ټوکونو شمیر۳، دپاڼې ګڼه۶۹۶.

[6] تفسیر الماوردی ، ج۵، ص۲۵۵.

ژباړه: او وي دي (تل) له تاسې سره يوه ډله چي بولي (خلق) په طرف د خير(اسلام) اوامر(حکم) کوي خلکوته په معروف (نېښېکې) سره اومنع کوي «خلق» له منکر(بدی) نه اودغه (آمرين باالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسېدلي.

د (**يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ**) مراد د خير په لوري دعوت څخه هغه څه دي چې په هغه کې ديني او دنيوي اصلاح وي.[2]

## شپاړسم اطلاق : خير د صالح اولاد په معنى

د قرآنکريم په مبارکوآيتونوکښې خيرد صالح اولاد په معنى باندې هم استعمال شويدی چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**)[3]

ژباړه : ای هغوکسانوچي ايمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو!) نه دی حلال تاسې لره دا کارچې په ميراث به اخلئ تاسې ښځې په زورسره ، اومه منع کوئ تاسې دا (ښځې) له پاره د دې چې يوسئ (ترې واخلئ) تاسې ځينې د هغه مال چې ورکړی وي تاسې دوی ته (په مهرکښې) مګرچې راشي (وکاندي) دوی فاحشه (قبيح کارنشوزيا زنا) ښکاره اوګوزارن کوئ تاسې (ای مېړو) له دې (ښځو) سره په نېښېکي طريقې سره!، پس که خوښې نه وي ستاسې دا ښځې نو(صبروکړئ) ښايي چې نه به خوښوئ تاسې يوشی حال دا چې ګرځولی به وي الله په دې شي کښې خيرډېر.)

ابن عباس (رضی الله عنه) ويلي دي (**فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**) څخه مراد صالح اولاد دی .[4]

په تفسير الطبري کې د دې قول په تفسير کې راغلي دي (**فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**) که چيرې ستاسو زوجاتو سرکشي نه وي کړي نو دوی ته ازار مه ورکوئ تر څو په دې وسيله هغه مال تر لاسه کړی چې دوی ته مو ورکړی دی . کيدای شي تاسې دوی نه خوښوی بيا يې هم له ځانه سره وساتئ نو الله (جل جلاله) به په دې کړنه کې چې سره له دې چې تاسې له دوی څخه بد وړی

---

[1] ال عمران ۱۰۴.

[2] روح المعانی ، ج۴، ص ۲۱.

[3] النساء ۱۹.

[4] تفسير الماوردی ، ج۱، ص ۴۶۶.

بيا يې هم وساتئ الله (جل جلاله) به په دوی کې د تاسي لپاره ډير خير وګرځوي او الله (جل جلاله) به له دوی څخه تاسي ته اولاد درکړي . [1]

د خير له جملې څخه يو هم صالح او نيک اولاد دی ډير ځله يو ځوک له خپلې ښځې څخه ستومانه وي او له هغې څخه جدا کيدل خوښوی خو بيا له هغې څخه داسي صالح اولاد پيدا شي چې د ده د سترګو د يخوالي سبب وګرځي او په دې سره د هغې ښځې منزلت د سړي په وړاندې د دې صالح اولاد په سبب لوړشي . [2]

## اوولسم اطلاق : خير دعفت او ساتنې په معنی

په قرانکريم کې خير دعفت او ساتنې په معنی هم استعمال شوی دی الله تعالی فرمايي **(لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ)** [3]

ژباړه : ولې نه  په هغه وخت کښې چې واورېده تاسي دا خبره ګمان کاوه ايماندارونسړيواوايمان دارو ښځوپه نفسونوخپلو(پخپلومنځونو) کښې د خير(خبرې) او ويلی وی (دوی ټولوداسې) دا خبره دروغ ده ښکاره.

په تفسير النسفي کې يې خير داسي تفسير کړی دی (ای عفافاً وصلاحاً) يعني: د خيرمعنی دلته عفت اوصلاح ده. [4]

## آتلسم اطلاق : خير د ادب او ښو اخلاقو په معنی

په قرانکريم کې خير د ادب او ښو اخلاقو په معنی هم استعمال شوی دی لکه په سورت حجرات کې الله تعالی فرمايی **(وَلَوْ أَنَّهُمْ صَبَرُوا حَتَّى تَخْرُجَ إِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ)** [5]

ژباړه : که چېرې دوی صبرکړی وی ترهغوپورې، چې را وتلی وی ته دوی لره، نودا صبربه په خيرتماميده دوی لره اوالله تعالی جل جلاله ډيربښونکی اومهربان دی.

---

[1] تفسير الطبری ، ج٨، ص ١٢٢.

[2] تفسير المراغی ، ج١، ص ٩٣٠ .

[3] النور١٢ .

[4] النسفي ، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود: تفسير النسفی ، تحقيق: الشيخ مروان محمد الشعار، چاپ ځای: دار النفائس ـ بيروت چاپ کال 2005، د ټوکونوشمير 4، د ټوک ګڼه ، ٣د پاڼې ګڼه٢٠٠.

[5] الحجرات٥.

تفسير الماوردي په دې هکله ليکلي دي (لکان احسن لادبهم فی طاعت الله وطاعة رسوله) يعني دا کاربه د دوی لپاره د الله (جل جلاله) اود الله (جل جلاله) د رسول (صلی الله عليه وسلم) په اطاعت کښي د ادب په لحاظ ډېربنه ؤ. (1)

د روح المعاني په تفسير کې په دې اړه داسې راغلي دي **(ولوانهم)** که چيرته دوی صبر او انتظار کړای وای تر څو ته د خپل کور څخه را بيرون شوی وای نو تر عجلي څخه به صبر د دوی لپاره غوره وای ځکه په دې کي د ادب مراعتول او د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) احترام پر ځای کيده چي دا د دوی لپاره د الله د ثناء او ثواب سبب دی . (2)

همدارنګه د حج په سورت کې الله تعالی فرمايي **(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)** (3)

ژباړه : ای هغوکسانوچي ايمان يي راوړی دی (يعني ای مؤمنانو**!**) رکوع کوئ تاسي**!** اوسجده کوئ تاسي**!** (په لمانځه کښي) اوعبادی کوئ تاسي**!** د رب خپل (نه د بل) اوکوئ نېښک کارونه (لکه صله رحمي اوښه اخلاق) د پاره د دې چې برى ومومئ په نعمت اوجنت سره.

د ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روايت دی چې (انه امر بصلت الارحام ومکارم الاخلاق) (4)

## نولسم اطلاق : خير د صالح عمل په معنی

د قرانکريم په ځينو آياتونو کې خير د صالح عمل په معنی هم استعمال شوی دی لکه څنګه چې د انبياء په سورت کې الله تعالی فرمايي **(وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ)** (5)

ژباړه: اوګرځولي وو مونږدوی داسې امامان چې سمه صافه لاره يي ښوولې په حکم زمونږسره (خلقوته) او وحی کړې وه مونږدوی ته د کولود خيراتونو (نېکوکارونو) اود قائمولو(سم اداء کولو) د لمانځه او ورکولو د زکاة او وو دوی (ټول) خاص مونږته عبادت کوونکي.

---

[1] تفسير الماوردی ،ج۵، ص۳۲۸.

[2] روح المعانی ، ج۲۶، ص۱۴۳.

[3] الحج ۷۷.

[4] روح المعانی ، ج۱۷، ص ۲۰۷.

[5] انبياء ۷۳.

**(وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ)** يعني دوی مو د صالحو اعمالو په سرته رسولو مامور کړی وو او دا هم ويل کيږي چې دوی ته مو الله (جل جلاله) ته په دعا کولو امر کړی وو چې دا د (لا اله الا الله) قول دی.(1)

**(وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ)** له دې څخه صالح اعمال او د لمانځه اقامه کول مراد دی.(2)

همدارنګه الله تعالی په سورت بقره کې فرمايي **(وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** (3)

ژباړه : اوهريوه (امت) لره يوه قبله ده چې دې مخ ګرځوونکي دي هغې ته (په لمانځه کښې) نوتاسې وړاندې شئ! (يوتربله) نيښکيوته هرچيرته چې يئ (تاسې) رابه ولي تاسې الله ټول (په قيامت کښې د پاره د جزاء د اعمالو) بېشکه چې الله په هرشي باندې ښه قادر دی.

**(فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ)** د دې دوه تفسيره دي اول دا چې د صالحو اعمالو په لوري سرعت وکړي چې دا د عبدالله بن عباس (رضی الله عنه) قول دی .

دويم دا چې د يهودو په خبره له خپلې قبلې څخه مخه مه ګرځوئ چې دوی وايي که تاسې زمونږ د قبلې متابعت وکړي مونږ به ستاسو پيروي وکړو . (4)

**(فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ)** د خيرات څخه مراد ټول هغه څه دي چې الله (جل جلاله) يې امر کړی وي نو تر مرګ مخکې د الله (جل جلاله) د اوامرو په لوري سبقت او مسابقه وکړي.(5)

**(فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ)** يعنې ای د محمد امته  د اجل تر رسيدو مخکې د صالحو اعمالو په طرف سبقت وکړئ چې الله (جل جلاله) ته د نزديکت سبب دی.(6)

## شلم اطلاق : هغه خير چې د شرضد دی

په قرآنکريم کې د خيرلفظ د شرپه ضد اومقابل کښې هم استعمال شويدی چې په دې اړه د آل عمران په سورت کې الله تعالی فرمايي **(قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)** (7)

---

[1] بحر العلوم ج۲، ص۴۳۳.

[2] زاد المسير ، ج۵، ص ۳۶۹.

[3] بقره ۱۴۸.

[4] تفسير الماوردی ، ج۱، ص۲۰۶.

[5] تفسير النسفی ، ج۱، ۴۱۰.

[6] تفسيربيان المعانی ، ج۶، ص ۳۳۶.

[7] ال عمران ۲۶

ژباړه:ووایه (ای محمده !) یا الله (ای) مالکه د سلطنت (واکداره د باچاهۍ!) ورکوې ته سلطنت هرهغه چاته چې اراده وکړې (یا الله د ورکولویې) اوبېرته اخلې سلطنت له هرهغه چاځنې چې اراده وکړې (د بېرته اخیستلویې) اوعزت ورکوې هرهغه چاته چې اراده وکړې (یا الله د عزت یې) اوخوارذلیل کوې هرهغه څوک چې اراده وکړې (د ذلت یې.) په لاس (د قدرت ستا) هر راز خیر(ښېګڼې) دې بېشکه ته «یا الله» پرهرشي باندې (چې اراده وفرمایې) ښه قادریې. ( هم په ورکولو هم په اخیستلوهم په عزت هم په ذلت).

(**بِيَدِكَ الْخَيْرُ**) یعنې ستا په قدرت او تصدیق خیر واقع کیږي ، ځینو دا ویلي دي چې شر هم مراد دی او د معطوف حذفول د معنی د پوهېدلوله پاره جایز دی ځکه د ضدینو له جملې څخه چې خیراوشردي د یو په ذکر کولو د بل معنی هم افاده کیږي او الله تعالی د پادشاهۍ ورکول بیرته اخیستل عزت ورکول او ذلیلول ذکر کړي دي چې د ځینو خلکو لپاره خیر او د ځینو نورو لپاره شر دی نو تقدیر داسې دی چې (بیدک الخیر والشر) [1]

(**بِيَدِكَ الْخَيْرُ**) معنی داشوه چې ستا په قدرت کې خیر او شر دواړه دي د یو په ذکر کولو چې خیر دی اکتفاء وشوه ( لأنه مرغوب فیه). [2]

(**بِيَدِكَ الْخَيْرُ**) یعنې ستا په قدرت کې خیر او شر دی ځینو دا ویلي خیر یې ځکه خاص کړه د دعاء ، ځای او خلک یې د حاصلولو سره رغبت او مینه لري. [3]

## یوویشتم اطلاق : خیر د کثرت او کفایت په معنی

په قرآنکریم کې خیر د کثرت او کفایت په معنی باندې هم استعمال شویدی لکه د کهف په سورت کې الله تعالی فرمایي (**قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا**) [4]

ژباړه : وویل (ذوالقرنین) هغه چې اقتدار راکړی دی ماته په هغه شي کښې رب زما خیر ډېرغوره دی (له ورکړې د تاسې نه چې محصول دی) پس مرسته (مدد) وکړئ تاسې له ماسره (په زیار(محنت) زما کښې تول ) په (انساني) قوت (اوعمل کی نه په مال) سره چې جوړکړم په مینځ د تاسې اوپه مینځ د دوی کې نوپېرد او(محکم) دېوال.

---

[1] تفسیر البحر المحیط، ج۲، ص۴۳۸.

[2] زاد المسیر ، ج۱، ص۳۶۹.

[3] الجامع لاحکام القران ، ج۴، ص ۵۵.

[4] کهف ۹۵

**(مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي )** يعني دا چې الله (جل جلاله) ما ته ډير مال او هوساينه راکړيده د هغه څه څخه چې تاسې يې د ځمکې له حاصلاتو څخه مصرفوي ډير ښه او غوره دی او زه ستاسي مصرف ته اړتيا اوضرورت نلرم . [1]

**(مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي)** له دی څخه د ذوالقرنين سلطنت مام ډيروالی مراد دی معنی دا شوه چې مال چې الله (جل جلاله) ما ته راکړي دي د هغه څخه غوره دي چې تاسي يې ما ته مصرفوی. [2]

**(قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي)** معنی دا شوه چې ذوالقرنين دوی ته وويل چې الله (جل جلاله) ما ته ځومره پراخه سلطنت او قدرت را کړی دی ستاسو له خراج د ځمکې له حاصلاتو اومالونو څخه غوره او ښه دي لکن له ما سره تاسې خپله کومک وکړی يعنې خپل خلک را سره ملګري کړی تر څو هغوی کار وکړي. [3]

## دوه ويشتم اطلاق : خير د هدايت او حکمت په معنی

په قرآنکريم کې خير د هدايت او حکمت په معنی باندې هم استعمال شويدی لکه د کهف په سورت کې الله تعالی فرمايي **(فَأَرَدْنَا أَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا)** [4]

ژباړه : نو وغوښته مونږ دا چې بدل ورکړې دوی ته رب د دوی (خيربهترغوره) له دې هلک څخه په پاکۍ (صلاح) کښې اوډيرنژدې به وي له جهته د رحم مهربانۍ.

ابن کثير د دې آيت په تفسير کې ليکلي دي (ای وله ازکی من هذا وهما أرحم به منه قال ابن جريج وقال قتاده أبربوالديه) [5]

يعني : الله به له دې ماشوم څخه هغوی ته بل غوره ماشوم ورکړي اودوی به هم له هغه سره ترډې ماشوم زياته مينه ولري ابن جريج ويلي دي چې له قتادة څخه نقل شوي چې هغه ماشوم به له خپل مورواوپلارسره نيکي کوونکی وي.

د آيت معنی دا شوه چې هغه کسان چې د پاکوالي او نفس د تزکيې په سبب نيک او د خير کارونه سرته رسوي . [6]

---

[1] تفسير الفخر الرازی ، ج۲۱، ص۴۹۹.

[2] زاد المسير ، ج۵، ص ۱۹۲.

[3] الجامع الاحکام القران ، ج۱۱، ص۶۰.

[4] کهف ۸۱.

[5] ابن کثير ، ج۵، ص۱۸۵.

[6] روح المعانی ، ج۱۸، ص ۵.

همدا رنګه په بل مبارک آيت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(فَلَمَّا جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ)** [1]

ژباړه: پس کله چې راغی (قاصد د بلقيس) سليمان ته نو ووېل (سليمان) آيا مدد ګاري کوئ تاسې له ماسره په مال سره پس هغه څيز چې را کړی دی ماته الله (له نبوت، علم، سلطنت) خيرډېرغوره دی له هغه څيزه چې درکړی دی (الله) تاسې ته بلکه تاسې په دغه هديه (پېشکشئ) خپلې خوشحالېږی بېرته ورشه دوی ته (ای قاصده چې راشي ماته ! که نه ) پس خامخا وربه شومونږدوی ته سره له (داسې زورور) لښکرچې نه وي هېڅ طاقت د مقابلې دوی ته له هغولښکرو سره اوخامخا وبه باسوهرومرو(خامخا) دوی له دغه (ښارد سبا څخه) په دې حال کې چې بې عزته بې حرمته وي اودوی به خوار اوسپک وي.

**(فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ)** يعنې کوم هدايت او حکمت چې الله (جل جلاله) ما ته راکړی دی کوم مالونه چې تاسې ته درکړل شوي دي چې د هغه له جملې څخه دا هديه هم غوره او ښه دی . [2]

نو نبوت په اولی طريقه په حکمت کې شامل دی .

**(فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ)** دا چی ما ته د اسلام دين پادشاهی او نبوت را کړی دی له هغه څه څخه چی تاسی ته درکړل شوی دی غوره دی نو زه په مال نه خوشحاله کيږم . [3]

همدارنګه الله تعالی په سورت البقره کې فرمايي **(يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ)** [4]

ژباړه: ورکوي الله حکمت (نافع علم سره له عمله) هرچاته چې اراده وکړي (د ورکولوېي) اوهرچاته چې ورکړشوحکمت (نافع علم سره له عمله) نوپه تحقيق سره ورکړی شو(ده ته) خيرډېر، اونه اخلي پند مګرخاوندان د عقلونو(صافوچې د وهم اونفسي غوښتنوشوائب پکښې نه وي، **(وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ)** دا هغه څه دي چې د الله (جل جلاله) خوښه شي چې د الهی حکمت ورکړه ده . [5]

على ابنابي طلحه له ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روايت کړی چې له حکمت څخه مراد نبوت دی. [6]

---

[1] النمل ۳۶.

[2] التفسير الوسيط ، ج۱۰، ص ۳۲۴.

[3] الجامع الاحكام القران ، ج۱۳، ص۲۰۱.

[4] بقره ۲۶۹.

[5] ابن عاشور الشيخ محمد الطاهر، التحرير والتنوير الطبعة التونسية ، چاپ ځای : دار سحنون للنشر والتوزيع - تونس چاپ کال : 1997 م د ټوکونوشمیر 30، د ټوک ګڼه ۳، د پاڼې ګڼه ۶۴.

[6] زاد المسير ، ج۱، ص ۳۲۴.

## دريم مطلب : په قرانكريم كې د آخرت حقيقت

د آخرت تعريف : (الاخرى والاخرة دار البقاء صفة غالبة والاخر بعد الاول وهو صفة يقال جاء اخرة وبأخرة.) [1]

ژباړه : يعني اخرى اوآخرت په هغه باقي كورباندې په غالبه توګه اطلاق كيږي اوآخرله اول څخه وروسته وي داسې ويل كيږي يقال جاء اخرة وبأخرة بفتح الخاء يعني هغه وروسته راغى.

(أخر) همزه خا او را يو اصل دى چې فروعات يې ورته هم راجع كيږي چې د مخكيني خلاف ته ويل كيږي دا قياس مو له خليل نه اخيستى دى هغه ويلي دي (الاخر نقيض المتقدم) [2] يعني آخرد مخكي خلاف اوضد ته ويل كيږى .

له پورته تعريفونوڅخه دا روښانه شوه چې آخرت هغه ژوند ته ويل كيږي چې له دنيوي ژوند څخه وروسته راځي .

الله آخرت ته په قرآنكريم كې حقيقي ژوند ويلى دى لكه څنګه چې الله تعالى د انفال په سورت كې فرمايي **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ)** [3]

ژباړه : اى هغوكسانوچې ايمان يې راوړى دى (يعني اى مؤمنانو!غوږ ږدئ حكم منئ تاسي «خاص» د الله او (حكم منئ خاص) د رسول «د الله» كله چې وبولي تاسي له پاره د هغه كارچې ژوندي كوي تاسي «په دنيوي اواخروي ژوندون سره» اوپوه شئ تاسي چې بېشكه الله پرده كيږي په منځ د انسان اود زړه د ده كښې اوبېشكه شان دا دى چې خاص هم ده ته تاسي جمع كيږى.

**(إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ)** : امام فراء ويلي دي په احياء كې پنځه قوله دي

لومړى دا چې : په دنيا او آخرت كى ددوى د امورو اصلاح ده .

دويم دا چې : په دنيا كې د ښايسته ذكر كول او په آخرت كې ابدى ژوند دى .

دريم دا چې : په جنت كې همېشني نعمتونه دي .

څلورم داچې : ځكه چې دوى مؤمنان دى ځكه كافر د مړى په شان دى .

پنځم دا چې : پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) دوى له مرګ څخه وروسته بيرته را ژوندي كړل دا د هغه چا په وينا چې له ( يحييكم ) څخه جهاد اخلي ځكه شهيدان ژوندى دي او د جهاد په سبب الله (جل جلاله) له

---

[1] لسان العرب ، ج۴، ص ۱۴.

[2] معجم مقايس اللغه ، ج۱، ص۷۰.

[3] انفال ۲۴.

ذلت څخه وروسته دوی ته عزت ورکړ نو دا داسې شوه لکه چې دوی د جهاد په وسیله ژوندي شوي وي [1].

همدارنګه الله تعالی په خپل کتاب کې آخرت ته (دار القرار) ویلي دي لکه څنګه چې دغافر په سورت کې الله تعالی فرمايي (**يَاقَوْمِ إِنَّمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ وَإِنَّ الْآخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ**) [2]

ژباړه : ای قومه زما بېشکه هم دا خبره ده چې دغه ژوندون لږخسيس يوه متاع (ګټه) (فائده) لږه) ده اوبېشکه آخرت هم هغه دی کورد قراری (بې زواله).

يعنې تاسې په دنيا حساب مه کوی ځکه دا کمه متاع ده چې تاسې به لږ فايده ترې واخلی او بيا زر له منځه ځي او د آخرت ژوند د دنيا د ژوند تر ختميدو وروسته د استقرار او هميشه اوسيدلو ځای دی نو تاسې د دارالبقاء لپاره عمل وکړئ او د دار الفناء څخه مخ واړوئ او په دې وپوهيږئ چې حساب زر راتلونکی دی.[3]

همدارنګه الله (جل جلاله) د آخرت ژوند ته غوره او هميشه ژوند ويلی دی لکه چې الله (جل جلاله) په سورت اعلى کښې فرمايلي دي (**بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (16) وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى**) [4]

ژباړه : بلکه تاسې غوره کوی ژوندون لږخسيس په آخرت باندې ای منکرانوحال دا چې آخرت خيرغوره دی (له دنيانه) او (تل ترتله ښه) باقي دی.

يعنې د دنيا له زينت او په دنيا له مشغوليدو څخه د آخرت عمل غوره او هميشه پاتيکيدونکی دی داسې هم ويل کيږي چې معنی يې داده چې دوی د فاني دنيا ژوند د آخرت د ژوند په مقابل کې چې هميشه دی غوره کوي او د آخرت ژوند غوره او هميشه دی ځکه د دنيا ژوند زيات عيبونه لري لکه ويره ، مرض ، مرګ ، فقر ، ذلت ، سپکوالی د نعمتونو زوال ، بند او منع او داسې نور د آخرت ژوند دا عيبونه نلري په همدې سبب دا ويل شوي چې د آخرت له دنيا څخه غوره دی . [5]

په لنډه توګه دا ويلای شو چې الله تعالى په قرانکريم کې آخرت په دې ډول مواصفاتوتوصيف کړی دی (**ولنعم دار المتقين**) يعني د متقيانولپاره ډيرغوره کورتيارکړی دی.

---

[1] زاد المسير ، ج ٣، ص ٣٣٩.
[2] غافر ٣٩.
[3] ايسر التفاسير لكلام العلى الكبير ، ج٤، ص٥٣٥.
[4] الاعلى( ١٦-١٧)
[5] بحر العلوم ، ج٣، ص٥٥٠.

## ځلورم مطلب : په قرآنکریم کی د اخروی خیر اطلاقات

هغه خیر چې الله (جل جلاله) به د هغه په وسیله په خپلو بندګانو په آخرت کی رحم وکړي او خپل ډول ډول نعمتونه هغه چی د خپلو مخلصو بندګانو لپاره یې تیار کړیدي ورپه برخه کړي اخروی خیر په قرآنکریم کې په څو اطلاقاتو راغلی دی چې په لاندې توګه بیانیږی .

### لومړی اطلاق : خیر داخروي اجر په معنی

په قرانکریم کې اخروي خیرد ثواب او اجر په معنی باندې استعمال شوی دی لکه په سورت البقرة کې الله تعالی فرمایي **(وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ)** [1]

ژباړه : اوکه په تحقیق دوی ایمان راوړی وی اوپوهیزیې کړی وی (له سحره اوله یهود یته نوهرومرو(خامخا) ثواب له طرفه د الله څخه ډېرغوره دی (له دې سحراو رشوت د تورات په تحریف که وی دوی چې پوهېدلی (په بهتری د «تورات» نوسحربه یې نه زده کاوه اوله پاک الله ځنېنې به وېرېدل اوله مناهیوبه لرې ګرځېدل).

نو معنی دا شوه چې که چیرته یهود په قرآنکریم او پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړي او سحر او خپله چالاکي پریږدي د الله (جل جلاله) د اوامرو په عملي کولو د هغه له عذاب څخه ځان وساتي نو دوی به د الله (جل جلاله) له لوري د ثواب مستحق شي که چېرته دوی وپوهیږي دا ډیر غوره اود لوی اجر کار دی. [2]

همدارنګه د آل عمران په سورت کې الله تعالی فرمایي **(لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ)** [3]

ژباړه : لېکن هغه کسان چې وېرېږي دوی له ربه خپله شته دوی لره جنتونه چې بهیږي له لاندی د (ونواومانییود) هغو ویالې تل به وي دوی په هغو(جنتونو) کښې په دې حال کښې چې (دغه جنتونه ځای د) مېلمستیا یوپیشکشي ده له جانبه د الله اوهغه (باقي شی) چې په نزد د الله دي خیر(ډېرغوره) دي له پاره د نېکانو.

**(وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ)** ابرار هغه کسان دي چې زړونه یې پاک وي نو الله (جل جلاله) چې پاک او رحیم ذات دی دوی ته به لویه ورکړه عطاء او دایمي کامیابي ورپه برخه کړي . [4]

---

[1] البقرة۱۰۳.

[2] حجازی ، الدکتور محمد محمود ، التفسیر الواضح ، چاپ ځای : دار الجیل الجدید ، د ټوکونوشمیر: 3 ، د ټوک ګڼه۱، د پاڼي ګڼه۶۲.

[3] ال عمران ۱۹۸.

[4] تفسیر السعدی ، ج۱، ص۱۶۲.

همدارنګه د حج په سورت کی الله تعالی فرمایی **(وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُمْ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ)** [1]

ژباړه : اواوښان غوایان (د هدیې) ګرځولي دي مونږدا تاسې ته له علائمو د دین د الله شته تاسې ته په دې کې خیر(دیني اودنیوي ګټه (فائده)) پس يادوئ نوم د الله په دې (اوښانوغوايانوپه وخت د ذبح کېښې) په داسې حال چې ولاړ وي (په دريوپښوچې يوه يې ترې تړلې وي) نوکله چې پرېوتل اړخونه د دوی په (ځمکه پس له حلالولواوروح يې وخوت اوپس له پخېدلو) نوخورئ تاسې له دې نه (که موخوښه وي) اوخورئ يې په صبرکوونکي اوپه بې صبره (سوالګروفقيرانو) هم داسې (لکه چې وموښوده ذبحه د دوی) تابع کړې دي مونږدغه (مذبوحې) تاسې د پاره د دې چې شکروباسی تاسې (په دې نعمت).

**(لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ)** يعني په دنيا کې هم ستاسو لپاره په ځارويو کې خير دی چې د هغو له شيدو او وړيو څخه فايده اخلی او ستاسو لپاره هم په آخرت کې خير دی چې د الله تعالی څخه به ډير لوی اجر تر لاسه کړي ځکه الله تعالی چې تاسې کومې لارې ته دعوت کړی يی هغه مو قبوله کړې ده . [2]

د آل عمران په سورت کې الله تعالی فرمايلي دي **(وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ)** [3]

ژباړه : اوهرڅه چې کوي دوی له خيره (ښه) پس له سره به ضايع نه کړي دوی لره (ثواب) د هغه کار. يعنی تر هغه وخته پوری چې د خير کارونه کوی لږ وی او که ډير **(فَلَنْ يُكْفَرُوهُ)** يعنی له اجر څخه به يی محروم نه شی بلکه الله به دوی ته کامل اجر ورکړی لکن د اعمالو ثواب د انسان د زړه له ايمان او تقوا سره تړلی دی نو ځکه الله تعالی فرمايلی دی **(وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ)** . [4]

همدارنګه په سورت هود کې الله تعالی فرمايي **(وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ)** [5]

ژباړه : اونه وايم زه تاسوته چې ما څخه خزانېنې د الله دي اونه (وايم دا چې) پوهېږم په غيب باندې (په علم اليقين سره) اونه وايم زه چې ښېشکه زه پرښته يم اونه وايم زه په حق د هغو(فقيرانومؤمنانو) چې

---

[1] الحج ۳۶.

[2] التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج۹، ص۳۱۲.

[3] ال عمران ۱۱۵.

[4] تفسير السعدى ، ج۱، ص۱۴۳.

[5] هود ۳۱.

سپک ورته ګوري سترګې ستاسې چې له سره به ورنه  کړي دوی ته الله هېڅ خیر، الله ښه عالم دی په هغه (اخلاص) چې په نفسونود دوی کښې دی،(که زه دغه ووایم) نوزه په دغه وخت کښې خامخا له ظالمانوڅخه به یم.

**(لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا)** یعنی د دوی د سپک ګڼلو په وسیله ددوی اجرونه  نه  شی باطلولای او یا دا چی د دوی ثواب کم شی .[1]

همدارنګه الله تعالی فرمایلي دي **(بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ وَمَا أَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيظٍ)** [2]

ژباړه : هغه باقي رزق پاتې کړی د الله (تاسوته له حلاله) خیرډېرغوره دی تاسې ته (له هغه چې تاسویې ټولوئ په خیانت سره) که یی تاسې مؤمنان (باورکوونکي په خبره زما) اونه  یم زه پرتاسوډېرساتونکی (له منهیاتو).

**بَقِيَّتُ اللَّهِ خَيْرٌ لَكُمْ)** مقاتل ویلي دي په آخرت کې د الله ثواب ستاسې لپاره غوره دی . [3]

همدارنګه په سورت یوسف کې الله تعالی فرمایلي دي **(وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ)** [4]

ژباړه : اوخامخا اجر(بدل) د آخرت خیر(ډېرغوره) دی (له دنیوي اجره) هغه کسانوته چې ایمان یې راوړی دی او وو دوی چې پرهېزګاري یې کوله (له شرک اوله فواحشو).

**(وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ)** یعني د دنیا له اجر څخه د آخرت اجر غوره دی **(لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ)** یعني د هغه چا لپاره چې ایمان او تقوی یې سره جمع کړي وي د تقوی په وسیله کبیره او صغیره محرمات پرېښودل کیږي او په کامل ایمان سره د زړه تصدیق حاصلیږي په څه باندې چې الله (جل جلاله) پرې د تصدیق امر کړی وي او د زړونو او جوارحو اعمال لکه واجبات او مستحبات تره سره کوي.[5]

همدارنګه په سورت نحل کې الله تعالی فرمایي **(وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ** لهو **خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ)** [6]

ژباړه : اوکه عذابوئ تاسې (څوک) نوعذاب ورکوئ په مثل د هغه عذاب سره چې عذاب کړی شوي یی تاسې په هغه سره ، اوخامخا قسم دی که صبروکړتاسې (په طاعت، مصیبت اوله مصیبت اوانتقامه) نوخامخا دغه (صبر) خیر(غوره) دی له (انتقامه) صابرانوته.

---

[1] الجامع الاحکام القران ، ج۹، ص۲۷.

[2] هود۸۶.

[3] زاد المسیر ، ج۴، ص۱۴۹.

[4] یوسف ۵۷.

[5] تفسیر السعدی ، ج۱، ص۴۰۰.

[6] النحل ۱۲۶

يعني كه تاسي له مقابلې بالمثل ښخه صبر وکړ او له بدو ښخه تير شواست او له هغو ښخه مو مخ وا ړاوه او کوم ظلم چې له تاسي سره شوى دى د هغو په بدل کې مو د اجر او ثواب آرزو لرله نو الله (جل جلاله) د دوى عذاب په غاړه اخلي او له انتقام ښخه صبر د صابرانو لپاره غوره دى ځکه د الله (جل جلاله) عذاب سخت دى . (1)

## دوهم اطلاق : خير د رحمت او مغفرت په معنى

په قرآنکريم کې اخروي خير د رحمت او مغفرت په معنى باندې هم استعمال شوى دى لکه د آل عمران په سورت کې الله تعالى ورته داسې اشاره کوي (**وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**) (2)

ژباړه : اوقسم دى خامخا که ووژلى شوى تاسې په لاره د الله کښې يا مړه شوى تاسې (په لاره د الله کښې چې طاعت دى) نوخامخا مغفرت له جانبه د الله او رحمت (مهرباني د الله) خير(ډېرښه) دى له هغو(مالونو) چې دوى يې جمع کوي. اوقسم دى که شوى تاسې يا ووژلى شوى تاسې نوخامخا به الله ته راجمع کړى شى تاسې (ټول).

د الله تعالى دا قول چې (**خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**) يعني له هغه څه ښخه غوره دى چې کافران يې جمع کوي لکه د دنيا متاع او د هغې زائليدونکى شهوات د الله (جل جلاله) د مغفرت او رحمت پر خلاف ځکه دا دواړه باقي دي او هيڅ کله له مينځه نه ځي.(3)

همدارنګه د زخرف په سورت کى الله تعالى فرمايي (**أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**) (4)

ژباړه : آيا دوى تقسيموي وېشي رحمت (نبوت) د رب ستا (لکه چې دوى وايي)، (نه ده داسې بلکه پخپله) مونوږ وېشلى قسمت کړى مودى په مينځ د دوى کښې معيشت د دوى په دغه ژوندون لږکښې اوپورته کړي مودي ځيني د دوى د پاسه د ځينو نورو په مرتبوکښې د دې چې ونيسي ځيني د دوى (چې غنيان دي) ځيني نور (چې فقيران دي) تابعان کارکوونکي.

---

1 التفسير المنير للزحيلى ، ج١٤، ص ٢٧١.

2 ال عمران ١٥٧.

3 التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج٢، ص ٣١٣.

4 الزخرف٣٢.

(**وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**) يعني هغه څه چې الله تعالى د خپلو صالحو بندګانو لپاره تيار کړې دي د هغه څه څخه چې دوى يې جمع کوي غوره دي لکه مالونه  او د دنيا ټوله متاع او کله چې الله (جل جلاله) خپل ځينې بندګان په دين کې په يو ډول فضل او رحمت سره خاص کړي نو دا رحمت د دنيا د ټولو مالونو څخه غوره دي ځکه د دنيا سامان له مينځه تلونکى دي او د الله (جل جلاله) فضل او رحمت هميشه باقي او دائم دى .[1]

همدارنګه د اعراف په سورت کې الله تعالى فرمايي (**فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَذَا الْأَدْنَى وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِثْله يَأْخُذُوهُ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِيثَاقُ الْكِتَابِ أَنْ لَا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوا مَا فِيهِ وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ**) [2]

ژباړه : نوپاتې شول وروسته له دوى نه (داسې) بد خليفګان چې وارثان شول د «تورات له پلرونوخپلوڅخه حال دا چې» اخلي دوى مبلغ «اواسباب» د دې لږې خسيسې «په رشوت د اخبارو اواحکامود تحريف په بدل» او وايي دوى ژربه ببنه  وکړه شي مونږته او، حال دا که راشي دوى ته مبلغ «اواسباب نور» په مثل د دې نواخلي دوى هغه «هم» ، آيا نه  ده اخيستې شوې له دوى څخه کلکه وعده په دې کتاب کښې «بلکه اخيستې شوې وه داسې» چې نه  به وايي دوى پرالله مګرحق «رښتيا خبره» اولوستى «اولولى» وو دوى هغه احکام چې په دغه (تورات) کښې وو، اودار د آخرت (جنت) خير(ډېرغوره بهتردى) د پاره د هغه کسانوچې وېرېږي (له عذابه اوځان ساتنېې له حرامو)، آيا نوتاسې عقل نه  کوئ نه  پوهيږئ (چې د نيا فاني اوعقبى باقي ده.

(**وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ**) يعني د آخرت کاميابي بهتره ده له دنيا څخه (**لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ**) د هغه کسانو لپاره چې ځان د ګناهونو ،شرک ، د حرامو له خوراک او همدارنګه په الله (جل جلاله) باندې له افتراء څخه ساتي (**أَفَلَا تَعْقِلُونَ**) آيا تاسې نه  پوهيږئ نو تاسې ادنى شى چې د عذاب سبب دى مه تبديلوئ په هغو نعمتونو چې هميشه دي.[3]

(**وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ**) يعني هغه ثواب چې په آخرت کې دي د هغه کسانو لپاره غوره دي چې د الله (جل جلاله) څخه وېرېږي تاسې په دې نه  پوهيږئ چې باقي له فاني څخه غوره دي . [4]

همدارنګه د يوسف په سورت کې الله تعالى فرمايي (**وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِلَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ**) [5]

---

[1] التفسير المنير للزحيلى ، ج۲۵، ص۱۴۶.
[2] اعراف۱۶۹.
[3] روح البيان ، ۳، ص۲۶۹.
[4] زاد المسير ، ج۳، ص ۲۸۲.
[5] يوسف ۵۷.

ژباړه : اوخامخا اجر(بدل) د آخرت خير(ډېرغوره) دی (له دنيوي اجره) هغه کسانوته چې ايمان يې راوړی دی او وو دوی چې پرهېزګاري يې کوله (له شرک اوله فواحشو).

(**وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْر**) يعنې هغه څه چې مونږ په آخرت کې ورکوو غوره او ډېر دي له هغه څه څخه چې په دنيا کې ورکوو ځکه د آخرت اجر هميشه وي او د دنيا اجر قطع کيږي او ختميدونکی وي.[1]

(**وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ خَيْر**) په تفسير سمرقندي کې راغلي دي چې د آخرت ثواب غوره او افضل دی د هغه څه نه چې په دنيا کې ورکړل شوې وي (**لِلَّذِينَ آمَنُوا**) د هغه کسانو لپاره چې د الله (جل جلاله) د وحدانيت تصديق ی کړی وي (**وَكَانُوا يَتَّقُونَ**) او له شرک څخه يی ځان ساتلی وي .[2]

همدارنګه د نحل په سورت کې الله تعالی فرمايي (**وَقِيلَ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا مَاذَا أَنْزَلَ رَبُّكُمْ قَالُوا خَيْرًا لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ**)[3]

ژباړه : او وبه ويل شي هغوکسانوته چې ځان يې ساتلی له شرکه (او وېرېږي له الله) چې څه څيزدی هغه چې نازل کړی رب ستاسې؟ نو وايي دغه مؤمنان چې (را ليږلی يې دی زمونږ) خيرشته هغوکسانوته چې نېنېکي يې کړې ده (په ايمان راوړلوسره) په دغه دنيا کښې نېکه جزا (چې عزت اونصرت دی) اوخا مخا کورد آخرت (جنت) خيرغوره دی (له دنيا اوما فيها څخه)، اوخا مخا ډېرښه سرای د پرهېزګارانودی.

د حج په موسم کې به چې څوک مکې ته راغی نو د مشرکينو څخه يې د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) په اړه پوښتنه کوله هغوی به ويل چې ساحر کاهن او مجنون دی او د مؤمنانو څخه به يې پوښتنه کوله هغوی به ويل (انزل الله الخير والهدی) او مراد قرانکريم دی (**وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ**) يعنې هغه څه چې دوی تر لاسه کوي په آخرت کې د جنت ثواب غوره او لوی دی د دنيا له کور څخه ځکه چې دنيا له مينځه ځي او آخرت باقي دی (**وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِينَ**) په دې کې دوه وجې دي حسن بصري ( رحمه الله) ويلي دي معنی داده چې آخرت د متقيانو لپاره د رحمت اومغفرت په لحاظ ښه کور دی ځکه دوی په دنيا کې عمل تر سره کوي چې په هغه کې د آخرت ثواب او جنت ته داخليدل دي او يا هم معنی داده چې : د متقيانو لپاره آخرت ښه کور دی .[4]

---

1 الجامع الاحکام القران ، ج۹، ص۲۲۰.

2 بحر العلوم للسمر قندی ، ج۲، ص۱۹۸ - ۱۹۹.

3 النحل ۳۰.

4 الجامع الاحکام القران ، ج ۱،ص ( ۱۰۰- ۱۰۱).

همدارنګه د قصص په سورت کې الله تعالی فرمايي **(وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَى أَفَلَا تَعْقِلُونَ)** [1]

ژباړه : اوهرهغه چې درکړی شوي دي تاسې ته له کوم څیزه پس هغه معاش نفع کارد دغه ژوندون لږخسیس دی اوښایست د هغه دی اوهرهغه چې په نزد د الله دي (اجر) خیرغوره (دی) اوباقي دی (له دغه فاني نه ) آیا پس تاسې عقل نه چلوی.(چې باقي بهتردی په فاني باندې).

**(وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ** شَيْءٍ ) یعنې هغه مال او متاع چې الله (جل جلاله) تاسې ته درکړې ده **(فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا** ) دا هغه څه دي چې تاسې نفعه ترې اخلی او ځان پرې ښايسته کوی بيا له مينځه ځي او فناء کيږی **(وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ وَأَبْقَى** ) یعنې هغه ثواب چې د الله (جل جلاله) پر وړاندې دي چې هغه جنت دی غوره او همیشه دي **(أَفَلَا تَعْقِلُونَ** ) ځکه هغه څوک چې کم او فانی شی د زيات او باقي په مقابل کې غوره کوي د کامل عقل خاوندان نه دي.[2]

**(وَمَا أُوتِيتُمْ مِنْ** شَيْءٍ **فَمَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا)** یعنې ای خلکو چې کوم خير تاسې ته درکړل شوی دی او کوم مال مو چې تر لاسه کړی دی نو دا متاع او دنیوي ژوند اسباب دوام نلري او له مينځه تلونکي دي څومره چې ډير شي آخر له مينځه ځي او ژوند که څومره ډير وي آخر پای ته رسيږي نو تاسې د دنیوي ژوند له زينتونو څخه استفاده کوی او بيا يې نورو خلکو ته پريږدی **(وَمَا عِنْدَ اللَّهِ)** اوهغه چې د الله (جل جلاله) سره دي لکه ثواب او په آخرت کې لويه ورکړه هغه په خپل نفس کی **(خَيْرٌ وَأَبْقَى)** ځکه د هغه لذت له ګندګيو څخه پاک او بهجت او تازه والی يې پای ته نه رسيږي او له مينځه نه ځي **(أَفَلَا تَعْقِلُونَ)** دا ډيره حکيمه توجيه ده یعنې تاسې بيا هم د دنيا په غوښتنه عمل کوی ځکه هغه څوک چې عاقل وي باقي د فاني په مقابل کې او هغه څه چې غوره وي د بد او بيکاره شي په مقابل کې د ځان لپاره غوره کوي . [3]

---

[1] قصص۶۰.

[2] ایسر التفاسیرلکلام العلی الکبیر ، ج۴، ص۸۸.

[3] التفسير الوسيط للقران ، ج۱۰، ص۴۲۶.

### دريم اطلاق : اخروي خير د جنت او هغه د نعمتونو په معنی

ابن قيم[1] د جنت په اړه ويلی دی ( وهو الاسم العام المتناول اولئک الدار و ما اشتملت عليه من أنواع النعيم ...) (2)

يعني جنت د هغه عام نوم څخه عبارت دی چې اخروي کوراود هغه ټولونعمتونوته شامليږي .

امام راغب ويلي دي (الجنة کل بستان ذی شجر) (3)

يعني جنت هرهغه باغ ته ويل کيږي چې په ونوباندې پوښل شوی وي .

امام راغب[4] د نعيم په اړه ويلي دي چې زيات نعمت ته ويل کيږی الله تعالی فرمايي (فی جنت النعيم) همدارنګه يی ويلي دي (جنات النعيم او تنعم) يعنی هغه څه يی تر لاسه کړل چې په هغه کې ښايسته ژوند او نعمت دی . داسې ويل کيږي (نعمه تنعيماً فتنعم) يعني هغه په ښايسته ژوند خوشحالی او نعمت کې دی (5).

د قرآنکريم په ځينو مبارکو آياتونو کې اخروي خير د جنت او د هغه د نعمتونو په معنی باندې استعمال شوی دی لکه د آل عمران په سورت کې الله تعالی فرمايي **(قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِنْ ذَلِكُمْ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ)** (6)

ژباړه : ووايه «ای محمده ! دوی ته» آيا خبردرکړم تاسې ته په بهتر«خيز» له د غو« ۶ واړودنيوي خوندونو» نه ؟، «شته» له پاره د هغوکسانوچې متقيان دي « دا لله احکام تعميلوي » په نزد د رب د دوی جنتونه چې بهيږي لاندې له « مانيواو ونود » هغوی ويالي چې تل به وي « دوی » په دې « جنتونو» کښې اوښځې به وې ښې پاکې اورضامندي ( لويه به وي له کريمه ربه دوی ته ) له جانبه د الله ، اوالله ښه ليدونکی دی (عالم په پټواوښکاره احکامو) د بندګانو(نو هرچا به د خپل عمل جزا ورکړي ).

په دې مبارک آيت کې الله تعالی خبر ورکړی چې هغه ځوک چې د الله (جل جلاله) لپاره تقوا غوره کوي او هميشه د الله (جل جلاله) په عبادت قائم وي د دوی لپاره د دنيوي لذتونو څخه ښه او غوره لذتونه دي او د دوی لپاره د خير ډير ډولونه او هميشني نعمتونه دي هغه نعمتونه دي چې نه سترګو ليدلي او نه

---

[1] - محمد بن ابی بکر بن ايوب بن سعد الزرعی الدمشقی ، ابو عبدالله په کال ۶۹۱هـ کې په دمشق کې تولد شوی دی ، يو د لويو علماوو څخه وو چې د ډيرو ښو اخلاقو څښتن او خلکو به ورسره ډيره مينه درلوده او په کال ۷۵۱هـ کې وفات شوی دی له مشهورو کتابونو څخه يې ( اعلام الموقعين ) او مفتاح دار السعادة دی . وګوره : الاعلام للزرکلی ، ج۶، ص ۵۶.

[2] تفسير القران الکريم ، ابن القيم ، ج۱، ص ۵۱۱-۵۱۲.

[3] المفردات فی غريب القران ،ص۹۸.

[4] - الحسين بن محمد بن المفضل ، أبو القاسم الاصفهانی چې په راغب سره پيژندل کيږي ، يو د حکيمو علماوو څخه وو چې په کال ۵۰۲هـ کې وفات شوی دی د مشهورو کتابونو څخه يې ( اخلاق الراغب ) او جامع التفاسير دی . وګوره : سيرالاعلام النبلاء، ج۱۳، ص ۳۴۱.

[5] المفردات فی غريب القران ، ص۴۹۹.

[6] ال عمران ۱۵.

غوړونو د هغو په اړه څه اوریدلي او نه دبشر په زړه کې تیر شوي دي او د دوی لپاره د الله تعالی رضایت دی چې د هر څه څخه لوړ او پورته دي او د دوی لپاره په جنت کې د ټولو آفتونو او نقصاناتو څخه پاکېښځې دي چې په مخلوقاتو کې کاملې اود ښایسته اخلاقو خاوندانې دي . [1]

همدې مضمون ته ورته روایت له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه روایت شویدی.

**(عن ابی سعید الخدری ان الرسول الله (صلی الله علیه وسلم) قال یقول الله لأهل الجنة یا اهل الجنة فیقولون لبیک ربنا وسعدیک والخیر بیدیک فیقول هل رضیتم فیقولون ما لنا لا نرضی یا رب و قد اعطینا مالم تحصوا احد من خلقک فیقول الا اعطکم افضل من ذالک قال أحل علیکم رضوانی فلا اسخط علیکم ابدا )** ([2])

ژباړه : ابی سعید خدري (رضی الله عنه) له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل الله (جل جلاله) به جنتیانوته ووایي ای جنتیانو! جنتیان به ووایي حاضریو ای ربه اوخیرستا په لاسونوکې دی الله (جل جلاله) به دوی ته ووایي آیا تاسې راضي یاست نوجنتیان به ووایي ای ربه مونږبه ولې نه راضي کیږو حال دا چې تا مونږته بې شماره نعمتونه راکړي دي چې هیڅوک یې نه شي شمارلی الله (جل جلاله) به دوی ته ووایي آیا تردې هم تاسې ته غوره نعمت درنکړم بیا به الله (جل جلاله) ووایي زه له تاسوڅخه راضي یم تردې وروسته به بیا هېڅکله تاسې ته په غوسه اوقهرنشم .

په دې مبارک حدیث کې هم د جنت نعمت ته اشاره شوېده چې هغه د الله (جل جلاله) دیدار دی چې د جنت په نعمتونوکې بهترین نعمت دی.

همدارنګه د انعام په سورت کی الله تعالی فرمایي **(وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلهو وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ)** [3]

ژباړه : اونه دی حیات دنیوي ( ژوندون لږخسیس ) مګرلوبې ( د هلکانو) اوساعت تیری (د لېونیانو) دی اوخامخا درا آخرنی خیر(بهتر) دی د پاره د هغوکسانوچې پرهېزګاري کوي نوآیا عقل نه چلوئ تاسې ( چې دنیا ښه ده که عقبی ؟ چې ایمان راو ړی ! ).

---

[1] تفسیر السعدی ، ج۱، ص۹۶۳.

[2] أبو حاتم التميمي البستي محمد بن حبان بن أحمد ، تحقيق : شعيب الأرنؤوط ، صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان ،الناشر : مؤسسة الرسالة – بيروت ،الطبعة الثانية ، 1414 – 1993 ج ۱۶ ص ۴۷۰ د حدیث شمیره: ۷۴۴۰ آلبانی ویلي دی دا حدیث صحیح دی. وګوره : الصنعاني محمد بن إسماعيل الأمير، رفع الأستار لإبطال أدلة القائلين بفناء النار، تحقيق : العلامة المحدث محمد ناصر الدين الألباني ، چاپ ځای : المكتب الإسلامي – بيروت ،لومړی چاپ د چاپ کال – 1405ص ۱۰۲.

[3] انعام ۳۲.

(**وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ**) د آخرت حقيقي ژوند او معنوي نعمتونه او لذتونه (**خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ**) د هغو کسانو لپاره غوره دي چې په صوري ژوند کې د الله تعالی د محارمو او منهياتو څخه ځان ساتي .[1]

(**وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ** ) يعنې جنت (**خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ**) يعنې هغه کسان چې له شرک او ناروا کارونو څخه ځان ساتي (**أَفَلَا تَعْقِلُونَ**) يعنې آخرت له دنيا څخه افضل او غوره دی.[2]

(**وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ**) آخرت غوره دی د فاني دنيا څخه ځکه هغه باقي دی د هغه کسانو لپاره چې د الله (جل جلاله) څخه ويره لري او دهغه په رسولانو او کتابونو ايمان راوړي (افلا تعقلون) آيا تاسې په دې نه پوهيږی ای کافرانو چې دنيا د هغه کسانو لپاره چې په آخرت کې د الله تعالی د ملاقات څخه انکار کوي شر ده .[3]

همدارنګه د آل عمران په سورت کې الله تعالی فرمايي (**لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ**) [4]

ژباړه : ليکن هغه کسان چې وېرېږي دوی له ربه خپله شته دوی لره جنتونه چې بهيږي له لاندې د ( ونواوما نيود ) هغو ويالې تل به وي دوی په هغو ( جنتونو) کښې په دې حال کښې ( دغه جنتونه ځای د ) مېلمستيا يوپېشکشي ) ده له ( جانبه د ) الله ، اوهغه ( باقی شی ) چې په نزد د الله دی خير( ډېرغوره ) دی له پاره د نېکانو.

(**وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ**) دا هغه کسان دي چې زړونه يې پاک وي نو ټول اقوال او افعال يې پاک وي نو الله (جل جلاله) رحيم ذات به دوی ته لوی اجر او دايمي کاميابي ور په برخه کړي .[5]

(**وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ**) يعنې هغه هميشني نعمتونه چې د الله (جل جلاله) په وړاندې د متقيانو بندګانو لپاره دي د هغه څه څخه غوره او ښه دي چې کافرن په کې ګرځي چې هغه کمه او له مينځه تلونکې متاع ده .[6]

همدارنګه د توبې په سورت کې الله تعالی فرمايي (**لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**) [1]

---

[1] النخجواني نعمة الله بن محمود نعمة الله ، الفواتح الالهيه والمفاتيح الغيبية الموضحة للكلم القرآنية والحكم الفرقانية ، چاپ ځای : دار کابی للنشر، مصر، چاپ کال : 1999 م ، د ټوک ګڼه۱، د پاڼې ګڼه۲۱۷.

[2] بحرالعلوم سمرقندی ، ج۱، ص۴۶۵.

[3] بيان المعانی ، ج۳، ص۳۳۵.

[4] ال عمران ۱۹۸.

[5] تفسير السعدی ، ج۱، ص۱۶۲.

[6] التفسير الوسيط للقران الكريم ، ج ۲، ص۳۸۱.

ژباړه:لیکن رسول (د الله) اوهغه کسان چې ایمان لرونکي دي له ده سره جهاد یې وکړپه مالونوخپلواوځانونوخپلو، اودغه کسان هم دوی لره دي ښېګڼې ( فائدې ) اودغه کسان هم دوی دي په مراد رسېدلي ( بریالیان ). تیارکړي دي الله دوی لره جنتونه چې بهېږي له لاندې ( د ماڼیواو ونو) د هغو ( څلورقسمه ) ویالې تل به وي دوی په دغو( جنتونو) کښې ، دغه ( ننوتل د جنت ) بری دی لوی ( په نفس اوشیطان ).

**(وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ)** یعنې د دوی لپاره د دواړو دارینو منافع دي په دنیا کې نصرت او غنیمت او په آخرت کې جنت او کرامت او یا هم د خیرات څخه حور عین مراد دي .[2]

**(وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ)** په دې کې څلوروجې دي :

لومړی دا چې : دا د دنیا غنیمتونه او د جهاد منافع دي .

دوهم دا چې : له دې څخه مراد زیاتې ورکړې دي .

دریم دا چې : د آخرت ثواب دی .

څلورم دا چې : له دې څخه مراد د جنت حورې دي د الله (جل جلاله) د دې قول پر بناء **(فیهن خیرات حسان)**.[3]

---

[1] توبه ۸۸.

[2] تفسیر سراج المنیر ، ج۱، ص۷۲۸.

[3] تفسیرالماوردی ، ج۲، ص۳۹۰.

## **دوهم فصل : خیرلوري ته د بلنې په لوري قرآني کړنلاره**

### **لومړی مبحث : د خیر لوري ته د قرآنکریم دعوت اود هغه د ثواب بیان**

### **لومړی مطلب : د خیر لوري ته د قرآنکریم** بلنه

### **دوهم مطلب :** په قرآن کې **د خیرداجراوثواب د بیان** له **لارې خیرلوري ته** بلنه

# دوهم فصل

## خیرلوري ته د بلنې قرآني کړنلاره

دا چې د قرآنکریم د نزول اصلي هدف اومقصد انسانانوته د دنیوي اواخروي خیررسول اودې لارې ته سوق کول دي نوپه مختلفواساليبوي خلک د خیرد لارې خپلولوته تشویق کړیدي ترڅوپه دې وسیله د الله (جل جلا له) له عذاب څخه ځان وساتي اوهغه نعمتونه کوم چې الله (جل جلا له) خپلومخلصوته تیارکړي دي ترلاسه کړي اوځان هغه حقیقي کامیابۍ ته ورسوي چې الله (جل جلا له) یې په اړه فرمایلي دي **( فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ)** ([1])

ژباړه : څوک چې د جهنم د اورڅخه خلاص شي اوجنت ته داخل شي نودا حقیقي کامیابي ده .

نوپه همدې اساس په دې فصل کې خیرته د بلنې په اړه د قرآنکریم کړنلاره بیان شویده چې نوموړې موضوع به د قرآنکریم د مبارکوآیاتونوپه رڼا کې وڅېړل شي.

### لومړی مبحث : د خیرلوري ته د قرآنکریم دعوت او د هغه د ثواب بیان

#### لومړی مطلب : خیرلوري ته د قرآنکریم بلنه

د الله کتاب له سرهترپایه خلکوته د خیرپه لوري دعوت اوبلنه ورکوي بلکې د قرآنکریم د نازلېدو یواځینی هدف او مقصد بندګانوته د خیر رسول دي کوموکسانو چې ایمان راوړی او له الله (جل جلا له) څخه وېره لري قرآنکریم د هغوی لپاره نوراو ښکاره منهج اوتګلاره ده ترڅو د خیر تولي لارې په خپل دنیوي ژوند کې خپلې کړي ترڅوله دې لارې څخه دنیوي اواخروي نیکمرغی ته ځان ورسوي الله (جل جلا له) په دې اړه فرمایلي دي: **(يَا أَهْلَ الْكِتَابِ قَدْ جَاءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا مِمَّا كُنْتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ)**([2])

ژباړه : ای اهل کتابو! په تحقیق درغلی دی تاسې ته رسول زمونږ ( محمد ) چې بیانوي (ښکاروي) تاسوته ډېرله هغوشیانوچې وی تاسوچې پټول به موله کتابه ( تورات اوانجیل نه لکه د رجم اوآیت او محمدي نعت ) اوعفوه کوي (تېرېږي) له ډېرو (شیانو ).،

---

[1] آل عمران ۱۸۵.
[2] المائده ۱۵.

په دې مبارک آيت کې له نورڅخه مقصد پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) او له کتاب څخه مقصد قرآنکريم دی ځکه چې ديني او دنيوي امورات اوهرهغه څه چې په دنيا آوآخرت کې د انسان له کمال سره تړاولري قرآنکريم بيان کړيدي [1]

نو د انسان لپاره دا لازمه ده چې داسې کارترسره کړي چې په هغه کې د ده لپاره خيراوکاميابي شتون ولري او په دې صورت کې په الله (جل جلا له) خپل دې بنده ته د ده اجراوثواب بغيرله کموالي څخه په پوره او کامل ډول ورپه برخه کړي الله (جل جلا له) فرمايلي دي:**(فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ )** [2]

ژباړه : پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د يوې زرې د خيرنېکۍ نو وبه ويني جزاء د هغه.

پورته نکاتو ته په کتوسره قرآنکريم په مختلفوطريقو او ډولونو سره خلکوته د خيرپه لوري بلنه ورکړېده چې نوموړي ډولونه به په تفصيل سره په راتلونکو کرښوکې ذکرشي.

## لومړی ډول بلنه : د خيرپه لوري سرعت او يو له بل څخه د خيرپه کارکې مخکې والی

قرآنکريم په قوت سره خلک د خيرپه لوري بللي دي ځکه هېڅوک په خپل ژوند دا باور نشي کولای چې څه وخت به پای ته رسيږي هيچاته هم د خپل آخرې سفروخت معلو م نه دی او په ناڅاپي توګه انسانان له مرګ سره مخامخ کېدونکي دي د انسان د کاميابۍ لپاره څومره ښه اوغوره ده چې په داسې حالت کې چې د خيرپه کارکې له هرچا څخه وړاندې وي له دې فاني نړۍ څخه د ابدي ژوند په لوري کډه وکړي الله (جل جلا له) فرمايلي دي: **(وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ أَيْنَ مَا تَكُونُوا يَأْتِ بِكُمُ اللَّهُ جَمِيعًا إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)**[3]

ژباړه : اوهريو(امت ) لره يوه قبله ده چې دی مخ ګرځوونکی دی هغې ته ( په لمانځه کې ) نوتاسې وړاندې شئ ! (يوتربله ) نېنېکيوته هرچېرته چې ياست تاسې رابه ولي تاسې الله ټول ( په قيامت کښې د پاره د جزاء د اعمالو) بېشکه چې الله په هرشي باندې ښه قادردی.

يعني د هردين اوملت پيروان د يوخاص لوري لرونکي دي ترڅو د عبادت په وخت کې د هغه لوري په طرف مخ وګرځوي ښه کاريواځې دا نه دی چې د قبلې په لوري يوڅوک مخه کړي ځکه دا هغه شرائع دي چې د حالاتو او زماني په غوښتنه د نسخې اونقل غوښتونکي دي د الله (جل جلا له) د ولايت او نيکبختی منشور دهغه د اوامرو عملي کول اوهغه ته د نژدېوالی پلټنه ده که په کوم نفس کې شتون ونه لري هغه په دنيا اوآخرت کې له تاوان سره مخامخ کېدونکی دی چې دا ټکی د ټولو شريعتونو د اتفاق

---

[1] آيسر التفاسيرلكلام العلى الكبير ج ١ ص ٦١٠ .

[2] الزلزلة ٧.

[3] البقرة ١٤٨.

وړدی الله (جل جلا له) خپل بندګان د نېکو اوښوکارونو په ترسره کولو سبقت اویوله بل څخه په وړاندې والي مأمورکړي دي هغه څوک چې په دنیا کې په نېکو کارونوکې یوله بل څخه سبقت کوي هغه به په آخرت کې له ټولوڅخه وړاندې جنت ته تلونکي اود خیرترسره کوونکي د لوړې مرتبې خاندان وي خیرات ټولو فرائضو او نوافلوته شامېلېږي لکه لمونځ ، روژه ، زکات ، حج ، عمره ، جهاد ، خلکوته همېشه اود لږ وخت لپاره نفع اوفایده رسول. [1]

ابن زید د (**فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ**) په تفسیرکې ویلي دي له دې څخه مراد صالح اعمال دي. [2]

الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې د مؤمنانوستاینه هم د دې لپاره کړېده چې د دوی له صفتونو څخه یوهم دادی چې په نیکوکارونوکې یوله بل څخه مخکې کېدونکې اومسابقه کوونکې دي الله (جل جلا له) فرمایلي دي: (**يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ**)[3]

ژباړه : ایمان راوړي په الله باندې اوپه ورځې اخرې، ( د قیامت ) باندې اوامر( حکم ) کوي خلقوته په معروف ( نېکۍ ) سره اومنعه کوي خلق له منکر( بدۍ ) څنېنې اوتلوارکوي په ښوکارونوکښې ( تآخیرنه کوي )، اودغه کسان له صالحانوڅخني دي.

(**وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ**) یعني مؤمنان صالح اعمال ترسره کوي له هغه سره مینه لري او د صالحواعمالو ترسره کول د دوی لپاره سخت نه وي ځکه چې دوی یې په مرتبه اوښه عاقبت باندې پوهېږي خو د نېکواعمالو له ترسره کولوڅخه هغه کسان وروسته پاتې کېږي چې په زړونوکې یې مرض شتون ولري لکه چې الله (جل جلا له) د منافقینو توصیف په لاندې توګه کړیدی (**إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا**)[4]

ژباړه : بېشکه چې منافقان ټګي کوي ( په اظهارد اسلام اواخفاء د کفر) له الله سره اوالله سزا ورکوونکی دی د دوی ( د ټګۍ په سبب ) اوهرکله چې پاڅېږي دغه ( منافقان ) لمانځه ته نوپاڅېږي سست کاهلان ښیي دوی خلکوته ( ځان خپل چې مونږهم مسلمانان یو ) اونه یادوي دوی الله مګر( ریایي یادول ) لږ.

همدا رنګه د مائدې په سورت کې الله (جل جلا له) فرمایلي دي (**وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا**

---

[1] تفسیرالسعدي ص ۷۲ .

[2] تفسیرالطبري ج ۲ ص ۶۸۰.

[3] آل عمران ۱۱۴.

[4] النساء ۱۴۲.

مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ)[1]

ژباړه : اونازل کړی (لیږلی ) دی مونږ تاته ( ای محمده !) کتاب (قرآن) په حقه سره چې مصدق ( حق ګڼونکی ) دی د هغه چې نازل شویدی په مخ د ده کښې له کتابونوڅخه اوساتونکی دی پر( مضامینود ) هغه ( یعنې شاهد دی په حقانیت د جنس د هغه کتاب ) نوحکم کوه ( ای محمده !) په مینځ د دغو( کتابیانوکښې هم که تاته راغلل ) په هغه شي چې لیږلی دی الله تاته اومه کوه متابعت د آرزوګانود دوی (اومه اړوه ) له هغه شي څخه چې راغلی دی تاته له حق څخه هرچاته مقررکړی دی مونږله تاسې ( ای امتونو !) یوشریعت ( اصول ) اولاره روښانه اوکه اراده فرمایلې وی الله نوخامخا به یې ګرځولی وی تاسې امت یوپس وړاندې شئ تاسې یوتربله نیښکیوته ( اود فضائلوپه اکتساب اوله رذائلوڅخه په اجتناب کښې تلوارکوئ! ) خاص طرف د الله ته بیرته ورتله دي ستاسې د ټولونوخبربه کړي تاسې په قیامت کښې په هغه ( امرد دین ) چې وی تاسې چې په هغه کښې به مواختلاف کاوه.

(**فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ**) یعنې ای خلکوتاسې د نیښکوکارونو په سرته رسولوکې چابکې وکړئ او د نیښکواعمالو په مسابقه کې یوله بل څخه په وړاندې والي کې ښه کوشش وکړئ ځکه په دې کې ستاسې لپاره خیرصلاح او الله له عذاب څخه خلاصون اوالهي فضل اورضایت ترلاسه کول دي. [2]

(**فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ**) یعنې تاسې د هغه څه په لوري چې ستاسو لپاره په دین او دنیا کې غوره دي سرعت وکړئ په نیکوکارونواو صالحواعمالوکې یوله بل سره مسابقه وکړئ له دې فرصت څخه ګټه پورته کړئ ترڅو د الله (جل جلا له) فضل ترلاسه کړی ځکه څوک چې په دنیا کې په صالحواعمالوکې له نورو څخه وړاندې وي هغه به په آخرت کې هم جنت ته له نورو څخه مخکې تلونکی اوالله (جل جلا له) ته له ټولو څخه نژدې وي. [3]

قرآنکریم یواځې خیرته په بلنه باندې اکتفاء نده کړې بلکې انسانان یې د خیرپه کارونوکې یوله بل سره مسابقې ته تشویق اوهڅولي دي الله (جل جلا له) فرمایلي دي (**وَفِي ذَلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ**)[4]

ژباړه : اوپه دغه ( شرابونواونوروجنتي نعماؤ) باندې پس بایده دي چې رغبت وکړي رغبت کوونکي ( په کولو د فضائلواوپرېښودلو درزائلوچې عجلت وکړی په حسناتواوځان وساتی له سیآتو).

---

[1] المائدة ٤٨

[2] التفسیرالوسیط للزحیلي ج ١ ص ٤٦٨

[3] تفسیرالشیخ المراغی ۶ ١٣٢

[4] المطففین ٢۶

(**وَفِي ذَلِكَ**) چې هغه د جنت شراب اوياهم د جنت هغه نعمتونه دي چې مخکې تېرشول (**فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ** ) له دې سره دې رغبت کوونکي رغبت ياهم کوشش کوونکي کوشش وکړي يا دا چې د دې نعمتونو د لاسته راوړلولپاره دې مسابقه کوونکي يوله بل سره مسابقه وکړي چې دا نېک کارونه په هڅه اوله ګناهونوڅخه په ځان بندولو سره کېږي او تنافس په اصل کې دې ته ويل کېږي چې يوڅوک د ښه او نفيس شي په لاسته راوړلوکي له نورو څخه مخکې شي. [1]

له پورته مبارکو آيتونوڅخه دا په ښکاره معلومه شوه چې الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې خپل بندګان د خير په کارکې يوله بل څخه د وړاندې کېدلو په لوري بللي چې د دې کارعملي کول او خپلول به دوی ته دنيوي او اخروي سعادت او کاميابي ور په برخه کړي.

### دويم ډول بلنه : په معاملاتوکې د عدل په لوري دعوت اوبلنه

الله (جل جلا له) خپلوبندګانوته له نورو سره په معاملاتوکې په عدالت باندې امرکړيدی چې د معاملاتو له جملې څخه يوهم اخيستل اوخرڅول دي قرآنکريم دا واضحه کړېده چې نوموړی کارخيراو غوره دی اوعاقبت يې هم د بندګانو لپاره ډېرښه دی الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا**)[2]

ژباړه : اوپوره ورکوئ تاسي پيمانه هرکله چې پيمانه کوی تاسي اوتول کوی تاسي په تله ( وزن ) برابرسره ( چې پکې کوږوالی نه وي )، دغه ( پوره کول د کيل او وزن ) خيرډېرغوره اوخورا ډېرښه دي له خيانته له جهته د مآل ( اوعاقبت ).

(**وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ**) يعني کله موچې کوم شی د خلکولپاره پيمانه کول هغه مه کموئ ترڅو پورې هغوی ته خپل حق پوره ورسېږي اوکه چېرته مو د ځان لپاره کوم شی پيمانه کول هغه موپوره نکړل کم مو وا واخيستل په دې کې کومه ګناه نشته (**وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ** ) يعني: کله موچې کوم شی وزن کول ظلم مه کوئ په عدل سره يې تول کړئ ځکه ټول خلک اخيستلو پلورلواو د خپل حق ترلاسه کولو ته ضرورت لري په همدې سبب شارع تطفيف او نقصان منع کړيدی ترڅومالونه له خپلوخاوندانوسره پاتې شي بيا الله (جل جلا له) د دې کار ښا يسته عاقبت بيان کړيدی فرمايلي يې دي (**ذَلِكَ خَيْر**) يعني په وعده ستاسولپاره وفا کول د چا لپاره چې کوم شی پيمانه کوئ هغوی ته په عدالت سره پوره ورکول د يوشي

---

[1] البحرالمديد ج ۸ ص ۲۶۲.

[2] الاسراء ۳۵.

وزن کول ستاسو لپاره په دنيا کې غوره دی په پيمانه او وزن کولو کې له کموالي څخه ځکه دا کارد خلکو له لوري ستاسي د ستاينې او په معاملاتو کې ستاسي سره د خلکو د رغبت وسيله ده.

(**وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا** ) يعني دا کار د ښايسته عاقبت لرونکی دی ځکه په دې کار په آخرت کې ثواب اوله دردناک عذاب څخه نجات مرتب دی او زياتره هغه فقيران چې په امانت او له خيانت څخه په لرې والي مشهور شويدي دنيا هغوی ته مخه کړېده ثروت او دارايي يې زياته شوې او غنيان شويدي چې دا کار په دنيا کې هم د دوی د نېکموغی سبب ګرځېدلی دی. [1]

## دريم ډول بلنه : د خيرپه لوري په حسنه قدوة بلنه

الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې د خپلو پيغمبرانو(عليهم السلام) ستاينه په دې وجه کړېده چې هغوی به خپل ټول وخت خيرته په بلنه تېراوه او ټول وخت به د الله (جل جلا له) په عبادت مشغول اومصروف ؤ الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الخيراتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ**)[2]

ژباړه : اوګرځولي وو مونږ دوی (داسې) امامان چې سمه صافه لاره يې ښووله په حکم زمونږ سره ( خلقوته ) او وحی کړې وه مونږ دوی ته د کولود خيراتونو( نېکوکارونو) اود قائمولو ( سم اداء کولو) د لمانځه اود ورکولود زکات او وو دوی ( ټول ) خاص مونږته عبادت کوونکي.

په دې مبارک آيت کې الله (جل جلا له) هغه فضائلوته اشاره کړېده چې په ابراهيم او د هغه په زوی اسماعيل يې کړيدي الله (جل جلا له) ويلي دي (**وَجَعَلْنَاهُمْ**) يعني ابراهيم، اسحق ، يعقوب (عليهم السلام) مو د هدا يت امامان ګرځولي ؤ چې په خيرکې په هغوی پسې اقتداء کېږي اوخلک د الله (جل جلا له) د دين په لوري دعوت کوي چې الله (جل جلا له) پردې کارمکلف کړيدي دوی ته يې خبرهم ورکړی دی او د همدې کار لپاره يې را لېږلي دي چې دا د الله (جل جلا له) د دې قول (**وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا**) معنی ده د الله (جل جلا له) دا قول (**وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ**) يعني : دوی ته مو دا وحی کړې وه چې نېک کارونه ترسره کړي خيرات د خيرجمع ده هرنافع کارته ويل کېږي چې په هغه کې ضررشتون ونه لري او د الله (جل جلا له) رضايت پکښې وي بل دا چې لمونځ اقامه کړي او زکات ورکړي د الله (جل جلا له) دا قول (**وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ**) يعني دوی زمونږ اوامرپه کوم شي چې

---

[1] المراغی ، الشيخ أحمد مصطفی ،تفسيرالشيخ المراغي ، چاپ ځای : شرکة مکتبة ومطبعة مصطفی البابی الحلبي وأولاده بمصر د ټوکونوشمير : 30 د ټوک ګڼه ، ١٥ د پاڼې ګڼه ،٣٥.

[2] الانبياء ٧٣.

مونږمآمورګرځولي ؤ عملي کړل زمونږ اطاعت کوونکي اومونږ ته عاجزي کوونکي ؤ او دا د الله (جل جلا له) له لوري په ښایسته صفاتواو احوالو په دوی ثناء اوستاينه ده. [1]

## څلورم ډول بلنه : په نیک کاربانديِ استقامت په خاصه توګه امربالمعروف اونهی عن المنکر

د خيرپه لوري د قرآنکريم بلنه په هيڅ وخت کې هم نه دربېږي بلکه قرآنکريم اسلامي امت ته دا پيغام ورکړی چې په هرځای اوهر وخت کې د دوی په مينځ کي داسي يوجماعت شتون ولري چې خلک د خيراونېکوکارونو په لوري رابلي او صرف په ټولنه کي همدې هدف ته د رسېدلولپاره همېشه کاراو هڅه کوي الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**)[2]

ژباړه : او وي دې (تل) له تاسي يوه ډله چې بولي ( خلق ) په طرف د خير(اسلام ) اوامر( حکم ) کوي خلقوته په معروف (نېکی ) سره اومنعه کوی خلق له منکر(بدی ) نه اودغه ( آمرين باالمعروف ناهين عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسېدلي.

يعني : دا چې ای د مؤمنانو ډلي په تاسي کې دې داسې يوه ډله شتون ولري چې الله په هغوی باندې د ايمان او هغه په دين باندې د عمل کولو نعمت لوروَلی وي (**أُمَّةٌ**) يعني: يوه ډله اويوجماعت (**يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ**) د هرهغه څه لپاره نوم دی چې الله ته د نژدېوالي اوهغه د قهرڅخه د لرې والي سبب وي (**وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ**) معروف له هرهغه کارڅخه عبارت دی چې شرعآ اوعقلآ د هغه ښه والی ثابت وي (**وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ**) منکرله هرهغه کارڅخه عبارت دی چې شرعآ اوعقلآ د هغه قباحت ثابت وي دا دالله (جل جلا له) له لوري مؤمنانوته ارشاد دی چې په دوی کې داسي يوه ډله شتون ولري چې د الله (جل جلا له) د لارې او دين په لوري دعوت چلوي په دې کې د دين عالمان او هغه واعظان چې د نورو اديانو پيروان په اسلام کې دا خيلېدو ته را بلي د الله (جل جلا له) د لارې مجاهدين د خلکو د حالاتو پلټونکي چې په شريعت باندې خلکوته د پابندئ دعوت ورکوي لکه پنځه لمنځونه ، زکات ، روژه ، حج او داسي نورو د اسلام شرائعوته شامليږي يا هم هغه کسان چې د پيماني او وزنونو او بازارونو د اهل پلټنه کوي هغوی د خيانت او باطلو معاملاتو څخه منع کوي چې دا ټول د کفايي فرضونو له جملې څخه دي لکه څنګه چې نوموړی آيت پردې باندې دلالت کوي نوځکه الله (جل جلا له) ويلي دي (**وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ** ) يعني همدغه کسان هدف ته رسېدونکي او له هرڅه څخه چې وېره لري نجات موندونکي دي. [3]

---

[1] ايسرالتفاسيرلكلام العلي الكبيرج ٣ پاڼي (٤٢٨ – ٤٢٩)

[2] آل عمران ١٠٤.

[3] تفسيرالسعدي ١٤٢.

د تېر بحث څخه دا په ډاګه شوه چې قرآنکریم د خیراوصالح عمل اساسي مصدراو پیاوړی بنسټ دی همدا ډول قرآنکریم د بشریت لپاره بهترین معلم اوانسان لپاره د حرکت لویه سرچینه ده ترڅو د خپل مسلمان ورور په خدمت کې وي او په دې وسیله د الله (جل جلا له) رضایت ترلاسه کړي په دې لارکې خپل شخصي او مادي منافع له پامه وغورځوي د دې کتاب بل عظمت دا دی چې یواځې یې خیرته په بلنه بسنه نه ده کړې بلکه په دې یې ټینګارکړیدی چې په دې برخه کې یو له بل سره مسابقه ترسره شي د خپل ځان لپاره د الله (جل جلا له) نازولي بندګان چې پیغمبران (علیهم السلام) دي مقتداء وګرځول شي د هغوی صورت او سیرت د ژوند په ټولو اړخونو کې عملي کړي چې دا کار د دنیوي او اخروي بریا او کامیابی ضمانت کوي.

## دوهم مطلب : په قرآن کې د خیرد اجراوثواب د بیان له لارې خیرلوري ته بلنه

د خیرکارترسره کول د انسان د نفس لپاره د غذا اهمیت لري او انسان ته معنوي قوت ورکوي همدا رنګه د خیرد کار ترسره کوونکي ته د الله (جل جلا له) له لوري اجراوثواب هم ورکول کېږي هغه شخص که مسلمان وي یاهم په اسلام عقیده ونه لري خو البته په دې توپیرچې کافرته د خیرد کارثواب او بدله یواځې په دنیا کې ورکول کېږي او په آخرت کې به له لوی زیان او هلاکت سره مخ کېدونکی وي د خپل کفرپه سبب اما مؤمن او مسلمان شخص ته به د خیرکاراجراوثواب په دنیا او آخرت دواړو کې ورکول کېږي ځکه مؤمن په دنیا کې د الله (جل جلا له) وحدانیت منلی په الله (جل جلا له) یې ایمان راوړی د هغه قانون یې عملي کړیدی الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې خپل بندګان په ډول ډول اسلوب سره د خیرکارته هڅولي دي او د خپل کتاب په مختلفوځایونوکي یې د خیراجراوثواب بیان کړیدی چې په راتلونکو کرښوکي به نوموړې موضوع وڅېړل شي.

## لومړی ډول : د خیرپه کار اګرکه لږ یا کوچنی هم وي د اجر او ثواب ورکول

هرعمل چې په دنیا کې بنده ترسره کوي که په لږوالي اوکوچنوالي کې انتهایي درجې ته هم رسېدلی وي د دې عمل ترسره کوونکي ته به د الله (جل جلا له) له لوري اجراو ثواب ورکول کېږي قرآنکریم په صراحت سره دې ته اشاره کړېده چې دا عمل خیردی الله (جل جلا له) فرمایلي دي( **فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ**)[1]

ژباړه : پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د یوې زرې د خیرنېکی نو وبه ویني جزاء د هغه.

---

[1] الزلزلة ۷.

يعني : څوک چې په دې دنيا کې د يوې زرې په اندازه د خيرعمل ترسره کړي هغه به په آخرت کې هم خير ويني. (1)

همدارنګه الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ)**(2)

ژباړه : او وويريږئ له هغې ورځې چې مومي به هرنفس پکښې هرهغه څه چې کړې وي له خيره ( له نېښکۍ په خپل مخ کې ) حاضرکړی شوی اوهرهغه څه چې کړې وي ده له بدۍ نه آرزو به کوي دا نفس د دې چې کاشکي په مينځ د دې ( نفس کې اوپه مينځ د دغه ( بد عمل ) کښې مسافه لرې ( اوږده ) او وېروي تاسې الله له ( عذابه ) د نفس خپل نه او الله ډېرمهربان دی پربندګانوخپلو.

**(يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُحْضَرًا)** يعني كامل پوره چې د زرې په اندازه به يې هم اجراو ثواب نه کمېږي. (3)

همدا رنګه الله (جل جلا له) فرمايلي دي: **(وَمَا يَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُكْفَرُوهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ)**(4)

ژباړه : اوهرڅه چې کوي دوی له خيره ( ښه ) پس له سره به ضايع نکړې دوی لره ( ثواب د ) هغه کاراو الله ښه عالم دی پراحوالو د پرهېزګارانوهم .

په دې مبارک آيت کې دې ټکي ته اشاره شوېده څوک چې صالح اعمال ترسره کوي يا هم د خيرد کارونو په لورې راتګ کوي د ده د عمل څخه څوک انکارنشي کولای اود الله (جل جلا له) له لوري پرې اعتراف کيږي او دوی ته پوره جزا ورکول کيږي ځکه دوی متقيان دی الله (جل جلا له) پرې عالم دی او د دوی اجراو ثواب نه ضايع کوي. (5)

د پورته مبارکو آيتونو څخه دا په ډاګه معلومېږي چې الله (جل جلا له) د خپلو بندګانو د نېکو کارونو اجراو ثواب اګرکه عمل ډېرکم هم وي نه ضايع کوي او په پوره او كامله توګه يې په آخرت کې ثواب ورکوي.

---

[1] الخطيب الدكتور عبد الكريم ، التفسيرالقرآني للقرآن ، چاپ ځای : دار الفكر العربي – القاهرة ، د ټوکونوشمير: 16 د ټوک ګڼه ، ۱۶ د پاڼي ګڼه، ۱۶۵۲

[2] آل عمران ۳۰.

[3] تفسيرالسعدي ص ۱۲۸.

[4] آل عمران .۱۱۵.

[5] ايسرالتفاسيرلكلام العلى الكبير ج۱ ص ۳۶۳.

## دوهم ډول : د لږعمل په مقابل کې د زيات اجراوثواب ورکول

که چېرته قرآنکريم ته مراجعه وشي نودا په ډاګه معلومېږي چې الله (جل جلا له) له خپلو بندګانوسره د لږ عمل په مقابل کې د زيات اجراو ثواب وعده کړېده او په ډول ډول اسلوب او طريقو يې خپل بندګان د نېکو اعمالو ترسره کولوته تشويق کړيدي الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ (89) وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)**[1]

ژباړه : هرهغه څوک چې راشي په حسنه ( نېکۍ ) سره ( چې کلمه د توحيد ده ) پس شته ده ته ( جزاء ) بهترغوره له هغه اودوی به له سختې وېرې د دغې ورځې په امان وي ، اوهرهغه څوک چې راشي په سيئه ( بدۍ شرک سره ) پس نسکوربه وغورځول شي مخونه د دوی په اور ( د دوزخ کښې او وبه ويل شي دوی ته له جانبه د الله ) آيا جزاء درکوله کيږي ( بلکه نه درکوله کيږي ) مګر ( جزاء د شرک اونورمعاصي ) هغه چې وی تاسي چې کول به موپه دنيا کښې .

په دې دواړو مبارکو آيتونوکې په انساني ټولنه کې د اسلامي دعوت حاصل ته اشاره شوېده څکه خلک خو يا مؤمنان او نېک عمله دي اويا هم کافران او بد عمله هرچې مؤمنان او نېک عمله دي هغوی چې صالح اعمال ترسره کوي د دوی لپاره د دوی د عمل جزا څوچنده ده همدا ډول د دوی لپاره د الله (جل جلا له) رضايت اورحمت هم دی او هرچې د فساد اوګمراهی اهل دی د دوی جزا جهنم دی چې په بد حالت به دوی هلته يوړل شي او پرمخې به دوی په جهنم کې و غورځول شي چې دا هم د دوی د خپلواعمالو سزا ده.[2]

همدا رنګه د قصص په سورت کې الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)**[3]

ژباړه : اوهرچا چې وکړه کومه نېنېکي پس شته ده ته ( ښه جزاء ) خيرغوره له جهته د دغې ( حسنې ) اوهرچا چې وکړه کومه بدي پس نه شي ورکولی جزاء هغوکسانوته چې کړي يې دي عمل د بديو مګرجزاء د هغه شي چې وو دوی چې کاوه به يې په دنيا کښې .

**(مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا)** يعني د دوی لپاره له لسوچندو څخه نيولې تراووه سوه چندو پورې اويا هم له دې څخه زيات اجراوثواب دی څومره چې د الله (جل جلا له) خوښه شي.[1]

---

1 النمل ( ٨٩ ٩٠)

2 التفسيرالقرآني للقرآن ج١٠ ص ٣٠١

3 القصص ٨٤

امام زمحشري[2] د دې آيت په تفسيرکي داسي ليکلي دي دا د الله (جل جلا له) لوی فضل او پراخه رحمت دی چې د ګناه په مقابل کې سزا نه ورکوي مګرد هماغه ګناه په اندازه اود نيکۍ په مقابل کې لس چنده يا هم اووه سوه چنده اجر ورکوي چې دا د الله (جل جلا له) د دې قول معنی ده. **(فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا)**[3]

له پورته مبارکو آيتونو څخه دا په ډاګه معلوميږي چې څوک په دنياکې لږعمل هم ترسره کړي نو الله (جل جلا له) به د دې لږ عمل په مقابل کې لوی اجراو ثواب ورپه برخه کړي.

## دريم ډول : قرآنکريم په دې صراحت لري چې د خيريه کارثواب ورکول هم خيردی

الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې دا مطلب بيان کړيدی چې د خيريه کار ثواب او اجر ورکول هم خيردی الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(وَلَوْ أَنَّهُمْ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَمَثُوبَةٌ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ خَيْرٌ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ)**[4]

ژباړه : اوکه په تحقيق دوی ايمان راوړی وی اوپرهيزيي کړی وی ( له سحره اوله يهوديته ) نوهرومرو (خامخا ) ثواب له طرفه د الله څخه ډيرغوره دی ( له دې سحراو رشوت د تورات په تحريف ) که وی دوی چې پوهيدلی ( په بهتری د « تورات » نوسحربه يې نه زده کاوه اوله پاک الله ځنبني به وېرېدل اوله مناهيوبه لرې ګرځېدل ) .

يعني : د الله (جل جلا له) اجراو ثواب له کوم شي څخه چې دوی په هغه کې واقع دي خيراو غوره دی اودوی هم په دې باندې پوهېدل خو د دوی جهالت او نا پوهی دوی عمل ته نه پرېښودل.[5]

همدا ډول په بل ځای کې الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا وَلَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الصَّابِرُونَ)**[6]

ژباړه : او وويل دوی ته هغوکسانوچې ورکړی شوی ؤ ( هغوی ته ) علم فهم چې افسوس دی تاسي ته ( ای طلابو د دنيا ) ثواب د الله خيرډيرغوره دی هغه چاته چې ايمان يې راوړی دی ( په الله او رسول الله ) اوعمل يې کړی دی د نېنېکيو، اونشي ښوولی ورکولی دغه خبره مګرصبرکوونکوته ( په طاعت اومصيبت اوله معصيبته ).

---

[1] التفسيرالمظهري ج ٧ ص ١٨٧.

[2] - ابوالقاسم محمود بن عمر بن محمد د دين ، تفسير ، علم ، لغت او معتزلی امامانو له ډلی څخه ده په زمخشر کې په کال ۴۶۷هـ کې تولد شوی او په کال ۵۳۸هـ کې په جرجانيه کې وفات شوی دی د مشهورو کتابونو څخه يې الکشاف او اساس البلاغة دی . وګوره : سير الاعلام النبلاء ، ج ۱۵، ص ۱۷.

[3] الزمخشري أبو القاسم محمود بن عمر الخوارزمي ، الكشاف عن حقائق التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل ، تحقيق : عبد الرزاق المهدي ، چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي – بيروت ، د ټوکونوشمير 4 د ټوک ګڼه، ٣ د پاڼي ګڼه، ۴٣۶.

[4] البقرة ١٠٣.

[5] تفسيرالنسفی په لږتصرف ج ١ ص ٨٠.

[6] القصص ٨٠.

**(ثَوَابُ اللَّهِ خَيْرٌ لِمَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا)** یعني : کومه جزا چې هغه جنت دی د الله (جل جلا له) په نزد د هغومؤمنانو لپاره ده چې صالح اعمال ترسره کوي د فاني دنیا له بې ارزښتو شیانو څخه غوره اوښه ده. (1)

له پورته مبارکو آیتونو څخه دا څرګنده شوه چې د الله (جل جلا له) له لوري د نېکو اعمالو په مقابل کې خپلو بندګانو ته د اجراو ثواب ورکول په خپله خیردی.

## څلورم ډول : د خیرپه کاردالله له لوري جنت ورکول

الله (جل جلا له) په خپل کتاب کې دې ټکي ته اشاره کړېده څوک چې په خپل دنیوي ژوند کې نېک عمل ترسره کړي نو الله (جل جلا له) به ده ته په آخرت کې لوړې درجې او جنت ور په برخه کړي الله (جل جلا له) فرمایلي دي: **(هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقِّ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا)**(2)

ژباړه : په دې وخت کښې ټول ( ګرد ) ولایت اختیارخاص الله لره حق دی ، الله خیر( غوره ) دی له جهته د ثواب اوخیر ( غوره ) دی له جهته د عاقبته ( اوبدل ورکولوخپلودوستانولره ).

**(هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلَّهِ الْحَقّ)** یعنې: په دې وخت کې به ملک سلطنت نصرت حکم خاص الله (جل جلا له) لره وي چې حقیقي اله اومعبود دی اوالله (جل جلا له) **(خَيْرٌ ثَوَابًا وَخَيْرٌ عُقْبًا)** یعني: غوره جزا او بهترین عاقبت د الله (جل جلا له) د مؤمنو بندګانو لپاره دی الله (جل جلا له) به د هغوی نصرت وکړي په دنیا کې یې چې څه له لاسه وتلي دي الله (جل جلا له) به یې عوض ورکړي هغه عملونه چې په اخلاص ترسره شوي وي هغه د لوی ثواب اوعاقبت لرونکي دي دا مبارک آیت پردې ښکاره دلیل دی چې الله (جل جلا له) د نیکی په مقابل کې غوره جزا ورکوي خوچنده او په څومره اندازه چې د الله (جل جلا له) خوښه شي په هغه اندازه چې یوعاقل اوهوښیارشخص د الله (جل جلا له) د فضل او احسان آرزو لري د دې لپاره یې د الله (جل جلا له) رضایت او طاعت ته مخ اړولی وي ځکه کوم نعمتونه چې د الله (جل جلا له) په وړاندې دي هغه غوره او باقي پاتې کېدونکي دي. (3)

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلا له) فرمایلي دي **(الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا)**(4)

ژباړه : مال د دنیا اوزان ( چې پکښې اخروي مفاد نه وي ) زینت ( رونق ) ښایست د دې ژوندون لرخسیس دی، اوپه اعتبارد جزاء باقي پاتې کېدونکي نیک (عملونه ) خیرغوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثوابه او ( خیر ) غوره دي له جهته د امېد .

---

1 ایسرالتفاسیرلکلام العلی الکبیرج ۴ ص۱۰۱

2 الکهف ۴۴.

3 التفسیرالوسیط الزحیلی په لږ تصرف ج۲ ص ۱۴۲۷.

4 الکهف ۴۶،

يعني : د خيرهغه اعمال چې د انسان لپاره يې ثمره باقي پاتې کيږي لکه لمونځونه ، صدقات ، د الله (جل جلا له) په لاره کې جهاد او له بې وزلو او محتاجانوسره مرسته د جزا په لحاظ د الله (جل جلا له) په نزد له مال او زامنو ښخه غوره ده
**(وَخَيْرٌ أَمَلًا)** ځکه په دې سره انسان په آخرت کې هغه څه ته رسيږي چې په دنيا کې يې آرزو لرله او هغه جنت دى. [1]
په بل مبارک آيت کې الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَرَدًّا)**[2]
ژباړه : او زياتوي الله ( په دنيا کښې ) هغوکسانوته چې سمه صافه لاره يې موندلې وي هدايت ثبات اويقين ، اوباقي پاتې کېدونکي ( د جزاء په اعتبار ) نيک عملونه خيرغوره دي په نزد د رب ستا له جهته د ثواب اوخيربهترغوره دي له جهته د بېرته ورتللو.
**(وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ)** يعنې : هغه اعمال چې له مينځه نه ځي که نورهم ختم شي هغه نه ختميږي چې هغه صالح اعمال دي لکه لمونځ ، زکات ، روژه ،حج ، عمره ، قرائت ، تسبيح ، تکبير، تحميد ، تهليل ، له خلکوسره نيکي کول ، قلبي او بدني اعمال دا ذکرشوي اعمال **(خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَرَدًّا)** يعنې : د الله په نزد يې ثواب او اجرغوره دى چې هغه جنت دى. [3]

---

[1] تفسيرالشيخ المراغی ج ۱۵ ص ۱۵۵.

[2] مريم ۷۶.

[3] تفسيرالسعدی ص ۴۹۹.

## دوهم مبحث : خيرته په بلنه کې قرآني کړنلاره

### لومړی مطلب : خيرته په بلنه کې د قرآنکريم خبري اسلوب

### دوهم مطلب : خيرته په بلنه کې د قرآنکريم انشائي اسلوب

## دوهم مبحث : خيرته په بلنه کې قرآني کړنلاره

### لومړی مطلب : خيرته په بلنه کې د قرآنکريم خبري اسلوب

خيرته په بلنه کې قرآنکريم له خبري اسلوب څخه په زياتوموارد‌وکې استفاده کړېده له خبري اسلوب څخه مقصد دادی چې قرآنکريم خلک د مختلفو لارو د خپلولو له لارې د خيرلورې ته تشويق اوهڅولي دي او په دې برخه کې يې د خيرتولې لارې په مفصله توګه معرفي کړې دي اوله خلکوڅخه يې د نوموړولارو د خپلولو غوښتنه کړېده چې دا کارد دنيوي اواخروي کاميابۍ لپاره يوه آسانه وسيله ده چې په را تلونکوکرښوکې به په تفصيل سره وړاندې شي.

### لومړی اسلوب : خبري اسلوب يواځې د خبرد افادې لپاره

قرآنکريم په ځينومبارکو آيتونو کې خيرته په بلنه کې د خبري اسلوب څخه د خبرد افادې لپاره اشاره کړېده لکه څنګه چې الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(فَلَمَّا جَاءَ سُلَيْمَانَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُونَ)**[1]

ژباړه : پس کله چې راغی ( قاصد د بلقيس ) سليمان ته نو وويل ( سليمان آيا مددګاري کوی تاسي له ماسره په مال سره پس هغه څيزچې راکړی دی ماته الله ( له نبوت ، علم ، سلطنت ) خيرډېرغوره دی له هغه څيزه چې درکړی دی الله تاسي ته بلکه تاسي په دغه هديه ( پيشکشي ) خپلې خوشحالېږی .

په دې مبارک آيت کې دې ټکي ته اشاره شوېده کله چې د سبا ملکې دا وغوښتل چې سليمان (عليه السلام) وآزمويي هغه ته يې هديه ولېږله چې که چېرې دی د دنيا سړی وي نومال به قبول کړي اوکه د دين سړی دی په دې وسيله دې غوښتل چې د سليمان (عليه السلام) اراده ځان ته معلومه کړي او د خپل ځان په اړه تصميم و نيسي کله چې سليمان (عليه السلام) ته د ملکې استازی راغی له هغه سره نورکسان هم ؤ چې له ځانونو سره يې هديې لېږدولې سليمان (عليه السلام) هغوی ته هغه څه وويل چې الله (جل جلا له) هغه ته په دې قول کې اشاره کړېده **(قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ فَمَا آتَانِيَ اللَّهُ خَيْرٌ مِمَّا آتَاكُمْ)** يعنې الله (جل جلا له) ماته نبوت علم حکومت او پاچاهي را کړېده چې دا له هغه مال څخه چې تاسي ته درکړل شويدی خيراوغوره دی **(بَلْ أَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُون)** يعني دا ځکه چې تاسي له دنيا اد د دنيا له زينتونو سره محبت لری.[2]

په دې مبارک آيت کې د خير لفظ يواځې د خيرد افادې لپاره را غلی دی.

---

[1] النمل ۳۶.

[2] ايسرالتفاسير ج ۴ ص ۲۱

همدا ډول په بل مبارک آیت کې الله (جل جلا له) فرمایلي دي **(وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ)**[1]

ژباړه : او وايي هغه کسان چې کافران شوي دي په حق د هغه کسانوکښې چې ایمان یې راوړی دی داسې که چېرې وی ( دا ایمان راوړل ) خیربهترنونه به ؤ رومبی شوي ( دغه خوارمؤمنان ) پرمونږ. باندې هغه ته ( بلکه مونږ اشراف به پرې رومبی شوي ؤ نه دغه خواران اوضعیفان مسلمانان ) اوکله چې سمه صافه لیاره بیا نه مونده دغو ( منکرانو) په دغه قرآن سره نو ژرده چې وبه وايي دوی دغه ( قرآن ) دروغ پخواني دي .

**(وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ)** معنی دا چې د مکې کافرانو یاهم یهودانو د ځینو فقیرانو او مستضعفو کسانو لکه بلال ، صهیب ،عمار اوخباب (رضی الله عنهم) او د دوی په شان خلکو د ایمان را وړلو په سبب وویل که چېرته دا دین حق وای اوکوم قرآن او نبوب چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) له ځانه سره راوړی دی خیروای نو دوی به په ایمان راوړلو کې له مونږ څخه مخکې شوي نه وای دوی دا ګمان کاوه چې په ښو کارونو کې له هرچا څخه مخکې د الله (جل جلا له) په نزد مخور او الله (جل جلا له) دوی ته خاصه پاملرنه لري نو الله (جل جلا له) د دې کافرانو حالت له دې وینا څخه وروسته داسې توصیف کړ او په دې قول یې دوی ته جواب ورکړ**(وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَذَا إِفْكٌ قَدِيمٌ)** يعنې : کله چې دوی د قرآنکریم په وسیله هدایت ترلاسه نکړنو د دوی عناد اوکینه ظاهره اوښکاره شوه تردې وروسته به یې داسې ویل دا هغه درواغ دي چې له پخوانیوخلکوڅخه را نقل شویدي. (2)

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلا له) فرمایلي دي **(تَبَارَكَ الَّذِي إِنْ شَاءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِنْ ذَلِكَ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنهروَيَجْعَلْ لَكَ قُصُورًا)**[3]

ژباړه : ډیرلوی برکتناک څښتن ( خاوند ) د ډیرخیراوپورته دی هغه ذات که اراده وفرمايي ګرځوي به تاته په دنیا کښې خیربهتره غوره له دغې ( خزانېې اوباغونوداسې ) باغونه چې بهیږي له لاندې د ونود هغو ویالې اوګرځوي به تاته په دغوباغونوکښې بنګلې .

يعنې : دا چې ستا د رب خیرزیات دی که چېرته یې خوښه شي په دنیا کې د کوم شي غوښتنه دوی کړېده له هغه څخه به غوره تاته درکړي که د الله (جل جلا له) خوښه شي د کوم شي وعده چې له سره په

---

[1] الاحقاف ۱۱

[2] التفسیرالمنیرللزحیلي ج۲۶ ص (۲۶ ۲۷) په لنډیز

[3] **الفرقان ۱۰**

آخرت کې کړېده په دنیا کې به هم له هغه څخه تاته غوره نعمتونه درکړي داسې باغونه به درکړي چې ترې لاندې به ویالې بهېږي اوداسې مانۍ به درکړي هغه څوک چې زيات مال او زامن هم لري وبه نشي کړای چې له تاسره سیالي وکړي خو الله (جل جلا له) دا اراده نه لري هغه دا اراده لري چې نومړي نعمتونه تاته په باقي او دايمي کورکې درپه برخه کړي نه په هغه کورکې چې هغه فاني اوله مينځه تلونکی دی. (1)

په پورتنيومبارکو آيتونوکې هم د خيرلفظ په خبري اسلوب سره د خبرد افادې لپاره راغلی دی.

## دوهم اسلوب : خبري اسلوب د خبراوترغيب د افادې لپاره

په قرآنکريم کې خبري اسلوب د خبرترغيب او وعد د افادې لپاره هم راغلی دی الله (جل جلا له) فرمايلي دي: **(إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ)**(2)

ژباړه : بېشکه صفا اومروه ( چې په مکه کښې دوه غرونه دي ) له نخښو( د عبادته ) د الله څخه دي نوهرڅوک چې اراده د حج وکړي د بيت الله تعالی يا ارا ده د عمرې وکړي نونشته هيڅ گناه په ده باندې په دې کښې چې طواف وکړي په دې دواړو، اوهرڅوک چې وکړي په خپله خوښه څه نيکي نوبېشکه الله شکرقبلوونکی ، ښه عالم دی .

**(وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا)** په دې کې درې قوله دي لومړی داچې څوک چې د صفا اومروا ترمينځ نفلي سعی وکړي دا د هغه چا قول دی چې سعی واجب نه بولي، دوهم دا چې څوک چې له واجبوڅخه زياته نفلي سعی وکړي دا د هغه چا قول دی چې سعی واجب نه بولي ، دريم داچې څوک چې ترفرضي حج اوعمرې وروسته نفلي حج اوعمره اداء کړي**(فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ)** د الله (جل جلا له) دا قول د دوه ډوله تفسيراحتمال لري لومړی دا چې الله (جل جلا له) د عمل شاکراو په قصد او اراده باندې عالم دی دوهم دا چې الله (جل جلا له) د کم عمل شاکراو په ثواب باندې يې عالم دی. (3)

په بل مبارک آيت کې الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ)**(4)

---

[1] تفسيرالمراغي ج ۱۸ ص ۱۵۶.

[2] البقرة ۱۵۸.

[3] تفسيرالماوردي ج ۱ ص ( ۲۱۳ - ۲۱۴)

[4] البقرة ۲۶۹.

ژباړه : ورکوي الله حکمت ( نافع علم سره له عمله ) هرچاته چې اراده وکړي د ورکولو يې او هرچاته چې ورکړشوحکمت ( نافع علم سره له عمله ) نوپه تحقيق سره ورکړی شوده ته خيرډېر، اونه اخلي پند مګرخاوندان د عقلونوصافوچې د وهم اونفسي غوښتنوشوائب پکښې نه وي .

( **يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ** ) چې دا د قرآن اوسنت علم دی يا هغه نافع علم چې شخص د الله (جل جلا له) رضايت ته رسوي او په خپل علم عمل کوي حکيم د الله (جل جلا له) په نزد با عمله عالم ته ويل کيږي.

( **وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ**) يعنې: چاته چې الله (جل جلا له) حکمت ورکړي (**فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا**) تنکيرد تعظيم لپاره دی يعني: الله (جل جلا له) به خيرورکړي چې هغه خيرکثيردی (**وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ**) يعني : د الله (جل جلا له) له مواعظوڅخه يواځې د سالم عقل خاوندان يا هم عامل عالمان عبرت اخلي له دې څخه مراد عمل ته هڅونه او تشويق دی. [1]

## دريم اسلوب : خبري اسلوب د تشويق لپاره

د قرآنکريم په ځينو مبارکو آيتونو کې خبري اسلوب د ندامت او پښېمانتيا د افادې لپاره راغلی دی الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ فَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ الْمَغْشي عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ فَأَوْلَى** لهمْ **(20) طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا الله لَكَانَ خَيْرًالهم**)[2]

ژباړه : او وايي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی ولې نه نازلوه کيږي يوسورت ( د قرآن په باب د قتال د کفارو سره ) نوپس کله چې نازل کړشي يوسورت محکم اوياد کړی شوی وي په هغه کښې جنګ نو وينې به ته هغه کسان چې وي په زړونو د دوی کښې ناروغي ( د نفاق ) ګوري تاته لکه کتنه د هغه چا چې بېخودي راغلي وي په هغه باندې له وېرې د مرګ نه پس هلاک دې وي دوی لره طاعت کول د دوی الله ته اوخبره نېښکه کول تاته غوره دي دوی ته پس هرکله چې فرض کړی شي کار د جهاد پس که چيرې رښتيا ويل کړې وي دوی دوی له الله سره ( په اظهارد حرص جهاد ته ) نوخامخا به وو دغه رښتيا ويل بهتردوی ته .

(**وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا**) يعني : د سختواو شاقه امورو غوښتنه په عجلې سره کوي (**لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ**) چې په هغه کې د قتال امر وي (**فَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُحْكَمَةٌ**) يعنې: چې په هغه عمل لازمي اوحتمي وي (**وَذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ**) کوم چې په نفسونو باندې سخت دی د ضعيف ايمان خاوندان په داسې امورو پابندي نشي

---

[1] تفسيرالنسفي ج ١ ص ١٩٩.

[2] محمد (٢٠ ـ ٢١ )

کولای نوځکه الله (جل جلا له) وویل (**رَأَيْتَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ نَظَرَ المغشى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ**) ځکه چي په دوی دروند تمامېږي اونه يي خوښوي بيا الله (جل جلا له) د هغه کار په لوري را وبلل چي د دوی له حال سره مناسب دی الله (جل جلا له) وويل (**فَأَوْلَى** لهم **طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ**) يعني : د دوی لپاره دا غوره ده چي په اوسني امرچې په دوی باندې لازمي دی منګولې ولګوي اوخپلې ارادې دې د دې کارلپاره مظبوطې او ټينګې کړي دا غوښتنه دې نکوي چي د دوی لپاره داسي احکام راشي چي په دوی باندې سخت وي د الله (جل جلا له) په عفوه اوعافيت دې خوشحاله شي (**فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ**) يعني : دوی ته سخت او حتمي امرراغی که په دې حالت کې دوی د الله (جل جلا له) تصديق وکړي له هغه څخه په دې کارکې مرسته وغواړي او د دې امرپه عملي کولوکې هڅه اوکوشش وکړي (**لَكَانَ خَيْرًا**لهم) له لومړني حالت څخه داهم د څو وجوهاتو په سبب ، لومړی داچي بنده په هره وجه ناقص دی هېڅ قدرت نه لري مګرپه هغه صورت کې چي الله له ده سره مرسته وکړي نوکوم کارچي ترسره کوي په هغه کې دې د زيادت غوښتنه نکوي ، دوهم دا چي : کله چي بنده خپل ځان له راتلونکې سره وتړي په عمل کې کمزوری شي په اوسني او راتلونکي دنده کې هرچې اوسنۍ دنده ده ځکه چي د ده همت له هغه څخه بل شي ته انتقال شويدی اوعمل د همت تابع دی هرچې راتلونکي دنده ده ترهغي پورې نه راځي چي د ده همت له آمادګۍ څخه سترې نه شي نو د عمل په ترسره کولو کې د ده همت له ده سره مرسته نکوي ، دريم داچي : راتلونکو آرزوګانوته امېدلرونکی بنده له دې سره چي په اوسني عمل کې تمبلي کوي د هغه آرزو کوونکي سره مشابهت لري چې خپل قدرت په هغه امورو چي راتلونکي دي له مينځه وړي. [1]

په پورتني مبارک آيت کې د خيرلفظ له خبري اسلوب سره د تشويق لپاره راغلی دی يعني که دوی ايمان راوړی وای دا کارد دوی د بريا ضامن ؤ.

## څلورم اسلوب : خبري اسلوب د خبروعد او وعيد(ثواب عذاب) لپاره

قرآنکريم خيرته په بلنه کې د خبري اسلوب څخه د خبروعد او وعيد د افادې لپاره هم استفاده کړېده چي په دې اړه الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ**)[2]

ژباړه : که غواړی تاسې فتحه ( فيصله د جانبينوڅخه د ښه لارمووندونکي په خوا ای کفارو!) نوپه تحقيق راغله تاسې ته فتحه ( فيصله د ښه لارمووندونکي په خوا ) اوکه تاسې منع راوړه ( له کفره اود مؤمنانوله

---

[1] تفسير السعدی په لنډيز ص ۷۸۸.

[2] الانفال ۱۹.

جنګه ) نودغه « منعه بهتره او» خیردی تاسي ته ، اوکه بیا را وګرځېدی تاسي « جنګ اوکفرته » نومونږ به هم را وګرځو( نصرت د مؤمنانوته ) اوله سره به دفع ونکړي له تاسي ډله ستاسي هېڅ شی « له عذاب د الله نه » اواګرکه ډېره لویه هم وي دا ( ډله ستاسې ) او«پوه شئ » چې بېشکه الله سره له مؤمنانودی ( په نصرت اوثواب ورکولوکښې ).

الله (جل جلا له) په دې مبارک آیت کې د مکي اهل ته د قهرپه طریقه خطاب کوي دوی ته وایي ( **إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ** ) یعنې : که تاسي د دوو لښکرو څخه د یو لپاره نصرت غواړی له الله (جل جلا له) څخه د قضاوت غوښتنه کوی چې ستاسې اوستاسو د مؤمنو دښمنانو په مینځ کې پرېکړه او فیصله وکړي تاسي چې د کوم شي غوښتنه کوله هغه تاسوته ورسېدل کومه ډله چې د هدایت په لاره برابره وه د الله (جل جلا له) نصرت هغوی ته ورسېده ګمراه او لوېدلې ډله هلاکه شوه ، بیا الله (جل جلا له) دوی په دې قول سره و وېرول او دوی ته یې دا وویل که چېرته تاسې د کفر الله (جل جلا له) او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له تکذیب او پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) له دښمنۍ څخه منعه شوی دا کار ستاسو لپاره په دنیا او آخرت کې خیراو غوره دی له کوم جنګ څخه چې تاسې هغه تجربه کړبندیان او ووژل شواست ډېرښه او بهتره دی که چېرته دوباره له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) سره جګړې کفراو ګمراهۍ ته را وګرځېدئ مونږ هم بیا ځل د هغه نصرت او ستاسې د شکست لپاره را ګرځېدونکي یو. [1]

په دې مبارک آیت کې د خیرلفظ د خبري اسلوب په وسیله د وعد او وعید د افادې لپاره ذکرشویدی.

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلا له) فرمایلي دي **(وَلَا تَشْتَرُوا بِعَهْدِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ)**[2]

ژباړه : اومه پېرئ ( اخلی ) په عهد د الله ( اوبعثت د رسول الله ) قیمت لږ، بېشکه هغه ثواب چې په نزد د الله کښې دی همغه خیر( غوره ) دی تاسې ته که چېرې یی تاسي چې پوهېږی په خپل خیر.

**(إِنَّمَا عِنْدَ اللَّهِ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ)** یعنې : هغه څه چې الله (جل جلا له) ستاسې لپاره ذخیره کړیدي لکه لوی ثواب زیات اجرښایسته ژوند ستاسو لپاره خیراو غوره دی د هغه کمو پیسوڅخه چې تاسې یي آرزو لرئ او د هغولپاره خپل عهود او وعدې ماتوی په دې شرط که د داسې علم څخه برخمن وی چې باقي او همېشني نعمتونه د فاني په مقابل کې غوره او ښه بولي. [3]

---

1 التفسیرالمنیرللزحیلی ج ۹ ص ۲۷۸.

2 النحل ۹۵.

3 التفسیرالوسیط للقرآن الکریم ج ۸ ص ۲۲۹.

## پنځم اسلوب : خبري اسلوب د غوره والي لپاره

د قرآنکریم په لاندې مبارک آیت کې خبری تفضیلی اسلوب خیرته د بلني لپاره په تکرارسره راغلی دی الله فرمایلي دي **(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ)**[1]

ژباړه : یی تاسي ( ای محمدي امته !) خیر ( بهترد هغه ) امت چې ابستلی شوی دی د پاره د خلقوچې حکم کوی تاسي ( هرچاته ) په معروف ( نیښکی ) سره اومنع کوی تاسي ( هرڅوک ) له منکر( بدی ) څخه اوایمان لری په الله باندې ( په دوام اوثبات سره )، اوکه ایمان راوړی وی اهل د کتابونو( په قرآن اومحمد نو ) خامخا به ؤ ( دا ایمان بهتر ) خیردوی لره ، ځینې له دوی څخه مؤمنان دي او زیات د دوی فاسقان دي ( نا فرمانان متمردان په کفر ).

په پورته مبارک آیت کې د خیرلفظ په تکرار سره راغلی دی په داسي توګه چې د خیرلمړی لفظ د خبراو اوغوره والي د افادې لپاره را غلی دی او د خیر دوهم لفظ په خبري اسلوب سره راغلی دی چې هدف یې امېد اوشفقت دی او دا مبارک آیت اسلامي امت ته د مدحې خطاب دی چې دوی د خلکولپاره را لېږل شویدي اوغوره امت دي د امت افرادو په داسي ایمان خپل ځانونه مزین ګرځولي چې دوی د الله (جل جلا له) په ټولو اوامرو عمل ته اماده کوي همدا ډول نور امتونه د امربالمعروف اونهی عن المنکر په وسیله د کمال تردرجو ورسوي نورو خلکوته د الله (جل جلا له) د دین په لور دعوت ورکړي دې هدف ته د رسېدولپاره له هغوی سره جهاد وکړي د خپل وس په اندازه هغوی له ګمراهۍ نافرمانۍ او سرکشی څخه را وګرځوئ نو ځکه الله (جل جلا له) دلته د دې امت یوه خاصه ځانګړتیا چې امربالمعروف اونهی عن المنکرده اعلان کړېده چې د همدې ځانګړتیا په سبب دا امت غوره امت ګرځېدلی دی د دې تفسیرتائید د الله (جل جلا له) دا قول هم کوي (شهداءعلی الناس) چې دوی به په نورو خلکوګواهان وي.

پیغمبر فرمایلي دی **(عن ابيهُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ يَقُولُ نَحْنُ الْآخِرُونَ السَّابِقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا ثُمَّ هَذَا يَوْمُهُمُ الَّذِي فُرِضَ (فَرَضَ اللهُ) عَلَيْهِمْ فَاخْتَلَفُوا فِيهِ فَهَدَانَا اللهُ فَالنَّاسُ لَنَا فِيهِ تَبَعٌ الْيَهُودُ غَدًا وَالنَّصَارَى بَعْدَ غَدٍ)**[2]

ژباړه : له ابی هریرة ( رضی الله عنه ) څخه روایت د ی چې ما له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه واورېدل چې فرمایل یې چې مونږله ټولوامتونوڅخه وروسته پیدا شوي یوخوپه قیامت کې به له ټولوامتونوڅخه مخکې یوسره له دې چې دوی ته کتاب له مونږڅخه مخکې ورکړل شوی ؤ د جمعې ورځ

---

[1] آل عمران ۱۱۰

[2] صحیح البخاري ج ۱،ص ۹۳ د حدیث شمیره ۸۸۶ ، بَابُ فَرْضِ الْجُمُعَةِ .

هغه ورځ وه چې حرمت ساتل یې په دوی باندې فرض شوي ؤ خوهغوی پکې اختلاف وکړنورخلک به په دې کې زمونږ پیروي کوي یهودیان نن ورځ او نصاری له نن ورځې څخه وروسته.

په بل روایت کې داسې راغلي دي **(عن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده قال قال رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه و سلم ( نكمل يوم القيامة سبعين أمة . نحن آخرها وخيرها ) .** (1)

په یوروایت کې داسې راغلي دي **(تتمنون سبعين آمة آنتم خيرها واكرمها على الله تعالى)** (2)

ژباړه : بهز بن حکیم له خپل پلارله نیکه څخه روایت کوي چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چې مونږبه د قیامت په ورځ اویا امتونه تکمیل کړو چې مونږ د ټولوآخري اوغوره امت یواویوروایت داسې هم راغلی دی چې تاسې د اویا وم امت آرزو لرئ چې تاسې یې د الله (جل جلاله) په وړاندې بهترین امت یاست.

په دې روایت کې له اویاؤ څخه مقصد زیاتوالی دی نه تحدید ځکه چې له مینځه تللي امتونه زیات دي نو دا امت غوره امت دی د پخوانیو زیاتو امتونو څخه لکه څنګه چې دا امت د نورو امتونو آخري او د الله (جل جلاله) په نزد د عزت خاوند دی پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) یې له نورو پیغمبرانو (علیهم السلام) څخه غوره او خاتم الانبیاء دی. (3)

ابوهریرة (رضی الله عنه) ویلي دي چې معنی یې دا ده چې تاسې غوره خلک یاست چې دوی به مو په ځنځیرونو کې را وستل بیا به مو په اسلام کې دا خلول. (4)

قتادة[5] ویلي دي : چې دا د محمد (صلی الله علیه وسلم) امت دی له ده څخه پرته هیڅ پیغمبر ته د جهاد امر نه ؤ شوی دوی به له کافرانو سره جنګ کاوه بیا به یې په اسلام کې دا خلول نو دوی د خلکو لپاره غوره امت دی. (6)

---

[1] القزويني محمد بن يزيد أبو عبدالله ، سنن ابن ماجه ، تحقيق : محمد فؤاد عبد الباقي ، چاپ ځای : دار الفكر – بيروت ، د ټوکونوشمير : 2 د ټوک ګڼه ۲ د پاڼې ګڼه۱۴۳۳ امام آلبانی ویلی دي دا حدیث حسن دی. وګوره : سنن ابن ماجه ، ج ۲ ص ۱۴۳۳، باب صفت امت محمد .

[2] الترمذي ، محمد بن عيسى أبو عيسى السلمي ، الجامع الصحيح سنن الترمذي ، تحقيق : أحمد محمد شاكر وآخرون ، چاپ ځای : دار إحياء التراث العربي – بيروت ، د ټوکونوشمير : 5 د ټوک ګڼه ، ا د پاڼې ګڼه ۲۹۷۸ . آلباني ويلي دي دا حديث حسن دی. وګوره : التبريزي محمد بن عبد الله الخطيب ، مشكاة المصابيح، تحقيق : تحقيق محمد ناصر الدين الألباني ، چاپ ځای : المكتب الإسلامي – بيروت، چا پ واردريم کال - 1405 – 1985 د ټوک شمیره ۳ د پاڼې شمیره ۳۷۳.

[3] الملا على القاري ، مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ، المصدر : موقع المشكاة الإسلامية ج ۹ ص ۴۰۵۴.

[4] مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۴۰۵۳.

[5] - قتاده ابن دعامه بن قتادة بن عزيز بن عمرو بن ربيعة بن عمرو بن الحارث بن سدوس ، مفسر او حافظ چې ړوند تولد شوی ، ابن حبان په کتاب الثقات کی دده په هکله وایی چی : نوموړی په قران او فقه کی د جیدو علماوو څخه وو او په واسط کی په ۱۱۷هـ کی وفات شوی ده .وګوره : تهذيب التهذيب ، لابن حجر ،ج۴،ص(۵۴۰- ۵۴۲)

[6] مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۴۰۵۳ .

دا هم ويل شويدي چي دا خطاب د پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) اصحابو(رضى الله عنهم) ته دى يعني: تاسي غوره امت ياست لکه څنګه چي پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي **(بعثت من خيرقرون بني آدم قرنا)**(1)

يعنې: زه د بني آدم له بهترين قرن او پيړۍ څخه ليږل شوى يم.

يعني : زه له غوره قرنونو څخه پاک شوم دا ځکه چي الله خپل پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) د بشرله بهترينوطبقاتو څخه غوره کړچي له پاکوشاګانو څخه پاکورحمونو ته انتقال شوترڅو چي په پايله کي په هاشمي کورنۍ کي را ښکاره شوچي په ټوله جزيرة العرب کي د شايسته منزلت اوشرافت په لحاظ له ټولو کورنيوڅخه لوړرتبه کورنۍ وه. (2)

بيا الله (جل جلا له) د دې امت د افرادو ستاينه کړيده فرمايلي يې دي **(تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ)** يعني : خلکوته په توحيد او اسلام باندې امرکوى **(وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ)** يعني خلک له شرک څخه منع کوى**(وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ)** يعني: تاسي د الله د توحيد تصديق کوى **(وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ)** د الله (جل جلا له) په دې قول کې د دوى دعقل کموالي او نا پوهى ته اشاره ده ځکه دوى کمه اوفاني متاع غوره کړيده د دوى ملامتي له نصيحت سره تړلي ده ځکه که دوى ايمان راوړى واى ځانونه به يې د الله (جل جلا له) له عذاب څخه خلاص کړي واى همدا ډول ايمان راوړل د دوى لپاره غوره دي شايد د دوى نفسونه په کامله توګه د ايمان راوړلو لپاره آماده شي او دا اميد بايد شتون ولري د همدې جهت په سبب د دې مبارک آيت څخه د رجاء اواميد افاده کيږي. (3)

## شپږم اسلوب : خبري اسلوب د خبراو مساومي 4 د افادې لپاره

خبري اسلوب د خبراو مساومي د افادې لپاره هم د قرآنکريم په مبارکوآيتونوکي راغلى دى د الله (جل جلا له) په دې قول کې اشاره شويده الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (10) تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ)**(5)

---

1 صحيح البخاري ج ٣ ص ٣٠٤ د حديث شميره : ٣٥٥٧، بَابُ خَاتِمِ النُّبُوَّةِ.

2 العيني بدر الدين الحنفي ،عمدة القاري شرح صحيح البخاري ،:مصدر الكتاب : ملفات وورد من ملتقى أهل الحديث ج ١٦ ص ٢١٢.

٣٣٩ الصف ( ١٠ ـ ١١ )

3 المحررالوجيزلابن عطيه ج ١ ص ٤٨٩ التحريروالتنويرللطاهربن عاشور ج ۴ ص ٥٣

4 مساومه په فقه کي په خپل سرد يوشي پلورلوته ويل کيږي.

5 الصف ( ١١ ـ ١٢ ).

ژباړه : ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی ( یعني ای مؤمنانو ) آیا دلالت وکړم ته ( دروښیم تاسې ته ) په هسې تجارت سودا ګری چې نجات درکوي خلاصوي تاسې له عذاب دردناک ( پس دغه تجارت اوسوداګري کوئ چې هغه دا ده ) ښه ټینګ محکم مظبوط اوسئ په ایمان باندې چې لری یې په الله باندې او په رسول استازي د دغه الله اوجهاد جنګ کوئ تاسې ای مؤمنانوله اعداء الله سره په لاره د الله کښې په اموالوخپلوسره اوپه نفسونوخپلوسره ( چې جنګ ته یې وړاندې کوی ) دغه ( ټینګ ایمان اومالي اوجاني جهاد ) خیربهتردی تاسې ته ( ای مؤمنانوله نورو دنیوي معاملاتوڅخه ) که چېرې یی تاسې چې پوهېږی په طریقې د حقیقي تجارت باندې پس محکم ایمان راوړئ اوپوره جهاد وکړئ .

په دې مبارک آیت کې د ارحم الراحمین ذات له لوري د خپلو مؤمنو لپاره د لوی تجارت او لوړې غوښتنېنې لپاره وصیت او ارشاد دی چې د هغه په وسیله له دردناک عذاب څخه نجات او همېشنیو نعمتونو کامیابي ترلاسه کېږي او دعرض په اداتو راغلی دی پردې دلالت کوي چې دا داسې کاردی چې د کامل بصیرت هرخاوند یې خوښوي اوهرهوښیارشخص دې کارته خپل ځان نوموي لکه دا سې چې ویل شوي وي چې دا کوم تجارت دی چې په دې اندازه دی نوځواب دادی چې په کامله توګه په هغه څه یقین چې الله (جل جلاله) پرې د کامل تصدیق امرکړیدی او د جوارحو د اعمالو سره مستلزم او حتمي دی د جوارحوله اعمالو څخه یوهم د الله (جل جلاله) په لاره کې جهاد کول دي دا چې تاسې خپل نفسونه اوله خپلوکوروالهٔ سره آرامتیا د الله (جل جلاله) د دین او کلمې د لوړوالي لپاره استعمال کړی همدا رنګه هغه مالونه  چې تاسې د هغه خاوندان یی د دې هدف د لاسته راوړلولپاره مصرف کړی اګرکه دا کارپه نفسونو باندې سخت هم دی خو بیا هم په دې کارکې دنیوی خیرهم دی لکه: په د ښمنانو باندې غلبه، غزت چې د ذلت منافي دی، پراخه رزق او د سینې پراخوالی او انشراح. په دې مبارک آیت کې د خیرلفظ د استبدال عرض او طلب په ځای راغلی دی یا هم هغه څه چې په مساومه باندې نومول کېږي په آیت کې نفس هم مخکې ذکرشویدی کله چې انسانان په خپل ژوند کې د کوم شي خاوندان اومالکان وي په هغه کې نفس په ټولوکې غوره دی د نفس په مقابل کې د جنت ذکرشویدی چې جنت د ټولونعمتونو څخه غوره نعمت دی بیا الله (جل جلاله) مونږ ته دا تجارت بیان کړیدی چې مونږ له درد ناک عذاب څخه خلاصوي اوله دې څخه ترغیب او هڅونه  معلومېږي الله (جل جلاله) ویلي دي چې تاسې په الله (جل جلاله) او د هغه په رسول (صلی الله علیه وسلم) ایمان راوړئ د هغه په لاره کې جهاد ستاسو لپاره د هغه له ضایع کولو څخه غوره دی ځکه د جهاد په ضایع کولو کې ستاسې لپاره خطرمشقت او زیان دی. (1)

[1] جامع البیان للطبري ج ۲۳ ص ۳۶۲.

په دې مبارک آیت کې مالونه  په نفسونو باندې مقدم شویدي ځکه چې لومړی مال نفقه کېږي ترڅو د مال د نفقې په وسیله د جهاد لپاره آمادګي ونیول شي دا مبارک آیت د الله (جل جلاله) په دې قول باندې پای ته رسېدلی دی  (إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ) یعنې : که تاسي د شیانو په نفعه او ضرر باندې پوهېږئ چې د دې علم له الله (جل جلاله) سره دی.

پورتنی مبارک آیت په خبري اسلوب سره راغلی دی چې هدف اومقصد یې د خبراو مساومې افاده ده. [1]

## دوهم مطلب : خیرته په بلنه  کې د قرآنکریم انشائي اسلوب

خیرته په بلنه  کې د قرآنکریم انشائي اسلوب متنوع او ډول ډول راغلی دی له انشائي اسلوب څخه مقصد دادی چې قرآنکریم هغه لارې چې خپلول یې د انسانانو لپاره ناوړه نتایج له ځانه  سره لري په تفصیل سره بیان کړېدي اوله دوی څخه یې غوښتنه  کړېده چې د نومړو لارو له خپلولوڅخه ځان وساتي چې په راتلونکوکرښو کې به په تفصیل سره ذکرشي.

## لومړی اسلوب : انشائي اسلوب د زجر لپاره

د قرآنکریم په متعدد دو آیتونو کې انشائي اسلوب د زجرد افادې لپاره راغلی دی لکه څنګه چې الله (جل جلاله) فرمایلي دي**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ)**[2]

ژباړه : ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی ( یعنې ای مؤمنانو ) مه ننوځئ تاسي هغوکورونوته چې غیروي له کورونود تاسي ترهغه پورې چې اجازه وغواړئ اوسره وغږېږئ ( له بهره اواجازه واخلی ) اوسلام واچوئ پراهل د دوی دغه ( اخباراواستیذان ) د تاسي خیربهتردېرغوره دی تاسي ته له ننوتلو بې له اجازې څخه ښايي چې پند واخلی تاسي په دې سره .

د آیت معنی دا شوه چې ای هغوکسانو چې د الله (جل جلاله) اود هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) تصدیق مو کړیدی له خپلوکورونو څخه بغیرد نورو خلکو کورونو ته ترهغو پورې مه دا خېلېږئ چې له هغوی څخه مو اجازه نه  وي اخیستي او  هغوی ته موسلام نه  وي اچولی د دې لپاره چې د نورو خلکو د عورتونو له لیدلو څخه ځان وساتی کوم شي ته چې کتل جواز نه  لري هغوته مه ګورئ په ناڅاپي توګه هم د خلکو کورونوته مه دا خېلېږئ چې د هغوی د خفګان سبب شي او دا کارد نفرت اوبد بینۍ سبب دی.

---

[1] جامع البیان للطبري ج ۲۳ ص ۳۶۲.

[2] النور ۲۷.

د الله (جل جلاله) دا قول (**حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا**) معنی يې دا ده چې ترڅو پورې پردې باندې و پوهېږي چې په کورکې څوک شتون لري هرڅه په خپلو سترګو ووينی د دې لپاره چې د اجازې اخيستلو زمينه ځان ته برابره کړی او د اجازې غوښتل دری ځله دي لکه څنګه چې په ثابتوسنتوکې ثابت شويدي اود اجازې غوښتلوحکمت هم واضح او ښکاره دی چې د کور او هغه د اوسېدونکو د حرمت له ساتنې څخه عبارت دی نوځکه الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ**) يعني : د اجازې غوښتنه دواړو طرفونولپاره خيراوغوره کاردی له ناڅاپي دا خپلېدو او جاهليت له بنه راغلاست څخه چې هغه سهاريا ماښام په خيردی الله (جل جلاله) تاسې ته د دې ادب ښودنه د دې لپاره وکړه چې عبرت ترې واخلی او په هغه کارعمل وکړی چې ستاسولپاره ترټولوغوره دی. [1]

همدا رنګه له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) څخه په دې اړه داسې روايت شويدی (**عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْتَأْذِنُ عَلَى أُمِّي فَقَالَ نَعَمْ قَالَ الرَّجُلُ إِنِّي مَعَهَا فِي الْبَيْتِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّي خَادِمُهَا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَأْذِنْ عَلَيْهَا أَتُحِبُّ أَنْ تَرَاهَا عُرْيَانَةً**)[2]

ژباړه : له عطاء بن يسار څخه روايت دی چې يوشخص له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله آيا په خپله مور د دا خيليدوپه وخت کې اجازه وغواړم هغه وفرمايل هونوهغه شخص ووېل زه له هغې سره په کورکې اوسيږم پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ووېل د داخيليدوپه وخت کې اجازه واخله هغه ووېل زه د هغې خادم يم پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ووېل د داخيليدوپه وخت کې اجازه واخله آيا ته دا خوښوې چې هغه په بربنډ حالت کې ووينې.

په بل ځای کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ**)[3]

ژباړه : ای هغوکسانوچې ايمان يې راوړی دی ( يعني ای مؤمنانو ) ټوکې اوسپکاوی دې نه کوي هېڅ يوقوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه چې ښايي چې وي به دغه ( مسخره کړی شوی ) بهتراوغوره

---

[1] التفسيرالوسيط للزحيلي ج ۲ ص ۱۷۴۴.

[2] مالك بن أنس ، الموطأ ، المحقق : محمد مصطفى الأعظمي ، چاپ ځای : مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان: لومړی چاپ چا پ کال ۱۴۲۵هـ - ۲۰۰۴م : د ټوکونوشمير :۸ ، د ټوک ګڼه ۵ د پاڼې ګڼه ۱۴۰۲ د حديث شماره ۳۵۳۸ آلبانی ويلي دی دا حديث صحيح دی. وګوره : الألباني محمد ناصر الدين، صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري ، ص ۸۹ الناشر : دار الصدّيق ، د چاپ کال : 1421هـ ص ۴۱۹.

[3] الحجرات ۱۱.

په نزد د الله له دې (مسخره کوونکيوڅخه) اونه  دې ټوکې اوسپکاوی کوي يوټولی ښځې له تاسې په نورو ښځو ځکه ښايي چې هغه ( مسخرې کړی شوې ) په بهترې اوغوره وي ( په نزد د الله له دې مسخره کوونکيوڅخه ) اومه عيب جويي کوی بعضې د تاسود بعضې نورو، ځکه چې بيا د تاسوعيب جويي هم کيږي ( چې دا په جقيقت کښې د ځان عيب جويي ده ) اومه غواړی تاسې يوتربله په بد نومونواوالقابوسره بد دي دا دری نومونه  د ( سخريې ، تلمز، تنابز) له جهته د فاسقی وروسته له ايمان د رلودلوڅخه اوهغه چې توبه يې ونه  ايستله نودغه کسان هم دوی دي ظالمان پرځانونوخپلو.

سخريه د خلکوسپک ګڼلواو د هغوی د عيبونو اونقائصو بيانولوته وايي په داسې توګه چې مقصد پرې د نورو خلکوخندا کول وي ، په دې مبارک آيت کې الله دا خبره بيان کړېده چې مسلمان له بل مسلمان سره څه ډول ژوند وکړي اودې ته هم اشاره شوېده چې د مسلمان لپاره دا مناسبه نه  ده چې پربل مسلمان مسخرې وکړي يايي عيبونه  په اشارو سره بيان کړي يايې په داسې نامه ونوموي چې هغه ته پرې اذيت رسيږي که څوک دا کارترسره کوي اوترې توبه ونکړي دا شخص د ډيربد عمل په ځان باندې د ظلم اولوی جرم مرتکب شويدی، د دې آيت د نزول د سبب په اړه دا روايت شويدی چې د بني تميم د وفد په اړه نازل شويدی ځکه هغوی د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) په فقيرو اصحابوکرامو لکه: عمار، صهيب بلال ، خباب ،ابن فهيره ،سلمان فارسي ، سالم ، د ابن حذيفه مولی (رضی الله عنهم) اونورو باندې د دوی د حالت له ليدلوسره سم ټوکې او مسخرې کولې. [1]

دا روايت هم راغلی چې دا مبارک آيت د صفيه بنت حيی بن اخطب (رضی الله عنها) په اړه نازل شويدی چې هغه پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته راغله هغه ته يې وويل ښځې ماته وايي يهودۍ اود يهوديانولورې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) هغې ته وويل چې تابه هغوی ته ويلي ؤ زما پلارهارون (عليه السلام) کاکامې موسی (عليه السلام) اوخاوند مې محمد (صلی الله عليه وسلم) دی الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ**) يعنې : دا چې له مؤمنانوڅخه دې ځينې خلک پرنورو باندې ټوکې اومسخرې نه  کوي بيا الله (جل جلا له) د دې کارعلت ذکرکړی دی فرمايلي يې دي (**عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ**) يعنې: کېدای شي په کوم چا چې مسخرې کيږي له هغه چا څخه غوره وي چې ټوکې اومسخرېورپورې کوي لکه څنګه چې پيغبر(صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي (**المؤمن أشعث أغبر مغبر ذو طمرين لو أقسم على الله لأبره**)[2] نوهېڅوک بايد دا جرئت ونکړي چې په هغه چا پورې مسخرې وکړي چې د هغه ظاهري حالت د ليدلو وړ نه  وي ياهم کوم عيب ولري يا داچې په ښه

---

[1] تفسيرالسعدي ص ٨٠١.

[2] سنن ابن ماجه ج ٢ ص ١٣٧٨.

ډول خبرې نشي کولای خوهغه به د پاک زړه اوضميرخاوند وي له هغه چا څخه چې په ده پورې مسخرې کوي که څوک دا کارکوي د هغه چا چې الله (جل جلا له) عزت ورکړی اهانت کوي نو نتيجه په خپل نفس د ظلم کول دي (**وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ**) يعنې ښځې دې هم په نورو ښځوباندې مسخرې نکوي شايد کومې ښځې چې پرې مسخرې کېږي له مسخره کوونکو څخه غوره وي په دواړو ځايونوکې د جمعې صيغه راوړل شوېده ځکه چې د ټوکومجالس د ډېرو خلکو په حضورکې دا يرېږي چې ځينې خلک پرې خوشحالي کوي خوبالمقابل د ځينونورو د خفګان سبب ګرځي. (1)

امام مسلم (رحمة الله عليه) له ابي هريرة (رضی الله عنه) څخه روايت کړيدی **(عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن الله لا ينظر إلى صوركم وأموالكم ولكن ينظر إلى قلوبكم وأعمالكم)** (2)

ژباړه : ابي هريرة (رضی الله عنه) له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) څخه روايت کوي چې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) وفرمايل چې الله (جل جلا له) ستاسي ظاهري شکلونواومالونوته نه ګوري يعنې الله (جل جلا له) ته ارزښت نه لري لکن الله (جل جلا له) ستاسو زړونو اوعملونوته ګوري يعنې الله (جل جلا له) ته ستاسود زړونوپاکوالی اوښه اعمال ارزښت لرئ.

په دې کې دې ته اشاره ده چې په يوچا باندې د ښه يا بد حکم د هغه د طاعت يا مخالفت په سبب نشي کېدای ځکه کېدای شي يو شخص په ظاهري اعمالو پابند خو الله (جل جلا له) ته د ده د زړه مذموم صفت معلومېږي چې د هغه صفت په شتون کې عمل نه صحيح کېږي يا دا چې مونږ د ځينوخلکوپه عمل کې تفريط يا ګناه وينو خو الله (جل جلا له) د دې شخص د زړه په يوښه صفت باندې علم لري چې د هغه په سبب دې شخص ته بخښنه کوي نوظاهري علامې ظني دي قطعي دلائل نشي کېدای (**وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ**) يعنې : په پټه توګه دې ځينې د ځينو نورو عيبونه په قول يا اشاره باندې نه بيانوي د الله (جل جلا له) په دې قول کې (**أَنْفُسَكُمْ**) دې ته اشاره ده چې عاقل شخص د خپل ځان عيب نه بيانوي نود ده لپاره داهم مناسبه نه ده چې د بل عيب بيان کړي ځکه هغه هم د ده په شان دی پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي**(عن نُّعْمَانَ بْنَ بشير يَقُولُ قَالَ رَسُولُ الله (صلی الله عليه وسلم) تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى له سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى)**(3)

---

1 تفسيرالشيخ المراغی ج ۲۶ ص ( ۱۳۲ ـ ۱۳۵ )

2 الحميدي محمد بن فتوح، الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم ، تحقيق : د. علي حسين البواب ،چاپ ځای / دار ابن حزم - لبنان/ بيروت دوهم چاپ د چاپ کال، - 1423هـ - 2002م د ټوک شمير ۳ د پاڼي شمير۱۷۲ امام آلبانی ويلي دي دا حديث صحيح دی. وګوره : الألباني محمد ناصر الدين ، السلسلة الصحيحة ، چاپ ځای : مکتبة المعارف – الرياض، د ټوک شمير۶ د پاڼي شمير۱۵۸.

3 صحيح البخاری ج ۱ ص ۱۷ د حديث شماره ۶۰۱۱.

ژباړه : له حضرت نعمان ابن بشیر(رضی الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: مسلمانان په خپلومنځونوکي په دوستی ، زړه سوي ، اوشفقت کې د یوبدن مثال لري که د بدن یوغړي په درد شي د بدن نورغړي هم په پریشانی اوتبه کې له هغه سره ګډون کوي.

(**وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ**) یعني : ځیني کسان دې پرنورو داسې نومونه نه ږدي چې هغوی یې نه خوښوي لکه داسې چې خپل مسلمان ورورته وایي فاسقه یا منافقه یاهغه چاته چې مؤمن دی وایي یهودیه یا نصرانیه ، قتادة اوعکرمه (رحمهم الله) د آبی جبیره بن ضحاک (رضی الله عنه) څخه روایت کړی چې (**وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ**) د بني سلمة قبیلې په اړه نازل شویدی دوی وایي کله چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) مدینې ته راغی زمونږ د قبیلې هرکس دری دری نومونه درلودل کله به چې یوچاته په دې نومونوغږ وشو نومونږ به پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته ویل چې نوموړی دا نوم نه خوښوي نو دا آیت نازل شو، ابن جریر (رحمه الله) له ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت کړیدی چې تنابزبالالقاب دې ته ویل کیږي چې یوکس بد عمل وکړې وروسته له دې عمل څخه توبه وباسي نو الله (جل جلا له) خپل بندګان له دې څخه منع کړیدي چې د دې شخص د پخواني عمل یادونه وشي، کوم نومونه چې د یوچا د صفت اوستاینې لپاره استعمالیږي او ربتیا وي هغه بد اومکروه نه دي لکه چې ابوبکر(رضی الله عنه) ته عتیق عمر(رضی الله عنه) ته فاروق عثمان (رضی الله عنه) ته ذوالنورین علی (رضی الله عنه) ته ابوتراب اوخالدبن ولید (رضی الله عنه) ته سیف الله ویل کیږي (**بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ**) یعنې : کله چې یوشخص په دین کې دا خل شي او په مسلمان مشهورشي شان او شوکت یې لوړشي نودا ډیره بده خبره ده چې هغوی د فاسق په نومونو ونومول شي او په دې کې دې ته اشاره ده چې د دې دواړو ایمان اوفسق جمع کول ډیر بد دي (**وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ**) یعني : څوک چې په خپل ورور له بد نوم اېښودلو یا هغه ته د اشاره کولو یاهم په هغه له مسخرو کولو څخه وروسته توبه ونه باسي دا هغه کسان دي چې د الله (جل جلا له) د نا فرمانی په سبب یې په ځانونوظلم کړی د عذاب مستحق ګرځېدلي دي. [1]

### دوهم اسلوب : انشائي اسلوب د زجر ا ودعا لپاره

خیرته په بلنه کې قرآنکریم له انشائي اسلوب څخه د زجراودعا لپاره هم استفاده کړېده لکه چې الله (جل جلا له) په دې اړه د تحریم په سورت کې فرمایلي دي (**عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَه أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمَاتٍ مُؤْمِنَاتٍ قَانِتَاتٍ تَائِبَاتٍ عَابِدَاتٍ سَائِحَاتٍ ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا**)[2]

[1] تفسیرالشیخ المراغی ج ۲۶ ص ( ۱۳۲ ـ ۱۳۵ ).
[2] التحریم ۵

ژباړه : نژدې دی اوقادردی رب د دغه نبي که چېرې طلاق درکړي تاسوټولوته په دې چې بدل ورکړي ده لره نورې ښځې بهترې له تاسي څخه ( په صورت اوسيرت کښې ) حکم منونکې مؤمناني لمونځ کوونکې توبه ايستونکې عبادت کوونکې روژه نيوونکې هجرت کوونکې کونډې اوپېغلې.

په دې مبارک آيت کې د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) د ازواجو مطهراتو لپاره تحذيراو وېرونه ده په داسې توګه چې هغه حالت په ښځينه طبقه باندې سخت پای ته رسېږي چې هغه حالت د طلاق څخه عبارت دی الله (جل جلا له) فرمايلي دي (**عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِله أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ**) يعني : دا چې تاسې د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) په مقابل کې خپل غړونه مه پورته کوئ که پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) تاسې ته طلاق درکړي په دې کارپه خفه نه شي اوتاسوته به بيا هېڅ ضرورت ونه لري الله (جل جلا له) به د تاسې په مقابل کې هغه ته د دين اوښايست په لحاظ ښايسته بيبياني ورپه برخه کړي دا هغه تعليق دی چې واقع نشو او واقع کېدل يې هم لازمي نه ؤ ځکه چې پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) هغوی ته طلاق ورنه کړکه يې هغوی طلاقې کړې هم وای نو په راتلونکې کې به پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) له داسو ښځوسره نکاح کړې وای چې هغوی به ډېرې فاضلې د کامل ايمان اواسلام خاونداني په ټولوظاهري اعمالوپابندي کوونکې همدا رنګه په ټولوباطني اعمالولکه عقايد اود زړونواعمالو به مزين کړل شوې وای، قنوت : د طاعت دوام اواستمرارته ويل کېږي، تائبات يعني : دوی به له هغه څه څخه رجوع اوتوبه کوونکې وای چې الله (جل جلا له) يې نه خوښوي د دوی صفت يې په داسې توګه وکړچې د الله (جل جلا له) په اوامروعمل کوونکې اوله هغه څه چې الله (جل جلا له) يې نه خوښوي رجوع اوتوبه کوونکې وای ( **ثَيِّبَاتٍ وَأَبْكَارًا** ) يعني ځينې په پېغلې اوځينې نورې به کونډې وای ترڅوهغه څه هم مراعات شي چې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) يې خوښوي اوهغه له تنوع څخه عبارت ده کله چې ازواجومطهراتو دا تخويف واورېد د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) د راضي کولو لپاره ټولو هڅې شروع کړې د نومو‌ړو صفاتو مستحقې په خپله همدوی شوې اود مؤمنانو له بهترينو ښځوڅخه وګرځېدلې، په دې مبارک آيت کې دا دليل دی چې الله (جل جلا له) د خپل پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) لپاره کاملترين حالات اوبهترين امورخوښوي کله چې الله (جل جلا له) له خپل پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) سره د ازواجومطهراتو پاتې کېدل خوښ کړل دا په خپله د دې دليل دی چې دوی د کاملترينواو بهترينوښځوله جملې څخه دي. [1]

---

[1] تفسيرالسعدی ص ( ۸۷۳ ـ ۸۷۴ )

همدا ډول په قرآنکریم کې خیرته بلنه  په انشائي اسلوب سره د دعا لپاره راغلې ده لکه چې الله (جل جلا له) فرمایلي دي **(وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ)**[1]

ژباړه : ووایه ( ای نوح په وخت د کوزېدو تا له بېړۍ نه  ) ای ربه زما کوزکړه ما په یوداسې ځای کښې چې مبارک برکتاک وي حال دا چې ته خیر( ډیرغوره ) له ټولوکوزوونکیوڅخه یې .

په دې مبارک آیت کې الله (جل جلا له) نوح (علیه السلام) ته وایي کله له کښتۍ څخه ښکته شوې د الله (جل جلا له) یونعمت په تا باندې باقي پاتې دی د هغه لپاره الله (جل جلا له) ته دعا وکړه او داسې ووایه **(أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا** )هدف یې دادی چې ربه ماته دا مبارک منزل آسانه  کړې کله چې دا ثناء د دعا د قبلېدو لوی سبب دی الله (جل جلا له) فرمایلي دي ( **وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ** ) ځکه یا الله (جل جلا له) ته خپل مېلمه ته هرڅه ورکوې او د هغه مراد پوره کوې، الله (جل جلا له) خپل نبي نوح (علیه السلام) ته امروکړچې د کښتۍ دریدلو په وخت کې الحمد لله اود کښته کېدکو په وخت کې (**رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا)** ووایي نو الله (جل جلا له) د نوح (علیه السلام) دعا قبوله کړه. [2]

همدا رنګه الله (جل جلاله) فرمایلي دی **(وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ (44) وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ (45) قَالَ يَا نُوحُ إِنه  لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنه  عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ (46) قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنَ الْخَاسِرِينَ (47) قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ وَأُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمْ ثُمَّ يَمَسُّهُمْ مِنَّا عَذَابٌ أَلِيمٌ (48) تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ)**[3]

ژباړه : او وویل شوچې ای ځمکې جذب کړه ( بېرته ښکته ونغړه ) اوبه خپلې اوای آسمانه  بندې کړه اوبه خپلې اوکمې کړې شوې اوبه له مخ د ځمکې اوپوره کړشوهغه حکم ( د اهلاک د اشراراواوانجاء د ابرارو) او ودرېده بېړۍ پرغره د جودي او وویل شوهلاک لرې والی دې وي له رحمته قوم ظالمانو ( کافرانو) ته . اوغږ ( سوال ) وکړنوح رب خپل ته نو ویې ویل ای ربه زما بېشکه چې زوی زما له اهله زما څخه دی اوبېشکه چې وعده ستا حقه ده اوته یې ښه عالم عادل لوی حاکم له ټولوحکم کوونکوڅخه

---

[1] المؤمنون ٢٩.

[2] بحرالعلوم للسمرقندي ج ٢ ص ٤٧٩  أبو عبد الله ، القرطبي محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح ، الجامع لأحكام القرآن ، د ټوکونوشمیر : 20 د ټوک ګڼه ، ١٢  د پاڼې ګڼه ١١٩

[3] هود ٤٤  ٤٩.

وفرمايل ( الله ) اى نوحه ! ښېشکه چې هغه زوى نه دى ستا له اهله ( چې مؤمنين دي ) ښېشکه دى خاوند د عمل نا کاره دى نوسوال مه کوه له مانه د هغه څيزچې نه وي تاته په هغه کښې څه علم پوهه ښېشکه زه پند درکوم تاته چې نه شې ته له جاهلانو( په دې نا جائزسوال سره ). وويل ( نوح ) اى ربه زما ښېشکه زه پناه نيسم په تا پورې له دې چې سوال وکړم له تانه د هغه څيزچې نشته ماته په هغه علم پوهه ، اوکه مغفرت ونکړې ته ماته اورحم ونکړې پرما نوشم به زه له زيانکارانو. وويل شواى نوحه کوزشه ( له دې ېړۍ ) سره له سلامتى له جانبه زمونږ اوسره له برکتونوزمونږله جانبه پرتا اوپرڅوفرقوله هغه څانه چې له تا سره دي ، اوڅه نورې فرقې ( کافرې له اولادې د هغه چا چې له تا سره دي ) ژربه نفع ورکړوهغوى ته په دې دنيا کښې بيا به ورسېږي دوى ته زمونږله جانبه غذاب دردناک ( په آخرت کښې په سبب د کفر). دغه ( قصه د نوح ) له څينواخبارونود غيب ده چې را لېږوهغه ( اخبار) تاته ( اى محمده ! په وحى سره ) نه وې ته چې پوهېدې په دې قصې نه ته اونه قوم ستا پخوا له دې اخباره زمونږ نوصبرکوه ( په ايذاء اوتبليغ ته دې دوام ورکړه ) ښېشکه چې عاقبت ( ښه خاتمه ) د پاره د پرهيزګارانوده .[1]

## دريم اسلوب : انشائي اسلوب د انکارلپاره

خيرته د بلني لپاره قرآنکريم د انشايي اسلوب څخه د انکارلپاره هم استفاده کړېده چې په دې اړه الله (جل جلا له) فرمايلي دي **(أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِنْ أُولَئِكُمْ أَمْ لَكُمْ بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ)**(2)

ژباړه : آيا کفارستاسي ( اى عربو! ) غوره دي له ړومبنيوکفارو د تاسي څخه يا تاسي ته حکم د خلاصي دى په ړومبنيو کتابونوکښې .

په ذکرشوي مبارک آيت کې الله (جل جلا له) د مکي کافران وېرولي دي هغوى ته يې داسي ويلي دي چې اى د عربوډلې آيا ستاسي کافران له هغو نورو څخه غوره سخت او قوي دي د دې استفهام معنى انکارده نومعنى يې داسي شوه چې ستاسي کافران د نوح عاد او ثمود (عليهم السلام) له قومونوڅخه قوي ندي په داسي حال کې چې هغوى هم مونږ هلاک کړل ياهم دا چې تاسي به له هغه عذاب څخه په امن ياست چې هغوى ته رسېدلى ؤ او په پخوانيو کتابونو کې يې هم يادونه شوېده. (3)

همدا ډول الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَقُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ)**(4)

---

1 تفسيرالسعدي ص ( ٣٨٢ ـ ٣٨٣)
2 القمر ٤٣.
3 زادالمسير ج ٨ ص ١٠٠.
4 المؤمنون ٢٩.

ژباړه : ووایه ( ای نوح په وخت د کوزېدود تا له بېړۍ نه ) ای ربه زما کوزکړه ما په یوداسې ځای کښې چې مبارک برکتاک وي حال دا چې ته خیر( ډېرغوره ) له ټولوکوزوونکیوڅخه یې .[1]

په دې مبارک آیت کې الله (جل جلا له) خپل پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته خطاب کوي چې کوم حق او نصیحت تا د الله (جل جلا له) له لوري راوړی دی آیا ستا د قوم مشرکین په هغه د اجرغوښتنه کوي چې ته یې د الله (جل جلا له) د پیغام رسولو په مقابل کې ترلاسه کړې نوکوم اجراو رزق چې الله (جل جلا له) تاته د خپلواوامرو د عملي کولو په عوض اوبدل کې درکوي له دې څخه غوره دی همدا ډول الله (جل جلا له) د عمل په مقابل کې د بهترین عوض ورکوونکی دی ځکه هېڅوک دا نشي کولای چې د الله (جل جلا له) له رزق او نعمت څخه ِغوره رزق او نعمت ورکړي، پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) له خپل قوم څخه د الله (جل جلا له) د اوامرو رسولو په عوض کې د هېڅ شي غوښتنه نه کوله لکه څه ډول چې الله (جلا جلاله) پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته ویلي دي په همدې توګه نورو پیغمبرانو(علیهم السلام) هم خپلوقومونوته داسې ویلي ؤ (**يَا قَوْمِ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللهِ**)[2]

ژباړه : ای زما قومه زه له تاسې څخه د دعوت په مقابل کې څه مال نه غواړم زما بدله اواجر الله (جل جلاله) ماته راکوي.

پورتنی مبارک آیت په انشائي اسلوب راغلی دی هدف یې لدې څخه انکاردی چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) دې د تبلیغ په مقابل کې د کوم شي غوښتونکی وي.

همدا ډول الله (جل جلاله) فرمایلي دي (**أَذَلِكَ خَيْرٌ نُزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ**)[3]

ژباړه : آیا دغه (نعماء دجنت) غوره دي له جهته د مېلمستیا جنتیانوته یا ونه د زقوم غوره ده دوزخیانوته.

یعني : د جنت نعمتونه او لذتونه لکه خوراک اوڅښاک له زقوم څخه غوره مېلمستیا ده زقوم یوه ترخه ونه ده چې په تهامه کې پیدا کېږي، په دې مبارک آیت کې هم انشائي اسلوب د انکارلپاره راغلی دی.[4]

## څلورم اسلوب : انشائي اسلوب د تشويق او ترغيب لپاره

خیرته د بلنې لپاره قرآنکریم د انشائي اسلوب څخه د تشویق او ترغیب لپاره هم استفاده کړېده الله (جل جلاله) په دې اړه فرمایلي دي (**قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُوا هُوَ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ**)[1]

---

[1] المؤمنون ٧٥.

[2] الدررللبقاعی ج ٩ ص١٣٠.

[3] الصافات ٦٢.

[4] تفسیرالنسفي ج ۴ ص ٣٣.

ژباړه : ووایه ( ای محمده ! مؤمنانوته چي خوشحاله اوسئ ) په فضل ( قرآن ) د الله سره اوپه رحمت ( دین ) د الله سره نوپه همدغه ( فضل اورحمت ) دې خوشحاله شي مؤمنان ځکه چي دغه ( فضل اورحمت ) ډیرغوره دی له هغومالونوچې جمع کوي یې دوی.

الله (جل جلاله) خپل پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته امرکړی چې مؤمنانوته دا ووایي کوم حق او هدایت چې دوی ته د الله (جل جلاله) په فضل او رحمت راغلی دی دوی دې پرې خوشحاله شي ځکه دا ډېره مناسبه خبره دی چي پرې د خوشحالتیا څرګندونه وشي، فضل د دین په لوري د الله (جل جلاله) له لوري هدایت او د هغه د شریعت د پیروی کولو توفیق ورکولوته ویل کیږي، رحمت د الله (جل جلاله) عفوې او په هغه جنت کې اوسېدلوته ویل کیږي چې الله (جل جلاله) د خپلوبندګانولپاره د ایمان او اسلام د الله (جل جلاله) په نوموړي فضل او رحمت خوشحالي د ټولوهغو دنیوي خیرونو اومالونوڅخه چې خلک یې جمع کوي غوره دی ځکه چي د الله (جل جلاله) فضل اورحمت د دارینو د سعادت او نېکمرغی سبب دي. [2]

په دې مبارک آیت کې د خیرلفظ په انشائي اسلوب سره راغلی دی چې هدف یې تشویق اوترغیب دی.

## پنځم اسلوب : انشائي اسلوب د اثبات او تعجب لپاره

خیرته د بلني لپاره قرآنکریم د انشائي اسلوب څخه د یوشي د اثبات اوتعجب لپاره هم استفاده کړېده لکه چې په دې اړه الله فرمایلي دی **(إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا أَفَمَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ خَيْرٌ أَمْ مَنْ يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ إنه بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ)**[3]

ژباړه : بېشکه هغه کسان چې میلان کوي له حقه باطل ته په آیتونو د قرآن زمونږکښې نه دي پټ دوی پرمونږ ( نود دغه الحاد جزاء به ورته ورکړو) آیا پس هغه څوک چې وغورځولی شي په اورکښې غوره دی یا هغه څوک چې رابه شي په امن ( له عذابه ) په ورځ د قیامت کښې ( نوتهدیدا دوی ته ویلي کیږي چې ) کوئ تاسې هرڅه چې موخوښ وي ( ای کفارو) بېشکه الله پرهغواعمالوچې کوی یې تاسې ښه لیدونکی دی نوجزاء به د اعمالودرکړي .

په دې مبارک آیت کې الله (جل جلاله) د هغوکسانو لپاره چې د الله له کتاب سره د شبهاتو په را مینځته کولو مجادله کوي تهدید ذکرکړیدی الله (جل جلاله) فریلي دی **(إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا)** داسې هم ویل شویدي چې آلحد د کوهې ویستونکي ته ویل کیږي، لحد چې کله یوشخص له مستقیمې لارې څخه منحرف اومایل شي او په یوه لاره کې کوهی وباسي، ملحد منحرف ته ویل کیږي او

---

[1] یونس ۵۸.

[2] التفسیرالوسیط للزحیلي ج ۲ ص ۹۸۴.

[3] فصلت ۴۰.

په عرف کې هغه چاته ویل کېږي چې له حق څخه يې د باطل په لوري انحراف کړی وي، مجاهد(رحمه الله) ویلي دي: هغه کسان چې د چکچکوشپېلکو اوبې ځایه خبرو په وسیله زمونږ په آیاتونو پورې مسخرې کوي،امام قتادة (رحمه الله ) ویلي دي : هغوی چې زمونږ د آیاتونو تکذیب کوي او سدي (رحمه الله) ویلي دي : هغه چې زمونږ له آیاتونوسره عناد کوي **(لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا)** دا قول داسې دی لکه د یو وېروونکي پاچا وینا چې څوک چې زما په پاچاهۍ کې نزاع او شخړې کوي زه یې پېژنم چې دا قول د تهدید لپاره دی، بیا الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(أَفَمَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ خَيْرٌ أَمْ مَنْ يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ)** استفهام د تقریراویوشي د اثبات لپاره دی مقصد یې دادی څوک چې د الله (جل جلاله) په ایاتونو باندې مسخرې کوي هغوی به د دوزخ په اورکې و غورځول شي او هغه څوک چې د الله (جل جلاله) په دین ایمان راوړي د قیامت په ورځ به په امن راشي، بیا الله (جل جلاله) وفرمایل **(اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ )** دا امرد تهدید همدا رهګه د وعید لپاره هم دی ( إنه **بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِير)** یعني: الله (جل جلاله) ستاسو په اعمالوعالم دی او د هغه جزا به درکړي. [1]

په دې مبارک آیت کې دا ثابته شوه چې د الله (جل جلاله) له عذاب څخه د ځان خلاصول د ایمان په وسیله د الله (جل جلاله) د دین په مقابل کې له مخالفت څخه غوره دی او دا هم ثابته شوه چې د خیرلفظ د هغه چا په اعمالو چې د دین په مقابل کې د سرکشۍ لاره غوره کوي او نتیجه یې هلاکت ده د تعجب لپاره استعمال شویدی.

همدا ډول الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ)**[2]

ژباړه : اوکله چې تیارکړ( یوسف ) دوی ته اسباب د سفرد دوی نو وویل ( یوسف ورونوخپلوته ) چې راولئ تاسې ماته هغه وررستاسې چې له پلارستاسې دی آیا نه وینئ تاسې چې ښشکه زه پوره درکومه پیمانه اوزه غوره د مېلمستیا ورکوونکویم .

یعني : کله چې یوسف (علیه السلام) خپلوپلرنیو ورونوته د خوراکي توکو بارونه بارکړل اوهریوته یې د هغوی د شمار مطابق یو یو اوښ باربارکړهغوی ته یې وویل هغه بل پلرنی ورور مو بنیامین هم بل ځل

---

[1] : ابن عادل أبو حفص عمر بن علي الدمشقي الحنبلي ، اللباب فی علوم الکتب ، تحقیق : الشیخ عادل أحمد عبد الموجود والشیخ علي محمد معوض ، چاپ ځای : دار الکتب العلمیة - بیروت / لبنان ، چاپ کال ، 1419 هـ -1998 م ، لومړی چاپ ، د ټوکونوشمیر 20 ، د ټوک کڼه ، ۱۷ د پاڼوکڼه (۱۴۴ - ۱۴۵)

[2] یوسف ۵۹.

له ځان سره ماته راولی هغه ته به هم يواوښ باروركړم اوتاسي به يو اوښ بار زيات له ځان سره يوسی، يوسف (عليه السلام) تعجب وكړ دوی ته يي وويل چي تاسودا نه ګورى چي زه خلكوته پوره پيمانه وركوم اوهيڅ شی ترې نه كموم نوستاسره دا احسان ستاسو د منزلت د لوړوالي او ستاسو د ورور په خاطربه يواوښ بار زيات دركړم، بيايي دوی ته دا ثابته كړه چي په دې ښاركي زه بهترين مېلمه پال يم هغوی يي مېلمانه كړل او ښه مېلمستيا يي هم وركړه معنی دا كه بل ځل موخپل ورور ماته رانه ؤست زه تاسي ته نورغنم نه دركوم. [1]

په ذكرشوي مبارك آيت كې هم د خيرلفظ د اثبات اوتعجب لپاره راغلی دی.

### شپږم اسلوب : انشائي اسلوب د تحقيرلپاره

خيرته په بلنه كي قرآنكريم د انشائي اسلوب څخه د تحقيرلپاره هم استفاده كړېده چي د دې ډول اسلوب څخه د الله (جل جلاله) لاندې قول هم دي **(وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا)** [2]

ژباړه : اوكله چي ولوستلی شي پردوی آيتونه ( د قرآن ) زمونږپه دې حال كښې چي واضح ښكاره دي وايي هغه كسان چي كافران شوي دي هغوكسانوته چي ايمان يي راوړی دی چي كوم يوله دغودواړو فرقوخيربهترغوره دی له جهته د مقامه اوډېرښه دی له جهته د مجلسه .

يعني: كافرانو به په ای د تحقيرلپاره د هغوكسانو په اړه په ځمكه كي دوی له ځانونو سره پرتله كول پوښتنه كوله الله (جل جلاله) د دوی دا موقف اوتاواني مقارنه اوكم عقلي په خپل كتاب كي د دوی د تحقيرلپاره رد كړی دی، د آيت معنی دا شوه چي كله كافرانوته د قرآن آياتونه وړاندې كړل شي چي د الله (جل جلاله) په وحدانيت اود هغه د رسولانو(عليهم السلام) د تصديق واضح دلائل دي هغه څوک يي چي واوري پرې لازمه ده چي پرې ايمان راوړي اوپه كامله توګه پرې يقين وكړي ځكه قرآنكريم حلال اوحرام ټول واضح كړيدي نودوی له قرآن څخه مخ واړوي مسلمانان حقيراوسپک ګني اوپه خپلومالونو باندې غروراوتكبركوي ځكه دوی د ښايسته كورونو دي اوډېرخلک دوی ته ځي راځي دا كارهغه وخت كوي چي كله كالي واغوندي اوسرونه غوړكړي چي د دې خلكوله جملي څخه نضربن حارث هم دی كله چي هغه د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) اصحابوكرامو(رضی الله عنهم) ته وويل كوم دين د منزلت مجلس

---

[1] تفسيرالطبري ج ١٩ ص ٥۶٢.

[2] مريم ٧٣.

اواجتماع په لحاظ غوره دی زمونږ که ستاسي په مسلمانانو يې ځان غوره وباله او دايي غوښتل ترڅومسلمانان له خپل دين څخه واړوي. [(1)]

په دې مبارک آيت کې د خيرلفظ په انشايي اسلوب سره د تحقيرلپاره راغلی دی.

### اووم اسلوب : انشائي اسلوب د تحريک او اغراء[2] لپاره

خيرته د بلنې لپاره په قرآنکريم کې د خيرلفظ په انشائي اسلوب سره د تحريک اواغراء لپاره هم راغلی دی لکه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ)**[(3)]

ژباړه : وويل يوې له دغودواړو! ای پلاره زما ! مزدورونيسه دی ( د پاره د ميږو« ګډو» څرولو) بېشکه چې غوره د هرهغه چا چې مزدوريي نيسي هغه څوک دی چې قوتناک اوامانتګردی .

امام طبري ويلي دي : چې له دې وينا څخه يې **(اسْتَأْجِرْهُ)** هدف دا وه چې موسی بايد ستا رمه وڅروي ځکه هغه غوره شخص چې ته يې د رمې څرولو لپاره تعينوې د رمې ساتنې لپاره قوي شخص دی همدا ډول امين هم دی چې د خيانت وېره ترې نه کيږي په هغه څه کې چې ده ته امانت وسپارل شي دا ډيراغرايي اسلوب دی ترڅوشعيب (عليه السلام) موسی (عليه السلام) په مزدوری ونيسي، دا هم ويل شويدي چې کله هغې خپل پلارته د موسی صفت وکړهغه ترې انکاروکړ اوخپلې لورته يې وويل تاته د ده دا صفتونه څه معلوم شول هغې وويل: چې د ده قوت ما په څاه باندې د رمې د اوبه کولو په وخت وليد او امانت يې دا دی چې ده ماته نه کتل او خپلې سترګې يې له ما څخه اړولې وې. [(4)]

له پورتني بحث څخه دا څرګنده شوه چې قرآنکريم خيرته د بلنې لپاره د انشائي اسلوب څخه په مختلفولارو او طريقو استفاده کړېده لکه: زجر، دعاء، انکار، تشويق اوترغيب، اثباب اوتعجب، تحقيراواغراء،همدا ډول ذکرشوی بحث پردې دلالت کوي چې په قرآنکريم کې خيرته بلنه کله په خبري اوکله هم په انشائی اسلوب سره شوېده چې په ذکرشوو مبارکو اياتونوکې دا په څرګنده توګه روښانه شوه او قرآنکريم په لنډو الفاظو او ټکوکې ډيرو پراخو مفاهيموته اشاره کړېده چې دا په خپله د قرآنکريم د

---

[1] بحرالعلوم للسمرقندي ج ۲ ص ۳۸۴.

[2] اغراء د مخاطب ښه کارته له متوجه کولوڅخه عبارت ده ترڅوپوري هغه کارترسره کړي. وګوره: المعجم الوسيط ج ۲ ص ۶۵۱.

[3] القصص ۲۶.

[4] جامع البيان للطبری ج ۱۹ ص ۵۶۲.

اعجاز یوې برخې ته اشاره ده ترڅو د دې روح ښوونکي دین د ښمنانواومعاندینوته د قرآن د اعجازدا برخه هم د قیامت ترورځې پورې یوغاښ ماتوونکی ځواب وي.

## دريم مبحث : د خيرله پرېښودلو څخه د قرآن وېرونه  او د شربدي بيانول

### لومړی مطلب : د خيرله پرېښودلو څخه د قرآن وېرونه

### دوهم مطلب : د خيرپرېښودلومذمت بيانول

## دريم مبحث : د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه اوخيرته نه پاملرنې بدي بيانول

### لومړی مطلب : د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه

د الله (جل جلاله) مبارک کتاب له بشارت وېرونېنې وعد او وعيد خيرته له بلنې اوخيرله پرېښودلوڅخه له وېرولو سره راغلی دی لکه څنګه چې قرآنکريم په مختلفوطريقوسره خلک د خيرپه لوري را بللي دي همدا ډول يې په مختلفوطريقو سره خلک د خيرله پرېښودلو څخه وېرولي دي چې په لاندې کرښوکې به په تفصيل سره ذکرشي.

### لومړی ډول : په هروخت اوهرځای کې د خيرله پرېښودلوڅخه د قرآن وېرونه

الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې مؤمنان په هرحالت کې د خيرله پريښودلواوخيرته له شا اړولوڅخه منع کړيدي کله چې اصحابوکرامو مدينېنې منورې ته راغلې تجارتي قافله ولېدله پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) يې يواځې د خطبې په حالت کې پرېښود الله (جل جلاله) د دوی دا کړنه قبوله نکړه او دوی ته يې دا اعلان کړه چې نومړی کار د خيرپرېښودل دي اوپه راتلونکي کې بايد په هېڅ ډول تکرار نشي الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ)**[1]

ژباړه : اوکله چې ووينې دوی تجارت سوداګري يا کومه لهوه تماشا ننداره نوخورېږي دوی په لوري د هغې اوپرېږدي دوی تا ولاړ( خطبه ويونکی پرمنبر) ووايه ای محمده ! دوی ته هغه څه ثواب چې په نزد د الله (جل جلاله) دی خيرډيربهترغوره له لهوې تماشې ننداري اوله تجارت سوداګرۍ څخه اود الله (جل جلاله) خيرډيربهترغوره له ګردو( ټولو) رزق روزي ورکوونکيودی.

دا مبارک آيت د تېلود هغه قافلې په اړه نازل شويدی چې دحية الکلبي له شام څخه مدينې منورې ته راوستله د مدينې د خلکوعادت دا وه چې کله به تجارتي قافله راغله او په هغې کې به مشرانوخلکوشتون درلود نو دوی به په درياګانو او درويو د هغوی استقبال اوهغوی ته بنه راغلاست وايه په تصادفي ډول نومړې قافله مدينې ته د جمعې په ورځ راغله خلک په مسجد کې ؤ ترلمانځه ترادا کېدو وروسته پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) د قافلې په راتګ خبرشو نوپه منبريې خطبه شروع کړه چې دا خطبه له لمانځه څخه وروسته وه د خطبې په وخت کې خلک د قافلې په لوري روان شول په دې وخت کې له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) سره په مسجد کې يواځې دؤلس کسه نارينه اوښځينه پاتې شول نومړی

---

[1] الجمعة ١١.

آیت نازل شوچې صحابه کرام (رضی الله عنهم) یې له مسجد څخه په وتلواوپیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په یواځې پرېښودو باندې ملامت کړل.[1]

الله (جل جلاله) د سخت عتاب په ډول وویل **(وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا)** یعنې د هغې په لوري ورځې **(وَتَرَكُوكَ)** یعنې ای پیغمبره (صلی الله علیه وسلم) تا یواځې د خطبې په حالت کې په منبرباندې پرېږدي، د الله (جل جلاله) دا قول **(قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ)** یعنې دوی په دې باندې و پوهوه چې کوم اجراوثواب چې له الله (جل جلاله) سره دی له هغه لهوې اوتجارت څخه چې دوی هغه ته وتلي ؤ غوره دی**(وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ)** یعنې له الله (جل جلاله) څخه رزق د هغه اوهغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) په اطاعت وغواړئ دا سې بدکار بیا ترسره نکړئ که بیا موهم دا سې څه وکړل نوخپل ځانونه له عاجل عذاب سره چې وروسته کېدونکی نه وي مخامخ کړئ.[2]

له دې حالت څخه په څرګنده توګه دا روښانه شوه چې قرآن خپل پیروان په هرحالت کې د خیرله لاسه ورکولوڅخه وېرولي دي.

## دوهم ډول : له بخل څخه په سخت وعید سره د قرآنکریم وېرونه

الله رب العزت خپل بندګان په مختلفواسلوبو سره د خیرله پرېښودلو څخه وېرولي دي کله یې د قیصې له اسلوب څخه استفاده کړېده اوکله هم د وېروني او ذم له اسلوب څخه الله (جل جلاله) په خپل مبارک کتاب کې په خپله لاره کې په ځان اومال باندې د بخل کوونکو مذمت اوبدي بیانه کړېده له هغوی سره یې د سخت وعید اوعذاب وعده کړېده الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ)**[3]

ژباړه : اوګمان دې نه کوي له سره هغه کسان چې بخیلي کوي دوی په هغه شي چې ورکړي دي دوی ته الله له فضله خپله چې دا بخل خیردی ( غوره دی ) دوی ته ، بلکه دا بخل ډیربد شردی دوی ته ، ژربه په غاړه کېښې ورته امیل کړشي هغه چې بخیلي کړېده دوی په هغه شي کېښې په ورځې د قیامت ، اوخاص الله لره دی میراث د اسمانونواود ځمکې ( د دغودواړو د اهل له فناء څخه به وروسته هرڅه هم هغه حقیقي وارث اومالک ته پاتې کیږي ) اوالله پرهغوکارونوهم چې کوی یې تاسې ښه خبردارد ی ( نود تولوجزاء به درکړي .

[1] آیسر التفاسیر لکلام العلی الکبیر ج ۵ ص ۳۵۱
[2] آیسر التفاسیر لکلام العلی الکبیر ج ۵ ص ۳۵۱
[3] آل عمران ۱۸۰

**(وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ)** يعني هغه مالونه چې د دوی له ضرورت څخه زيات اواضافه وي.(**هُوَ خَيْرًا لَهُمْ**) هېڅ کله داسي نه ده ای کامل انسانه (**بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ**) په دنياکي د دوی مذمت بيان شويدی اوپه آخرت کي (**سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**) يعني: د قيامت په ورځ به د ټولوخلکوپه مخ کې د خپلومالونوعذاب حمل کوي اود قيامت په ورځ به ټول حاضرکسان دوی ويني ځکه دوی خپل مالونه د خيرپه لارو کې نه مصرفول هغه يې نورو ته پرېښودل خوعذاب به يې په خپله همدوی حمل کوي. (**وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ**) ځکه د آسمانونواوځمکي اوسېدونکي مره کېږي الله (جل جلاله) باقي دی ټول شی به الله ته په ميراث پاتي کيږي (**وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ**) الله (جل جلاله) د زکات سرغړوونکوته عذاب ورکوونکی دی. (1)

ابن عباس (رضی الله عنه) ويلي دي چې دا آيت د اهل کتابواوهغه څه په باره کې چې دوی د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) په اړه پرې پوهيدل بيايي هم نه بيانول د دوی د بخل په اړه نازل شويدی. (2)

د زکات د مانعينوپه باره کې ابوهريرة (رضی الله عنه) له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) څخه داسي روايت کړيدی (**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ (مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ) يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ لَهُ زَبِيبَتَانِ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُ بِلِهْزِمَيْهِ (بِلِهْزِمَتَيْهِ) يَعْنِي شِدْقَيْهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا مَالُكَ أَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا [وَلَا تَحْسِبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ]** ) (3)

ژباړه: ابی هريرة له پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) څخه روايت کوي چې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) وفرمايل چاته چې الله مال ورکړی وي اوزکات يې ورنکړي هغه ته به د ده مال د يو داسي مارپه شکل بدل شي چې د دوه نيشونو د رلودونکی به وي چې د قيامت په ورځ به له ده څخه ګرځي را ګرځي اوهغه به له داړو څخه ونيسی اوبيا به ده ته ووايي زه ستا مال اوخزانه يم اوبيا پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) پورتنی مبارک آيت تلاوت کړ.

### دريم ډول : له کفران ( د الله جل جلا له د نعمتونوناشکرې ) څخه د خيرپه پرېښودلووېرونه

د قرآنکريم د قيصوله جملي څخه الله (جل جلاله) مونږ ته د موسی (عليه السلام) قيصه له ګناهګارو بني اسرائيلوسره چې د الله (جل جلاله) د نعمتونوکفران يې کاوه اود دوی دين د الله (جل جلاله) له دين څخه انکاراوخپلو پيغمبرانو(عليهم السلام) وژنه وه ذکرکړيده الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نَصْبِرَ عَلَى طَعَامٍ وَاحِدٍ فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا**

---

1 بيان المعاني ج ٥ ص ٤٣٤ .

2 المحررالوجيزلابن عطية ج ١ ص ٥٤٧.

3 صحيح البخاري ج ١ ص ٢١٩ د حديث شميره: ١٤٠٣ بَابُ إِثْمِ مَانِعِ الزَّكَاةِ.

**وَبَصَلِهَا قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ اهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ)**[1]

ژباړه : او يادکړئ ! هغه وخت چې وويل تاسې اى موسى ! هيڅ کله صبرنشوکولی مونږپرطعام ( يوقسم د من اوسلوى ) باندې پس وغواړه زمونږلپاره له خپل پروردګارنه چې را وباسي مونږته له هغوشيانوڅخه چې زرغونوي يې ځمکه له سابو( ساګو) د دې اوله بادرنګو( ترو) د دې اوله هوږې ( يا غنمويا نخودو) د دې اوله نسکود دې اوله پيازو د دې نو وويل موسى آيا بدلوئ ( اخلئ ! ) تاسې هغه شى چې هغه نا کاره دي په هغه شي چې هغه ډيرغوره دي اومقررکړشوپردوى ( د نعمت د کفران اوپه خپل قسمت د نارضايى په سبب ) ذلت اومحتاجي اواخته شول دوى په غضب له جانبه د الله دا (خواري اوعاجزي ) په سبب د دې وه چې بېشکه دوى ووکافران ( منکران ) په آيتونو( احکامو ) د الله او وژل به يې انبياء لکه: شعيب ، زکريا اويحيى (عليهم السلام) په ناحقه سره دا کفراوقتل په دې سبب ؤ چې سرکشي يې کوله له احکامود الله نه  او وو دوى چې له حدودو به تيرېدل د عصيان په سبب.

 يعني : هغه وخت ياد کړئ چې کله مو موسى (عليه السلام) ته د تملل او الله (جل جلاله) د نعمتونو د سپک ګڼلو په خاطر وويل: (**لَنْ نَصْبِرَ عَلَى طَعَامٍ وَاحِدٍ**) يعني په يوډول طعام دا اګرکه څوډوله هم ؤ خوتغيريې نه  کاوه (**مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ بَقْلِهَا وَقِثَّائِهَا**) يعني هغه طعام چې ونه  ونه  لري په خپل ساق او پښو ولاړوي. (**وَقِثَّائِهَا** ) بادرنګ ته ويل کيږي (**وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا**) يعني: اوږه نسک اوپيازموسى (عليه السلام ) دوى ته وويل:(**أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ**) چې هغه من اوسلوى دي دا تاسې ته نه  ښايي خوبيا هم ښارته ولاړشئ کوم طعامونه  چې تاسې غواړئ هغه به ترلاسه کړى اوهغه طعام چې الله (جل جلاله) تاسوته درکړى ؤ هغه بهترين طعام دى نو ولې د هغه په مقابل کې بل ډول طعام غواړى، کله چې د دوى په خبره کې د صبرکموالى اود الله (جل جلاله) د اوامرواو نعمتونوحقارت ترسترګوکيږي د دوى د عمل مطابق جزا ورکړل شوه الله (جل جلاله) وفرمايل (**وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ**) د دوى په زړونوباندې د ذلت مهرلګول شويدى اوکله به هم دوى د عزيزو نفسونواولوړوهمتونوخاوندان نشي بلکې دوى به د سپکونفسونواو ټيټوهمتونوخاوندان وي (**وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ**) يعنې هيڅکله به کوم شى اوکاميابي ترلاسه نکړي مګرداچې د الله (جل جلاله) په غضب به اخته وي اودوى د ډېربد حالت خاوندان دي (**ذَلِكَ**) يعني: د کوم سبب په علت چې د الله (جل جلاله) د غضب

---

[1] البقرة ۶۱.

مستحق گرځېدلي دي (**ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ**) چې په حق دلالت كوونكي اودوى ته ښكاره ؤكله چې دوى د الله (جل جلاله) په آياتونوكفراختيارکړالله (جل جلاله) په خپل غضب مبتلاء كړل (**وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ**) د الله (جل جلاله) دا قول (**بِغَيْرِ الْحَقِّ**) د دې كارد بدوالي زياتوالي ته اشاره ده دا معلومه خبره ده چې د نبي وژل په حقه باندې هم جوازنلري لكن د دې لپاره چې د دوى د ناپوهى اوبې علمى گمان له مينځه ولاړشي. (**ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا**) چې د الله (جل جلاله) د معاصيومرتكب شويدي (**وَكَانُوا يَعْتَدُونَ**) د الله (جل جلاله) په بندگانوباندې ځكه ځيني گناهونه انسان ته په ځينونورو باندې هم جرئت وركوي غفلت له انسان څخه لومړى واړه بيا لوى گناهونه، كفر،تول بدعات اوداسې نورگناهونه هېروي.[1]

## ځلورم ډول : د تكذيبوونكوامتونوله تقليد څخه د قرآنكريم وېرونه

قرآنكريم مونږته د بني اسرائيلوقيصي او واقعات د دې لپاره ذكركړيدي ترڅوموږ خيرله پرېښودلوڅخه و وېروي او په نومړو واقعاتوكې دې ټكي ته اشاره شوېده چې څه ډول د صالحينوله قوم څخه وروسته بد اوفساد واله قوم مينځ ته راغى علم يې ترلاسه كړخوعمل يې پرې ونكړخيرته يې شا واړوله خود شرپه برخه كې د افراط ترحده ورسېدل الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَرِثُوا الْكِتَابَ يَأْخُذُونَ عَرَضَ هَذَا الْأَدْنَى وَيَقُولُونَ سَيُغْفَرُ لَنَا وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِثْلُهُ يَأْخُذُوهُ أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِيثَاقُ الْكِتَابِ أَنْ لَا يَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوا مَا فِيهِ وَالدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ**)[2]

ژباړه : نوپاتې شول وروسته له دوى نه داسې بد خليفگان چې وارثان شول د كتاب « تورات له پلرونوخپلوڅخه حال دا چې ) اخلي دوى مبلغ اواسباب د دې لږې خسيسې دنيا په رشوت د اخبارواواحكامود تحريف په بدل او وايي دوى زربه ببښنه وكړه شي مونږته اوحال دا كه راشي دوى ته مبلغ اواسباب نورپه مثل د دې نواخلي دوى هغه هم؛ آيا نه وا اخيستى شوې له دوى څخه كلكه وعده په دې كتاب كښې « بلكه اخيسيتې شوې وه داسې » چې نه به وايي دوى پرالله مگرحق « رښتيا خبره » اولوستلي وو دوى هغه احكام چې په دغه ( تورات ) كښې ؤ؛ اودارد آخرت « جنت » خير« ډيرغوره بهتردى » د پاره دهغه كسانوچې ويرېږي ( له عذابه اوځان ساتي له حرامو)؛ آيا نوتاسي عقل نه لرى نه پوهيږى « چې دنيا فاني اوعقبى باقي ده » .

(**فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ**) يعنې: داچې دوى ته خپل كتاب تورات په ميراث پاتې شوظاهره داده چې دوى د پيغمبرمعاصرين دي چې دوى به د فاني اوله مينځه تلونكي دنيا متاع په غيرشرعي توگه ترلاسه كوله

[1] تفسيرالسعدى ص ۴۳.
[2] الاعراف ۱۶۹.

لدي سره به دوی د الله (جل جلاله) په مقابل کې تکبراوغرورهم کاوه بیا به یې ویل چې مونږ‌ته به د دوزخ عذاب څوورځې ورسیږي څکه مونږ د الله (جل جلاله) زامن اومحبین یو العیاذ باالله  که به په غیرشرعي توګه هم مال دوی ترلاسه کولولکه رشوت سود د الله (جل جلاله) د احکامو‌پلورل هغه به یې ا خیسته اولدې کارڅخه یې توبه نکوله چې دا د دوی له لوري یونا آشنا کارؤ الله (جل جلاله) د دوی دا قول (**سَيُغْفَرُ لَنَا**) رد کړ په داسې توګه چې دوی په خپله ګناه باندې قائم ؤ الله (جل جلاله) وفرمایل (**أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِيثَاقُ الْكِتَابِ**) په کتاب کې دا هم ذکرشوېده چې په الله (جل جلاله) پورې دروا‌غ تړل ترټولولویه ګناه ده د بل مال خوړل اوپه بل چا باندې هرډول ظلم کول حرام اونا روا دي لکن دوی په دې نه پوهیږي چې آخرت اود هغه نعمتونه  له دنیا اومافیها څخه غوره دي همدا ډول آخرت د هغه چا لپاره غوره دی چې د تقوی خاوند او له الله (جل جلاله) څخه وېره ولري نوآیا تاسې ړانده یاست پردې باندې نه پوهیږئ چې آخرت خیرغوره اوهمېشه دی. [1]

### دوهم مطلب : د خیرپرېښودلومذمت بیانول

قرآنکریم انسانان په متنوع لارو باندې د خیرلاسته راوړلو لپاره تشویق کړیدي همدا ډول یې په مختلفواسالیبواوطریقو د خیرپرېښودلومذمت قباحت اوبدوالی بیان کړیدی چې په لاندې کرښوکې پورتنی مطلب ترڅیرنېنې لاندې نیول شویدی.

### لومړی ډول : د خیرد پرېښودونکي چې د ترسره کولو قدرت یې ولري مذمت بیانول

الله (جل جلاله) په خپل مبارک کتاب کې د خیرد پرئښودونکوچې د ترسره کولوقدرت یې هم ولري خو د ناپوهۍ او دنیوي حرص په خاطریې بیا هم خیرته شا اړولې وي مذمت بیان کړیدی چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمایلي دي(**مِنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا**)[2]

ژباړه : ځینې له هغوکسانوچې یهودان شوي دي اړوي دوی خبرې ( د شریعت اومحمدي اوصاف ) په ځایو د دې ( خبرو) څخه او وایي دغه ( یهودان ) واورېدله مونږ‌وینا ستا او ونه  مانه  مونږحکم ستا او وایي یهودان واوره ته په داسې حال کښې چې نه  یې اورول شوی او وایي یهودان لفظ د راعنا په تاوولو د ژبوخپلواوپه عیب ویلوسره په دین کښې ؛ اوکه ښېشکه دوی ویلي وی واورېده مونږ( وینا ستا ) او

---

[1] التفسیرالواضح  ج۱ ص ( ۷۸۱ ـ ۷۸۲ )

[2] النساء ۴۶.

ومانه ( حکم ستا په بدل د « عصینا » کښي ) اوکه دوی ویلي وی واوره بې له « غیرمسمع » اونظرلره پرمونږه ( په بدل د « راعنا » کښي نوخامخا به ؤخیردوی ته اوډیره سمه وه ( دا وینا ) لیکن لرې کړي دي دوی الله له خپله رحمته په سبب د کفرد دوی پس نه راوړي ایمان له دغو یهودانو مګرلږخلق .

په دې مبارک آیت کې د یهودو د ګمراهی عناد اوحق په مقابل کې د باطل غوره کولوکیفیت بیان کړیدی الله (جل جلاله) فرمایلي دي ( **مِنَ الَّذِينَ هَادُوا** ) یعنې: د یهودوګمراه عالمان (**يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَوَاضِعِهِ** ) چې یا به یې لفظ یاهم معنی یا لفظ اومعنی دواړه تغیرول چې د علم په ډګرکې د دوی د تحریف نمونې د هغوصفاتوپټول ؤ چې د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په اړه په تورات کې راغلي ؤ نوموړي صفتونه به دوی یا پټول اویابه یې بل چاته بغیرله پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه د هغونسبت کاوه حقایق په همېشه دوی په بل مخ اړول باطل به یې له حق څخه وړاندې کاوه اوله حق څخه به یې انکارکاوه، د عمل په برخه کې د دوی حالت په دې ډول ؤچې دوی به ویل (**سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا**) یعنې: ستا خبره مو واورېده خوستا له امرڅخه مخالفت کووچې دا د کفرعناد اوجهالت انتهایي درجه ده په همدې ډول به یې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) ته له ادب څخه لرې اوبدو القابو خطاب کاوه ویل به یې (**اسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ**) چې له نومړو الفاظوڅخه د دوی هدف دا وه چې له مونږڅخه هغه څه واوره چې ته یې نه خوښوې یعنې: هغه څه چې ته پرې خفه کېږې،(**وَرَاعِنَا**) په دې الفاظوسره د دوی هدف (رعونة) د یوقبیح عیب وه دوی دا ګمان کاوه چې د کوم شي چې دوی یې اراده لرله بله معنی هم لري نوپه نوړي لفظ به دوی هغه څه ته ورسېږي چې دوی په دین کې د طعن اوپیغمبرباندی د عیب لګولو لپاره پرې خپلې ژبې اړولې او په خپلوکې به یې په ښکاره بیانولې ځکه نوالله (جل جلاله) وفرمایل (**لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ**) تردې وروسته الله (جل جلاله) دوی هغې لارې ته دعوت کړل چې هغه لارد دوی لپاره خیراوغوره ده الله (جل جلاله) وفرمایل (**وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَقْوَمَ**) دا ځکه چې نوموړی کلام د ادب مطابق اوپیغمبر(صلی الله علیه وسلم) سره د خطاب لپاره مناسب دی همدا ډول د الله (جل جلاله) اطاعت کول اوامرمنل د دوی د سوال آورېدلو اودوی ته د پاملرنې کولوغوره اوبهترینه طریقه ده اودوی ته دا مناسبه ده چې عمل پرې وکړي خوکله چې د دوی طبیعت نا پاک ؤ له نوموړي امرڅخه یې مخ واړاوه اوالله (جل جلاله) دوی د خپل کفراوعناد په سبب له خپل رحمت څخه وشړل نوځکه الله (جل جلاله) ویلي دي(**وَلَكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا**) [1]

---

[1] تفسیرالسعدي ص ۱۸۱

له دي مبارک آيت څخه دا واضحه شوه چې سره لدې چې يهودو کولای شول د الله (جل جلاله) اوامرعملي کړي او پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته له آزار رسولو څخه لاس واخلي خوکله چې دوی دا کارترسره نکړ الله (جل جلاله) دوی له خپل رحمت څخه وشړل او د دې مبارک آيت په وسيله يې د دوی مذمت او بدي بيان کړه.

### دوهم ډول : د خيرپرېښودل د منافقينوصفت دی

الله (جل جلاله) په خپل مبارک کتاب کې کوم کسان چې په خپل ژوند کې د خيرلار پرېږدي او د شيطان يا هم خپل نفس د غوښتنوپيروي غوره کړي ملامت کړيدي چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ مَا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِنْهُمْ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا)** ([1])

ژباړه : اوکه په تحقيق مونږ فرض کړی وی پردغو( مدعيانو د ايمان ) دا چې مړه کړئ تاسي ځانونه خپل يا ووځئ تاسي له کورونو خپلو( لکه چې بنی اسرا ئيلو ځانونه وژلی او وتلي وو ) نونه به ؤ کړی دوی هغه ( قتل ) اوجلا جدا مګرلږو کسانوله دوی نه اوکه په تحقيق دوی کړی وی هغه چې پند ورکاوه شي دوی ته په هغه سره نوخامخا به وه دا کارخير( ډيرغوره ) دوی ته اوډيربه کلک ؤ له جهته د محکموالي ( د ايمان ) اوپه دغه وخت کې به خامخا ورکړی ؤ مونږ دوی ته ( خاص ) له خپله درباره اجر( ثواب ) ډيرلوی « جنت » اونوراوخا مخا به برابرکړی ( بېولی ) ؤ مونږ دوی لارې سمې ته ( اورسيدل به خپل مقصود ته ).

د آيت معنی دا شوه که چېرته مونږ په هغوکسانوچې ګمان کوي مؤمنان دي خوپه طاغوت پرېکړې کوي دا فرض کړو چې خپل ځانونه  ووژني ياهم له خپلوکورونوڅخه بل ځای ته هجرت وکړي دوی به هېڅکله خپل ځانونه  په خپل لاس ونه  وژني نه  به له خپلوکورونوڅخه د الله (جل جلاله) د اطاعت لپاره هجرت وکړي خوکه نوموړي منافقين ذکرشوی کارونه  د الله (جل جلاله) د اطاعت لپاره وکړي چې جهاد اوهجرت هم د الله (جل جلاله) له اوامرو څخه دی دا به دوی ته په دنيا او آخرت کې خيراوغوره وي او دوی به ښه تصديق کوونکي او له اضطراب څخه لرې وي ځکه منافق کله چې يوکارکوي هغه په شک سره کوي ځکه الله (جل جلاله)  مونږ ټولوته خطاب کوي فرمايي: که مونږپرخلکوتکليف سخت کړو په داسې ډول چې پروژلو اوخپلو وطنونوڅخه په وتلودوی ته امروکړو دا کاربه پر خلکوډېردروند تمام شي اوډېرکم خلک به پرې عمل وکړي چې په دې مواکتفاء وکړه دوی دې هغه ومني له تمرد

---

[1] النساء ۶۶.

اوسرکشي څخه دې د توبې اواخلاص په وسیله لاس واخلي چې دا کارپه دارینوکي د دوی لپاره خیراوغوره دی او ولې دوی دی خیرته شا اړوونکي اوپرېښودونکي دي. (1)

د قرآنکریم په زیاتومبارکو آیاتونوکې د منافقینو دا صفت بیان شویدی چې دوی خیرته شا اړولې اود شرلاره یې خپله کړېده چې کله به یې د جهاد نوم واورېد هېڅ یې نه خوښاوه اوکرکه یې ترې کوله الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(طَاعَةٌ وَقَوْلٌ مَعْرُوفٌ فَإِذَا عَزَمَ الْأَمْرُ فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ)** (2)

ژباړه : طاعت کول د دوی الله ته اوخبره نېکه کول تاته غوره دي دوی ته پس هرکله چې فرض شي کارد جهاد پس که چېرې رښتیا ویل کړې وي دوی له الله سره ( په اظهارد حرص جهاد ته ) نوخامخا به وودغه رښتیا ویل بهتردوی ته.

ابن عباس (رضی الله عنه) ویلي دي چې د الله (جل جلاله) دا قول (**طَاعَةٌ**) د الله (جل جلاله) له لوري د منافقینوپه اړه خبردی معنی داسې شوه چې په دوی باندې اطاعت او ښه وینا لازمي ده داهم ویل شویدي چې په دوی باندې فرائض لازم دي نوکله چې سخت شي اویا د قتال فرضیت واجب شي دوی یې نه خوښوي.(**فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ**) یعنې که دوی په ایمان اوجهاد کې د الله (جل جلاله) تصدیق وکړي. (**لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ** ) یعنې د دوی لپاره له مخالفت څخه د الله (جل جلاله) تصدیق خیراوغوره دی. (3)

د تېربحث څخه دا روښانه شوه چې الله (جل جلاله) د هغوکسانومذمت بیان کړیدی چې د خیرد ترسره کولوقدرت ولري خوبیاهم د دنیوي حرص ناپوهي اونفاق په سبب بیا هم خیرته شا اړولې وي چې په ځینومبارکو آیاتونوکې د خیرلفظ په صراحت سره ذکرشویدی او په ځینونورو کې په ضمني توګه ورته اشاره شوېده د دې ترڅنګ الله (جل جلاله) خپل بندګان حسنه اخلاقواو آدابوته تشویق کړیدي چې په لومړي سرکې له الله (جل جلاله) اوهغه د نازولي رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د ادب مراعات دی نو د مسلمان وګړي لپاره دا لازمه ده چې همېشه د خیرترلاسه کولولپاره هڅه وکړي ترڅو په دې وسیله د دارینوسعادت ترلاسه کړي.

---

[1] جامع البیان للطبري ج ۸ ص (۵۲۶ ــ ۵۲۷ ) مدارک التنزیل للنسفي ج ۱ ص ۳۷۱.

[2] محمد ۲۱.

[3] الجامع لاحکام القرآن ج ۱۶ ص ۲۴۴.

# دريم فصل : د اهل خيراوصاف اود خيرګتې

## لومړی مبحث : د اهل خيراوصاف

### لومړی مطلب : د غوره خلکواعتقادي اوتعبدي اوصاف

### دوهم مطلب : د غوره خلکوسلوکي اواخلاقي اوصاف

# دریم فصل

## د اهل خیراوصاف اود خیرګتې

دا چې په دنیوي ژوند کې یوکس د خیرلاره خپله کړي په اخروي ژوند کې به د الله (جل جلاله) له لورې ډول ډول نعمتونه ترلاسه کړي اوقرآنکریم مونږته هغه کسان له ټولو صفتونوسره چې د خیراهل وي معرفي کړي دي چې قرآنکریم ته په مراجعه مونږ کولای شو هغه کسان چې دوی د خیرخاوندان وي وپیژنو اومونږهم دا صفتونه په خپل دنیوي ژوند کې عملي کړو ترڅو په دې وسیله وکولای شود الله (جل جلاله) ډول ډول نعمتونه ترلاسه کړو.

### لومړی مبحث : د اهل خیراوصاف

### لومړی مطلب : د غوره خلکواعتقادي اوتعبدي اوصاف

د غوره خلکواعتقادي اوتعبدي صفتونه په قرآنکریم کې په صراحت سره بیان شویدي چې نومړي صفتونه په دوه ؤ مسئلوباندې را څرخیږي چې په راتلونکوکرښوکې په همدې دوه ؤمسائلوباندې رڼا اچول شویږه.

### لومړی صفت : ایمان

د ایمان پیژندنه : (الایمان التصدیق وشرعاً التصدیق باالقلب والاقرارباللسان) [1]

یعني : ایمان په لغت کې د زړه باوراوپه اصطلاح کې په ژبه اقراراوپه زړه یقین اوباورکولوته ویل کیږي.

د قرآنکریم په مبارکوآیاتونوکې الله (جل جلاله) دې ټکي ته اشاره کړیده چې ایمان د غوره اوښوخلکوله صفاتوڅخه یوښه صفت دی لکه څنګه چې الله (جل جلاله) د البینة په مبارک سورت کې فرمایلي دي **(إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ)** [2]

ژباړه : بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی اوکړي یی دي ښه عملونه په دنیا کښې دا خلق دي هم دوی ډیرښه د خلقو(**أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ**) دا غوره کسان دي ځکه دوی الله (جل جلاله) پیژندلی دی د هغه عبادت یې کړی چې په پایله کې یې د دنیا اوآخرت کامیابي ترلاسه کړیده. [3]

---

[1] التعریفات للجرجاني ، ص ۶۰.
[2] البینة ۷.
[3] تفسیرالسعدي ص ۹۳۲،

(**أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ آى هم خيرالخليقة**) (1) يعني : دوى د انسانانوپه جمله کې غوره اوبهترين انسانان دي.
همد ډول الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ**) (2)
ژباړه : اى هغوکسانوچې ايمان يې راوړى دى ( يعني اى مؤمنانو ) آيا دلالت وکړم تاسې ته ( دروښيم تاسې ته ) په هسې تجارت سوداګرى چې نجات درکوي خلاصوي تاسې له عذاب دردناک ( پس دغه تجارت اوسوداګري کوئ چې هغه دا ده ) ښه ټينګ محکم مظبوط اوسئ په ايمان باندې چې لرى يې په الله باندې اوپه رسول استازي د دغه الله اوجهاد جنګ کوئ تاسې ( اى مؤمنانوله اعداء الله سره ) په لاره د الله کښې په اموالوخپلوسره اوپه نفسوخپلوسره ( چې جنګ ته يې وړاندې کوى ) دغه ( ټينګ ايمان اومالي اوجاني جهاد ) خيربهتردى تاسې ته ( اى مؤمنانوله نورو دنيوي معاملاتوڅخه ) چې چېرې يى تاسې چې پوهيږى ( په طريقي د حقيقي تجارت باندې پس محکم ايمان راوړئ اوپوره جهاد وکړئ ) .
تفسير المنير د دې آيت په تفسيرکې دا سې ليکلي دي. يعني: دا چې په الله (جل جلاله) د هغه په رسول (صلى الله عليه وسلم) اوخپل ايمان باندې مداومت وکړي په اخلاص د الله (جل جلاله) لپاره عمل ترسره کړي اوپه خپل مال اونفس باندې د الله (جل جلاله) د دين د انتشاراواعلاء كلمة الله لپاره هڅه وکړي (**ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ**) يعني : هغه څه چې ذکرشول لکه ايمان اوجهاد چې دا ستاسې لپاره افضل اوغوره دي ستاسې له مالونو نفسونو دنيوي تجارت اويواځې دنيوي کاربارته له پاملرنې څخه که چېرته تاسې د علم د خاوندانوله جملې څخه واست ځکه چې آخري نتيجه اوهدف مهم وي څوک چې په ناپوهى اوجهالت اخته وي هغه د دې هدف درک نشي کولاى. (3)
په پورته مبارکوآيتونوکې خيريت اوغوره والى په ايمان باندې مرتب شويدى اوهغه څوک چې په دې ښايسته صفت (ايمان) باندې متصف وي هغه په دنيا اوآخرت کې د غوره خلکوله جملې څخه دي حقيقت دا دى چې ايمان يولوى صفت دى چې غوره خلک په دې ښايسته صفت باندې نومول کېږي اوايمان لومړى صفت دى چې مسلمان شخص پرې ښايسته کېږي غوره اوصالح عملونه يواځې له مؤمنواوغوره خلکوڅخه صادرېږي د خيرتأثيرات د يوشخص د قوت په اندازه په ټولنه کې خپرېږي نوهرمؤمن شخص شخص خيراوغوره دى هرخيراود نېښک کارترسره کوونکى ترهغوپورې مؤمن کېدلاى نشي چې په دين

1 آيسر التفاسير لكلام العلى الكبير ج ۵ ص ۶۰۱.
2 الصف ۱۱.
3 التفسير المنير للزحيلي ج ۲۸ ص ۱۷۶.

عقیده ونلري ځکه چې ځیني خلک نېک کارونه د نفسي خواهشاتواو یاهم د باطلې عقیدې په اساس ترسره کوي.

### دوهم صفت : په عبادت کې اخلاص

**د اخلاص پېژندنه :** ( الإخلاص في اللغة ترك الرياء في الطاعات وفي الاصطلاح تخليص القلب عن شائبة الشوب المكدر ) [1]

یعني : اخلاص په لغت کې په اطاعت کې د ریاء پرېښودلوته ویل کېږي اوپه اصطلاح کې د زړه پاکوالی له هغه بدوصفتونوڅخه عبارت دی چې هغه د زړه د کدورت اوګناه سبب ګرځي.

د قرآنکریم په مبارکوآیاتونوکې الله (جل جلاله) خپل بندګان د عبادت په ترسره کولوکې په اخلاص باندې مآمورګرځولي دي الله فرمايلي دي **(فَاعْبُدِ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ)** [2]

ژباړه : یعني الله (جل جلاله) ته په اخلاق غاړه کېږده اود هغه عبادت وکړه.

یعني ای محمده مونږ په تا باندې قرآن نازل کړیدی چې په حق مشتمل دی هېڅ شک پکې شتون نلري په حقيقي توګه د الله (جل جلاله) له لوري نازل شویدی چې د باطل اومسخرو لپاره پکې هېڅ ځان نشه هرڅه چې په دې کتاب کې دي حق دي هېڅ شک پکې شتون نلري اودا کتاب په حتمي توګه د عمل غوښتونکی دی کله چې خبره داسې ده نوای انسانه په اخلاص سره په داسې توګه د الله (جل جلاله) عبادت ترسره کړه چې په هغه کې ریاء اوځان ښودنه شتون ونلري یواځې د الله د رضاء د ترلاسه کولو لپاره عبادت وکړه له الله (جل جلاله) سره په عبادت کې هېڅوک شریک مه نیسه. [3]

اخلاص په عبادت کې د الله (جل جلاله) د اولیاؤ د صفاتوله جملې څخه دی نوهېڅکله به دا سې ولي ونه لیدل شي چې د هغه په اعمالوکې اخلاص شتون ونه لري لکه څنګه چې الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې د موسی د اخلاص یادونه کړیده الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَى إِنه كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولًا نَبِيًّا)** [4]

ژباړه:یعني : ای یاد کړه ( ای محمده ! خپل امت ته ) په کتاب ( قرآن ) کښې قصه د موسی (علیه السلام) بېشکه چې دی ؤ خالص کړی شوی ( د الله له طرفه ) او ؤ دی رسول نبي . [5]

---

[1] التعريفات للجرجاني ص ٢.
[2] الزمر ٢.
[3] التفسيرالواضح ج ٣ ص ٢٥٣.
[4] مريم ٥١.
[5] الجامع لاحكام القرآن ج ١١ ص ١١۴.

همدا ډول اخلاص د مؤمنانو له صفتونوڅخه يوغوره صفت دی پيغمبران او رسولان (عليهم السلام) ترټولو انسانانوڅخه د لوړې مرتبې خاوندان ؤ چې الله (جل جلاله) هم په خپل کتاب کې د دوی ستاينه کړېده ځکه چې دوی په اخلاص سره په الله (جل جلاله) ايمان راوړی ؤ نورانسانان يې په اخلاص سره د الله (جل جلاله) د دين او وحدانيت په لوري دعوت کړل په دنيا کې يې په اخلاص سره ژوند تېرکړترڅو په پای کې په اخلاص سره له الله (جل جلاله) سره يوځای شول لکه چې د ص په سورت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَإِنه مْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ (47) وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ وَكُلٌّ مِنَ الْأَخْيَارِ)** [1]

ژباړه : اوبيشکه دوی په نزد زمونږ خامخا له غوره کړيو شويوبهترو خلقود زماني خپلې وو ای ياد کړه ( ای محمده ! ) اسمعيل اواليسع اوذوالکفل ( خاوند د ضمانت ) اودغه ټول (مذکورين ) ؤله خاوندانود خيرپه خلکوکښي .

يعنې پيغمبران (عليهم السلام) هغه کسان دي چې الله (جل جلاله) د خپلوغوره مخلوقاتوله جملې څخه غوره کړيدي **(الْأَخْيَار)** دوی هغه کسان دي چې د ښايسته اخلاقواومستقيم عمل خاوندان دي او په ښايسته ذکرسره د دوی يادونه وکړه په ښه ډول د هغوی ثناء بيان کړئ ځکه دوی ټول هغه غوره کسان دې چې الله (جل جلاله) د خپلومخلوقاتو له جملې څخه غوره کړيدي او د دوی لپاره يې د اعمالو، اخلاقو، ښايسته صفاتو او ښوخصلتونو کامل حالات غوره کړيدي. [2]

په همدې ډول الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې د دې خبرهم ورکړيدي چې دا سې يوه ورځ راتلونکې ده چې هرنفس به د خپلې نېکی ياهم بدئ نتيجه ويني او د خيرپه لحاظ لوی عمل هغه دی چې په هغه کې اخلاص شتون ولري ځکه د اخلاص په سبب د الله (جل جلاله) په دربارکي د بنده عمل قبلېږي لکه چې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُحْضَرًا وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوءٍ تَوَدُّ لَوْ أَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهُ أَمَدًا بَعِيدًا وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ)** [3]

ژباړه : او وېرېږئ له هغې ورځې چې مومي په هرنفس پکښي هرهغه څه چې کړي وي له خيره ( له نيکئ په خپل مخ کښي ) حاضرکړی شوي اوهرهغه څه چې کړي وي ده له بدئ نه آرزو به کوي دا نفس د دې چې کاشکي په مينځ د دې ( نفس کښې اوپه مينځ د دې ( بدعمل ) کښي مسافه وی لرې ( اوږده ) او وېرېږئ تاسې د الله له عذابه ، د نفس خپل نه اوالله ډيرمهربان دی پربندګانوخپلو.

---

[1] ص ( ۴۷ ـ ۴۸ ).
[2] تفسيرالسعدي ص ( ۷۱۴ ـ ۷۱۵ ).
[3] آل عمران ۳۰.

همدا ډول په بل ځای کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ خَيْرٌ مِنْهَا وَهُمْ مِنْ فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ آمِنُونَ)** [1]

ژباړه : هرهغه څوک چې راشي په حسنه ( نيکی ) سره ( چې کلمه د توحيد ده ) پس شته ده ته جزاء بهتره غوره له هغه اودوی به له سختې وېرې د دغې ورځې په امان وي اوهرهغه څوک چې راشي په سيئه ( بدی شرک سره ) پس نسکوربه وغوځول شي دوی مخونه د دوی په اورد دوزخ کښې او وبه ويل شي دوی ته له جانبه د الله آيا جزاء درکوله کيږي ( بلکه نه درکوله کيږي مګر ( جزاء د شرک اونورمعاصي ) هغه چې وی تاسي چې کول به موپه دنيا کښې .

يعني: هغه څوک چې د قيامت په ورځ د الله (جل جلاله) حضورته له اخلاص توحيد ايمان او لااله الاالله له وينا سره په داسې ډول راشي چې په زړه کې پرې يقين ولري نو د ده لپاره د دې حسنې په مقابل کې د الله (جل جلاله) په وړاندې د قيامت په ورځ خيردی اوخير دا دی چې الله (جل جلاله) به ده ته جنت وروبه برخه کړي.

مجاهد (رحمه الله) د الله (جل جلاله) د دې قول په اړه ويلي دي **(بِالْحَسَنَةِ)** له دې څخه مراد کلمة الاخلاص ده. [2]

## دوهم مطلب : د غوره خلکوسلوکي اواخلاقي اوصاف

په ذکرشوي مطلب کې د غوره خلکو د سلوکي اخلاقو د برخې څخه دريو برخوته اشاره شوېده چې هغه برخې له الله (جل جلاله) څخه وېره له ېبهوده کارونوڅخه مخ اړول اوامربالمعروف اونهی عن المنکرڅخه عبارت دي چې په راتلونکو کرښوکې به په همدې اړه لنډ بحث وشي اويو لړاخلاقي صفتونه هم په دې مطلب کې لکه خلکوته د هغوی امانتونه سپارل هغوی ته عفوه کول او د خپلې شرمګاه ساتل هم بيا شويدي.

### لومړی صفت : له الله (جل جلاله) څخه وېره

**د خوف يا وېرې پېژندنه : (الخوف توقع مكروه عن أمارة مظنونة او معلومة ، كما أن الرجاء والطمع توقع محبوب عن أمارة مظنونة أو معلومة ، ويضاد الخوف : الأمن ويستعمل ذلك في الأمور الدنيوية والأخروية) .** [3]

---

1 النمل ٨٩.
2 تفسيرالطبري ج ١٩ ص ٥٠٧.
3 المفردات فی غريب القرآن ج ١ ص ١٦١.

يعني: وېره د معلومویاهم ظني علائموپه سبب سره د نا خوښه شي له واقع کېدکوڅخه عبارت ده لکه څرنګه چې آرزواوطمع د معلومویاهم ظني علاموپه سبب د محبوب اوپه زړه پورې شي د را مینځته کېدواوواقع کېدلوڅخه عبارت ده د وېرې ضد امن دی چې په دیني او دنیوي دواړو امورو کې استعمالیږي.

الله (جل جلاله) د خپلوپیغمبرانو(علیهم السلام) ستاینه کړېده ځکه چې هغوی د نېکوکارونو په ترسره کولوکې همېشه هڅه کوله اوله الله (جل جلاله) څخه یې په زیاته اندازه وېره لرله چې د همدې پیغمبرانو(علیهم السلام) له جملې څخه یوهم ذکریا (علیه السلام) دی چې الله (جل جلاله) یې په اړه فرمایلي دي **(وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ (89) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ)** [1]

ژباړه : او ( یاد کړه ای محمده ! ) قصه د زکریا کله چې غږوکړ رب خپل ته ( دا سې چې ) ای ربه زما مه پرېږده ما یواځې ( بې اولاده ) اوته یې غوره له ګردو ( ټولو) وارثانونه . پس قبوله کړه مونږ د عا د دغه زکریا او وموبانېه دغه ( زکریا ) ته یحیی اوصالحه موکړه ده ته ښځه د ده ( د اولاد د ولادت لپاره د شنډوالي څخه وروسته ) بسشکه دغه ( مذکورانبیاء ) وو دوی چې تلواربه یې کاوه په کولود نیکوعملونواوطلب د خیراتونواوبللوبه یی مونږله جهته د مینښې ( د ثواب ) اوله جهته د ویرې ( د عذاب ) او ؤ دوی ویرودونکي متواضع.

**(إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ)** یعنې ذکریا اویحیی (علیهم السلام) داهم ویل شویدي هغه پیغمبران (علیهم السلام) چې وړاندې یې نومونه ذکرشویدي دوی د الله (جل جلاله) په اطاعت کې عجله اوتېزي کوله،**(وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا)** د دې لپاره ترڅوهغه ثواب چې دالله (جل جلاله) په وړاندې دی اوله جنت څخه عبارت دی ترلاسه کړي همدا رنګه یې د الله (جل جلاله) له عذاب څخه یې وېره هم لرله اودوی الله (جل جلاله) ته عاجزي کوونکي اواطاعت کوونکې هم ؤ. [2]

مجاهد(رحمه الله)[3] ویلي دي: خشوع په زړه کې لازمي اوحتمي وېرې ته ویل کېږي. [4]

---

[1] الانبياء ٩٠.

[2] بحرالعلوم للسمرقندي ج ٢ ص ۴۴.

[3] - مجاهد بن جبر أبو الحجاج المكي الاسود ، امام ، شيخ القراء المفسرين د عبدالله بن سائب بن ابى سائب المخزومى ازاد کړل شوی غلام ده او د عبدالله ابن عباس څخه یی قران ، تفسیر او فقه زده کړی ده او په کال ١٠٣هـ یا په ١٠۴ هـ کې وفات شوی دی .وګوره : ابن عساکر ، تاریخ دمشق ، ج٥٧، ص ١٧.

[4] تفسیرالبغوي ج ٥ ص ٣٥٣.

همدا رنګه الله (جل جلاله) د خپلوبندګانوله جملې څخه د هغوکسانوسره چې له الله (جل جلاله) څخه وېره لري د جنت اوډول ډول نعمتونو وعده کړېده لکه چې د ق په سورت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ (33) ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ذَلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ)** [1]

ژباړه : اوهغه چې ويرېږي له عذابه د رحمان په غيب سره او راتلونکي وي په زړه رجوع کوونکي سره الله ته ( نووبه فرمايی الله (جل جلاله) ځی ننوځئ پکښې په سلامتيا سره ) دا ورځ د ورننوتلوپه جنت کښې ورځ ده د همېشه توب په هغه کښې .

يعني : هغه کسان چې د الله (جل جلاله) څخه وېره لري اود هغه نافرماني کوي که چېرته د الله (جل جلاله) نا فرماني وکړي نوهغه ته رجوع اوتوبه کوي په داسې حال کې چې دوی الله (جل جلاله) نه ويني اوپه داسې حالت کې الله (جل جلاله) ته راشي چې د هغه اطاعت يې کړی وي نودوی ته به د قيامت په ورځ ويل کيږي چې تاسې جنت ته په سلامتيا دا خل شئ يعني: په داسې حالت کې جنت ته داخل شئ چې تاسې به له هرډول وېرې څخه په امن کې وی. [2]

همدارنګه د ملک په سورت کې الله (جل جلاله) فرمايلي دي**(إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ)** [3]

ژباړه : بيشکه هغه کسان چې ويريږي له رب خپل په غيب سره شته دوی ته مغفرت د ګناهونو اواجرثواب ډيرلوی چې جنت دی .

يعني : هغه کسان چې له الله (جل جلاله) څخه وېره لري په داسې حال کې چې دوی د خلکوله سترګوڅخه فناء هم وي خوبيا هم د الله (جل جلاله) نافرماني نکوي الله (جل جلاله) به د دوی ګناهونه وبخښي اود دوی لپاره لوی اجردی چې هغه له جنت څخه عبارت دی. [4]

يعني هغه کسان چې له الله (جل جلاله) څخه وېرلري او د هغه له عذاب څخه وېرېږي په داسې توګه د الله (جل جلاله)عبادت کوي لکه چې دوی الله (جل جلاله) ليدلای وي حال داچې دوی الله (جل جلاله) په خپلوسترګونه دی ليدلای کوم کسان چې دا صفات ولري د دوی لپاره د الله (جل جلاله) له لوري چې د دوی خالق دی عظيم مغفرت اوبخښنه اوداسې اجردی چې په لويوالي اوضخامت کې انتهاء ته رسېدلی وي. [5]

---

[1] ق ( ٣٣ _ ٣٤ )
[2] آيسر التفاسير لكلام العلى الكبير ج ٥ ص ١٤٨.
[3] الملک ١٢.
[4] آيسر التفاسير ج ٥ ص ٣٩٨.
[5] التفسير الوسيط للقرآن الكريم ج ١٥ص ١٧.

حسن بصري ويلي دي : (**المؤمن من جمع إحسانا وخشية، والمنافق من جمع إساءة وأمنا** ) [1]

يعني : مؤمن هغه چاته ويل کېږي چې په هغه کې وېره اواحسان دواړه جمع شوي وي خومنافق هغه چاته ويل کېږي چې په هغه کې بدي اوله الله (جل جلاله) څخه د وېرې نه درلودل را ټول شوي وي.

د تېربحث څخه دا څرګنده شوه چې غوره خلک يواځې له الله (جل جلاله) څخه وېره لري د الله (جل جلاله) څخه د وېرې په سبب د الله (جل جلاله) د حدودو فرائضواواوامرومحافظت اوساتنه کوي د ژوند په ټولوچارو کې يې يواځينی هدف د الله (جل جلاله) رضايت ترلاسه کول اودنيوی اواخروي سعادت ترلاسه کول اولوړو مدارجو ته ځان رسول وي له الله (جل جلاله) څخه په ډېره عاجزی دا غواړم چې د دې ښايسته صفت په وسيله زمونږ زړه هم له نورڅخه ډک کړي ترڅو دا توفيق را په برخه شي چې د الله (جل جلاله) د دې روح بښونکي دين احکام په سمه توګه عملي کړای شم.

## دوهم صفت : امربالمعروف اونهی عن المنكر

د معروف پېژندنه : (المعروف ماقبله العقل وآقره الشرع ووافقه كرم الطبع). [2]

يعني : معروف له هغه کارڅخه عبارت دی چې شريعت يې تآييد کړي اودعقل اوطبيعت سره موافقت ولري.

(**المعروف كل ما سكنت إليه النفس واستحسنته لحسنه عقلا أو شرعا أو عرفا فهو معروف**) [3]

يعني : معروف له هغه کارڅخه عبارت دی چې نفس پرې مطمئن شي اود هغه کارد ښه والي په خاطرهغه عقلا شرعا اوعرفا هم ښه وي.

د منکرپېژندنه : (**المنكر وكل ما نفرت منه وكرهته فهو منكر**). [4]

امربالمعروف د مآموربه مطابق کله واجب اوکله هم مستحب وي په همدې ډول نهی عن المنكرهم دی په هغه وخت کې واجب دی چې منهی عنه حرام اوياهم مکروه تحريمي وي اوپه هغه وخت کې مستحب ده چې کله منهی عنه مکروه تنزيهي وي لکه څنګه چې الله (جل جلاله) فرمايلي دي(**وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**) [5]

---

[1] آيسرالتفاسير ج ۵ ص ۳۹۸.

[2] التعاريف للمناوي ج ۱ ص ۶۶۶.

[3] الكليات ص ۱۲۸۶ .

[4] الكليات ص ۱۲۸۶.

[5] آل عمران ۱۰۴.

ژباړه : او وي دې ( تل ) له تاسي يوه ډله چې بولي خلک په طرف د خير ( اسلام ) اوامر( حکم ) کوي خلکوته په معروف ( نيکی ) سره اومنعه کوي خلک له منکر( بدیٔ ) نه اودغه ( آمرين باالمعروف اوناهين عن المنکر ) هم دوی دي په مراد رسيدلي .

په نوموړي آيت کې د الله (جل جلاله) له لوري مؤمنانوته دا ارشاد دی چې په دوی کې بايد يوه ډله شتون ولري چې خلک د الله (جل جلاله) دين ته را وبلي په دې ډله کې بايد د دين علماء چې خلکوته د دين ښوونه کوي اوهغه واعظان چې د نورو اديانو پيروان د الله (جل جلاله) په دين کې دا خپلېدوته را وبلي د الله (جل جلاله) د لارې مجاهدين اوهغه کسان شتون ولري چې د خلکود احوالوپلټنه کوي او په شريعت عمل کولوته يې مجبوروي لکه پنځه لمونځونه حج او داسې نور د اسلام شرائع همدارنګه د پيمانې اووزن پلټنه کول اود بازارونو د حالاتوپلټنه کول د بازارخلک له خيانت ناروا اوباطلومعاملاتوڅخه منع کول دا ټول د کفايي فروضوله جملې څخه شمېرل کېږي چې نوموړی آيت پرې دلالت کوي **(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ)** د آيت معنی دا شوه چې په تاسي کې دې داسې يوه ډله شتون ولري چې د هغوی په وسيله پورته ذکرشوي موارد ترلاسه شي دا معلومه خبره ده چې په يوکار امرکول د مآموربه له جملې څخه دي اوهرهغه شی چې د هغې په وسيله باندې ذکرشوي کارونه ترسره کېدای شي هغه هم مآموربه دی لکه د اعداد په وسيله د جهاد لپاره آماده کول ترڅود دښمن په مقابل کې د اسلام عزت اوکاميابي ترلاسه شي د علم اودعوت لپاره د مدارسوجوړول له حاکمانوسره د الله (جل جلاله) د دين د تنفيذ لپاره په قول فعل اومال سره مرسته کول اونورداسې کارونه ترسره کول چې ذکرشوي امور ورسره تړلي وي نوموړې ډله چې د خيرپه لوري د بلنې امرباالمعروف اونهی عن المنکرلپاره آماده وي د خاصومؤمنانوله جملې څخه دي نوځکه الله (جل جلاله) ويلي دي: **(وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)** يعنې دوی مطلوب ته رسېدونکي اوله هغه څه څخه چې وېره لري نجات ترلاسه کړ. [1]

همدا رنګه الله (جل جلاله) د دې امت د خيريت اوغوره والي سبب هم دا بللی دی چې د امرباالمعروف اونهی عن المنکردنده ترسره کوي لکه څنګه چې الله (جل جلاله) فرمايلي دي**(كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ)** [2]

ژباړه : يی تاسې ( ای محمدي امته ! ) خير ( بهترد هرهغه ) امت چې ايستلی شوی دی د پاره د خلکوچې حکم کوی تاسې ( هرچاته ) په معروف ( نېکی ) سره اومنع کوی تاسې ( هرڅوک ) له منکر

---

[1] تفسيرالسعدي ص ۱۴۳.

[2] آل عمران .۱۱۰

(بدئ ) ځيني اوايمان لرى په الله باندې ( په دوام اوثبات سره ) ، اوكه ايمان راوړى وى اهل د كتابونو( په قرآن اومحمد نو ) خامخا به ؤ ( دا ايمان بهتر ) خيردوى لره ، ځينې له دوى څخه مؤمنان دي اوزيات د دوى فاسقان دي ( نا فرمانان متمردان په كفر ) .

د آيت تفسيردا دى كله چې الله (جل جلاله) مؤمنانوته د تقوى اوپه دين د منګولولګولوامروكړاودوى ته يې دا وويل چې تاسي زما اوامرد يوداسې جماعت په وسيله ترسره كړئ چې د امربالمعروف اونهى عن المنكردنده ترسره كوي دوى يې په يولوى خيرسره ذكركړل اودوى ته يې وويل (**كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍأُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ**) لكه څنګه چې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) دوى ته ويلي دي كنتم خيرالناس للناس اوهغه صفت يې بيان كړچې په هغه سره چې د هغه په وسيله امت خيربلل شويدى الله (جل جلاله) وفرمايل (**تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ**) چې دا د اسلام اوهدايت هغه شرائع دي چې پيغمبرراوړ ي دي (**وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ**) چې دا كفرشرك اوكبيره ګناهونه دي (**وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ**) چې دا ټول هغه څه دي چې الله (جل جلاله) پرې د ايمان راوړلوحكم كړيدى لكه ملايكې،كتابونه، پيغمبران دوباره ژوندون، قضاء اوقدرترديې وروسته الله (جل جلاله) اهل كتاب د هغه صحيح ايمان په لوري را وبلل چې د الله (جل جلاله) له عذاب څخه د خلاصون وسيله ده الله وفرمايل (**وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ**) يعني : كه اهل كتاب په پيغمبراو د اسلام په اوامرو ايمان راوړي نودا د دوى لپاره د ايمان د درواغجني دعوى څخه چې دوى يې كوي غوره ده الله (جل جلاله) دا خبروركړى چې د دوى له جملې څخه ځينې كسان لكه عبدالله بن سلام، ثعلبة بن سعيد او وروريې ريښتيني مؤمنان دي خود دوى اكثريت خلک فاسقان دي دا هغه كسان دي چې د خپل كتاب په احكاموهم نه پوهيږي نوځكه الله (جل جلاله) دوى ته د امي نبي (صلى الله عليه وسلم) اوهغه په پيروانوباندې د ايمان راوړلو امركړيدى. [1]

پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي (**من رأى منكم منكرا فاستطاع أن يغيره بيده فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه فإن لم يستطع فبقلبه وذلك أضعف الإيمان**) [2]

ژباړه : يعني كه يوله تاسې څخه كوم ناروا كاروويني دا يې په وسه پوره وي چې هغه په لاس منعه كړي نودا كاردې وكړي كه يې په لاس نشواى منعه كولاى نوهغه دې په ژبه سره منعه كړي اوكه يې دا كارهم نشواى كولاى له هغه كارڅخه دې په زړه كې نفرت وكړي چې دا د ايمان ټيټه اودريمه درجه ده.

حاصل دا چې الله (جل جلاله) په خپل كتاب كې د غوره خلكوستاينه كړيده چې د دوى په سركې پيغمبران ځاى لري هغوى خپل امتونه د خير په لوري بللي دي چې اوس دا دنده دې امت ته سپارل شويده

[1] آيسرالتفاسير، ج ١ ص ٣٦٠.

[2] صحيح مسلم ، ج ١ ص ٦٩ باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان وأن الإيمان يزيد وينقص وأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر واجبان.

چې له خپل پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه په پیروۍ دا دنده ترسره کوي اوپه دې سبب دوی د کامل ایمان خاوندان ګرځي اونورو خلکوته د خیرد ټولولارو ښوونه کوي چې دغوره خلکو له سلوکي اوصافو څخه شمېرل کېږي اوقرآنکریم په ښکاره توګه ورته اشاره کړېده.

## دریم صفت: د لغوې اوبې فایدې خبروڅخه اعراض اومخ اړول

د لغوې پېژندنه : **(اللغوهوالکلام العبث الذی لافائدة فیه)**. ([1]) یعني : لغوله هغوبې فایدې خبروڅخه عبارت ده چې هېڅ فایده پکښې شتون نلري.

**اویا هم (کل کلام اوعمل لایحتاج الیه فهولغو)**. یعنې: هرهغه خبره یا کارچې هغه ته ضرورت شتون ونه لري له لغوې څخه عبارت دی.

**اویا هم (هوالکلام الذی لاخیرفیه ولا فائدة)**. . یعني : لغوله هغوخبروڅخه عبارت ده چې په هغه کې خیراوفایده شتون ونلري.

د اعراض پېژندنه : **(الاعراض هوالعدول عن الشیء وعدم الاقبال علیه)**.([2]).

یعنې : اعراض له یوشي څخه مخ اړولوته ویل کېږي. حواله یې باید ذکرشي.

الله (جل جلاله) خپل بندګان په عمومي توګه په ټولوعباداتوپه خاصه توګه په لمانځه باندې حفاظت ته هڅولي دي اودوی ته یې د کامیابۍ زیری ورکړی دی الله (جل جلاله) فرمایلي دي**(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)** ([3])

ژباړه : ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی ( یعنې ای مؤمنانو ) رکوع کوئ تاسې ! اوسجده کوئ تاسې ! ( په لمانځه کښې ) اوعبادت کوئ تاسې ! د رب خپل نه د بل اوکوئ نیک کارونه ( لکه صله رحمي اونیک اخلاق ) د پاره د دې چې برى ومومى ( په نعمت اوجنت سره ) .

الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې د لغوې څخه اعراض اومخ اړونې ته خاصه پاملرنه کړېده هغوکسانوته یې د کامیابۍ زیری ورکړی چې په دې حکم باندې عمل وکړي چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ)** ([4])

---

[1] - التعاریف ، ج۱، ص۷۱.
[2] - التعاریف ، ج۱، ص۷۱.
[3] الحج ۷۷.
[4] المؤمنون ( ۱- ۳)

ژباړه : په تحقيق بريالي ( بهرمن ـ كامياب ) شوي دي مؤمنان هغه ( مؤمنان ) چې دوى په لمنځونوخپلوكښې عاجزي كوونكي ويرودونكي دي له الله نه اوهغه ( كسان هم بهرمن شول ) چې دوى له نا كارو ( بدواقوالوبدوافعالو ) څخه مخ ګرځوونكي دي .

**(وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ)** په لغوه كې پنځه قوله دي، ابن عباس (رضى الله عنه) وايي لغوباطل ته ويل كيږي همدارنګه له ده څخه دا هم روايت شوى چې لغودرواغوته ويل كيږي، لغوقسم كولوته ويل كيږي چې دا د كلبي قول دى، لغوښكنځلوته ويل كيږي ځكه چې د مكې كفاروبه مسلمانانوته ښكنځلې كولې نودا مبارک آيت د دوى لپاره جواب دى، لغوټولوګناهونوته ويل كيږي چې دا د حسن بصري قول دى. [1]

همدارنګه په بل مبارک آيت كې الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا)** [2]

ژباړه : اوبندګان د رحمان هغه كسان دي چې نه حاضريږي ( نه شامليږي ) په باطلوكښې ( يا نه وايي شاهدي په دروغو ) اوكله چې تيريږي پرچټې ( بيكاره ) كارنو تيريږي ځان ساتونكي ( مخ ګرځوونكي له لغوې نه ) .

د زوراصل دا دى چې يوشى ښايسته وګڼل شي اوبغيرد صفت له موجوديت څخه د هغه توصيف وشي اوپه نامناسب يا غيرموضوع له ځاى كې كېښودل شي د زورڅخه اخيستل شويدى د مستقيمې لارې څخه د كږېدلواو انحراف په معنى دى، لغوه كوم اقوال اوافعال چې په هغه كې خيرشتون ونلري، يعنې:د عبادالرحمن صفت دا دى چې د درواغو د شهادت په مجالسوكې شركت نه كوي او د دې شهادت نه مرتكب كيږي ځكه چې دا كار د لويوګناهونو مورده او اسلام ورسره د جګړې اعلان كړيدى، پردې له پاسه چې كله دوى **(وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ)** چې په هغومجالسوتيريږي چې په هغه كې بې فايدې اقوال اوافعال شتون ولري **(مَرُّوا كِرَامًا)** يعنې: د خپل ځان د عزت كرامت دين اومروت د ساتنې لپاره له هغه څخه مخ اړوي. [3]

---

[1] تفسيرالماوردي ج ۴ ص ۴۶.

[2] الفرقان ۷۲.

[3] التفسيرالوسيط ج ۱۰ ص ۲۲۱.

همدا ډول د غوره خلکوذکرشوي صفت ته د قصص په سورت کې هم اشاره شوېده الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ)** [1]

ژباړه : کله چې واوري دوی کومه چټي ( بيکاره ) خبره نوڅنګ کوي دوی له هغې نه وايي ( هغوچټي بيکاره ويونکوته ) دي مونږته عملونه زمونږ ( له حلمه اوصبره ) اودي تاسي ته عملونه ستاسي له حماقته اوبد ويلوسلام دی پرتاسي ( له طرفه زمونږله کنځلواوطعنو ) نه غواړو مونږ ( مجلس اوطريقه ) د جاهلانو .

**(وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ)** يعني : کله چې مؤمنان له کافرانو څخه ضرروويني اويا ترينه ښکنځل واوري نوهغوی ته توجه اوپاملرنه نکوي جواب نه ورکوي او د دوی په مقابل کې د هغوی په شان عکس العمل نه ښکاره کوي. [2]

له ذکرشوي بحث څخه دا په ښکاره معلومېږي چې د مؤمنانوله صفتونوڅخه يواهم صفت د بې فايدې خبروڅخه د ځان ساتنه ده چې په دوی کې د دې صفت شتون خپله د دوی په خيريت دلالت کوي اوغوره خلک هم هغه دي چې د خلکو د بدو په مقابل کې له صبرڅخه استفاده کوي.

همدا ډول قرآن د غوره خلکواخلاقي صفتونه هم بيا ن کړيدي چې ډېرډولونه لري چې ځيني يې په قرآنکريم کې په صراحت اوښکاره توګه بيان شويدي چې دا ترې ځرګندېږي چې دا هم د غوره خلکو د صفتونوله جملې څخه دي اوځينېې نوريې د غوره اعمالوافعالواو ښوکارونو په ضمن کې بيان شويدي اوځيني يې هم د مؤمنانولپاره د يوصفت په توګه بيان شويدي غوره خلک په عمومي توګه په مؤمنانوکې داخلېږي بلکه غوره خلک د صالحوکسانو له جملې څخه شمېرل کېږي نوځکه غوره خلک د مؤمنانوپه صفتونوسره نومول ډېره ښه اوپه زړه پورې خبره ده چې د مؤمن هرصفت ته د خيرصفت ويلی شوچې ځيني يې په لاندې کرښوکې بيان شويدي.

## څلورم صفت : خپلوخاوندانوته د امانتونوسپارل

د امانت پېژندنه **:** همزه ميم اونون يوبل ته دوه نژدې اصلونه دي لومړی اصل يې هغه امانت دی چې خيانت ته نژدې وي اومعنی يې د زړه سکون او اطمينان دی اودوهم اصل يې تصديق دی د واړه معناګانېنې يوبل ته نژدې دي (الآمنة من الآمن والامان اعطاء الامنة والامانة ضدالخيانة) يعني: امانت له

---

[1] القصص ۵۵.

[2] بحرالعلوم للسمرقندي ج ۲ ص ۶۱۳.

آمن څخه اخیستل شویدی امان یوچاته امن ورکولوته ویل کیږي اوامانت د خیانت له ضد څخه عبارت دی.[1]

د امانت ساتنه د مؤمنانو له ښکاره صفتونو څخه یوصفت دی د امانت د ساتونکي لپاره د الله (جل جلاله) په نزد لوی اجراوثواب دی دا چې امانت د الله (جل جلاله) په وړاندې د لوړې مرتبې اومنزلت درلودونکی دی نوځکه یې د غوره خلکوله صفاتوڅخه شمارلی دی او دا هغه کسان دي چې د قیامت په ورځ به دوی د الله (جل جلاله) له عذاب څخه نجات موندونکي کسان وي الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ)**[2]

ژباړه : اوهغه کسان ( هم هلوع نه دي ) چې دوی امانتونوخپلولره او وعدوخپلولره ساتونکي دي ( اوپه سریې رسوي ).

یعنې مؤمنان د هغوامانوتوساتونکي دي چې د دوی او د خلکوپه مینځ کې وي اویاهم د دوی اوالله (جل جلاله) ترمینځ وي همدا رنګه په هغو وعدو باندې هم وفاء کوي چې د دوی اونورو خلکو ترمینځ وي.[3]

د موسی علیه السلام د ستاینېنې یوعلت هم دا وه چې هغه د امانت ساتونکی وه چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ)**[4]

ژباړه : وویل یوې له دغودواړو ! ای پلاره زما ! مزدورونیسه دی ( د پاره د میړو « ګډو » څرولو) بیشکه چې غوره د هرهغه چا چې مزدوریې نیسې هغه څوک دی چې قوتناک اوامانتګروي .

**(إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْأَمِينُ)** یعنې : موسی غوره کس دی چې باید د مزدورۍ لپاره ونیول شي ځکه چې د قوت اوامانت خاوند دی بهترین کارګرهم هغه دی چې دا دوه صفتونه ولري ځکه د قوت خاوند کارترسره کولای شي او امین کس خیانت نکوي.[5]

په بل مبارک آیت کې الله (جل جلاله) صراحتا مؤمنانوته امرکوي چې هغوی امانتونه خپلوخاوندانو وسپاري الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا)**[6]

---

[1] معجم مقایس اللغة ج ۱ ص ۱۳۸.

[2] المعارج ۳۲.

[3] بحرالعلوم للسمرقندي ج ۳ ص ۴۷۳.

[4] القصص ۲۶.

[5] تفسیرالسعدي ص ۶۱۴.

[6] النساء ۵۸.

ژباړه : بيشكه الله (جل جلاله) امركوي په تاسي ( ای مؤمنانو!) د دې چي وسپارئ تاسي امانتونه اهل د امانتونوته اوكله چي حكم كوی تاسي ( ای قاضيانو ! ای حاكمانو ! ) په مينځ د خلكوكي نوامركوي الله (جل جلاله) چي حكم وكړئ په انصاف سره ! بيشكه الله (جل جلاله) ښه شی چي پند دركوي تاسي ته په هغه سره ( چي د امانتونواداء اوپه عدل سره حكم كول دي ) بيشكه چي الله دی ښه اوريدونكی (د ټولواقوالو ) ښه ليدونكی ( عالم په ټولواوښكاره ؤ ) .

امانت هرهغه شي ته ويل كيږي چي يوشخص په هغه امين مقررشوی وي اود ساتني دنده يي د هغه پرغاړه وي نوالله (جل جلاله) خپلوبندگانوته امروكړترڅوپه پوره ډول بغيرله كومي لاسوهني اوكموالي څخه امانت اداء كړي د دې آيت په حكم كي د ولاياتومالونو اسرارو او رازونو امانتونه اوهغه مأمورات چي بغيرله الله (جل جلاله) څخه بل څوک ورباندي خبرنه وي دا خپلېږي، فقهاء كرامو دا خبره هم ذكركړېده چي كوم شخص ته امانت وسپارل شي په ده باندې په يوخوندي ځای كي د دې امانت ساتل واجب دي ځكه چي ببرته د امانت سپارل ببله ساتنيني څخه امكان نلري.

د پورته بحث څخه دا څرگنده شوه چي مؤمن شخص بايد د پورته صفتونو د خپلولو اولاسته راوړلو لپاره چي د ايمان درلودل اوالله (جل جلاله) څخه وېره لرل د انسان سره دا مرسته كوي ترڅونوموړي صفتونه خپل كړي او د الله (جل جلاله) رضايت او دارينوسعادت اوكاميابي ترلاسه كړي.

### پنځم صفت : د غوسي زغمل اوخلكوته عفوه كول

د غوسي پيژندنه : **(الكظم الإمساك على ما في النفس على صفح أو غيظ).** [1]

يعني :غوسه د نفس له غوښتنوڅخه د عفوي يا هم د قهرپه وسيله ژغورلوته ويل كيږي.

د عفوي پيژندنه : **(العفو ما جاء بغير تكلف ولا كره).** [2]

يعني : عفوه له هغه شي حخه عبارت ده چي بغيرله تكلف اواكراه څخه را مينځته شي.

الله (جل جلاله) په قرآنكريم كي د غوره خلكودي صفت ته اشاره كړېده فرمايي **(الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ)**[3]

ژباړه : هغه كسان چي نفقه وركوي ( مال لگوي د الله په نامه ) په خوښی ( يا ارزانی يا شتمنی كښي ) اوتكليف ( يا قيمتی يا تنگسه كښي ) اوچي زغمونكي د قهردي ( سره له قدرته ) اوعفوه كوونكي دي له خلكو ( چي پرې وكړي زياتی اوظلم ) اوالله (جل جلاله) خوښوي نيكي كوونكي.

---

1 التعاريف للمناوي ص ۶۰۴.

2 التعاريف للمناوي ص ۵۱۸.

3 آل عمران ۱۳۴.

(**الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ**) يعني : هغه کسان چې خپل مال د سختئ اوآسانئ په وخت کې نفقه کوي خپل قهرپټوي اود قهرپه وخت کې خپل ځان کنترولوي د قدرت په وخت کې په نورو خلکوتجاوز نکوي همدا ډول خلکوته عفوه کوي اود هغول له ګناه څخه تېرېږي اوخلکوته عفوه کول د نېکوکارونو له جملې څخه دي اوله هغوخلکوسره نيکي کوي چې بدې يې ورسره کړې وي الله (جل جلاله) نيکي کوونکي خوښوئ.[1]

پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) د غوسې د له مينځه وړلو په اړه فرمايلي دي (**من كظم غيظا وهو قادر على أن ينفذه دعاه الله على رءوس الخلائق يوم القيامة حتى يخيره في أي الحور شاء**)[2]

ژباړه : هغه څوک چې دا توان ولري چې خپله غوسه اوقهرعملي کړي خوبيايې هم عملي نکړي اوله مينځه يې يوسي الله (جل جلاله) به يې د قيامت په ورځ د ټولوانسانانوپه سرکې را وغواړي ترڅود ځان لپاره هرڅومره حورې يې چې خوښه وي ځان ته غوره کړي.

همدارنګه په بل حديث کې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي (**عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ليس الشديد بالصرعة إنما الشديد الذي يملك نفسه عند الغضب**)[3]

ژباړه : ابي هريرة (رضى الله عنه) له پيغمبرڅخه روايت کوي چې پيغمبروفرمايل پهلوان هغه کس نه دی چې نورخلک را ځملوي بلکې حقيقي پهلوان هغه څوک دی چې د قهراوغوسې په وخت کې خپل ځان کنترول کړي.

په قرآنکريم کې د يوسف (عليه السلام) په قصه کې دا لولوهغه وخت يې چې له خپلو ورونوسره خبرې کولې په داسې حال کې چې هغوی له ډېرو ستونزو سره هم مخامخ ؤ ده هغوی ته داسې وويل (**وَلَمَّا جَهَّزَهُمْ بِجَهَازِهِمْ قَالَ ائْتُونِي بِأَخٍ لَكُمْ مِنْ أَبِيكُمْ أَلَا تَرَوْنَ أَنِّي أُوفِي الْكَيْلَ وَأَنَا خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ**)[4]

ژباړه : اوکله چې تيارکړيوسف (عليه السلام) دوی ته اسباب د سفرد دوی نو وويل (يوسف عليه السلام) ورونوخپلوته ) چې راولئ ماته تاسې هغه ورورستاسې چې له پلارستاسې دی ! آيا نه وينی تاسې چې ببشکه زه پوره درکومه پيمانه اوزه غوره د ميلمستيا ورکوونکويم .

يعنې : يوسف (عليه السلام) چې کله خپلو ورونوته د هغوی بارونه پوره کړل چې لس باره ؤ اودوه نوربارونه يې هم ورکړل يود خپل وروربن يامين اوبل د خپل پلارلپاره نودوی ته يې وويل چې بل ځل

---

[1] التفسيرالوسيط للزحيلي ج ١ ص ٢٣٨.

[2] ابن ماجه ج٢ ص ١٤٠٠ دحديث شميره ٤١٨٦، باب الحلم. آلباني رحمه الله ويلي دي دا حديث صحيح دی. وګوره : الجامع الصغيروزيادته ، ج ١ ص ١١٤٧.

[3] مسلم ج٤ ص ٢٠١٤ د حديث شميره ٢٦٠٩، باب فضل من يملك نفسه عند الغضب وبأي شيء يذهب الغضب.

[4] يوسف ٥٩.

موهغه ورورچې له پلارڅخه مودی هم له ځان سره راولئ ځکه چې ما تاسي ته د غنموبارونه پوره درکړل اوستاسي ورورته مي هم يواوښ باردرکړ زه بهترين ميلمه پال هم يم دوی ته يې ښه مېلمستيا هم ورکړه يوسف غوښتل چې دوی يوځل بيا هم راشي. (1)

نودا چې يوسف (عليه السلام) خپلوورونوته د دوی د پخوانيو بدوګړنو په هکله هيڅ هم ونه ويل دا هم د ده په ښايسته صفت چې عفوه ده دلالت کوي.

همدا رنګه الله (جل جلاله) هغوکسانوته چې خلکوته عفوه کوي د لوی اجرزيری ورکړی دی چې په هکله الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ)**(2)

ژباړه : اوجزاء د بد کاربد کاردی په شان د هغه ( نه زيات ) پس هرچا چې عفوه وکړه اوصلح يې وکړه پس اجرد ده په الله (جل جلاله) دی بيشکه الله (جل جلاله) نه خوښوي ظالمان ( شروع کوونکي په ظلم سره ) .

يعني د مجرم سزا هغه څه ده چې الله (جل جلاله) تعين کړې وي اوڅوک چې هغه چاته عفوه وکړي چې له ده سره يې بد کړې وي خودی يې په مقابل کې له هغه سره صلحه وکړي نو د ده لپاره په الله (جل جلاله) ثابت اجردی اوالله (جل جلاله) هغه کسان چې د ظلم شروع کوونکي وي نه خوښوي هغه کسان چې الله (جل جلاله) يې نه خوښوي هغوی ته يې د جزا ورکولواجازه کړېده. (3)

## شپږم صفت : د فرج يا شرمګاه ساتنه

د شرمګاه ساتنېي يا حفظ الفرج پيژندنه : **(حفظ الفرج هوالتعفف من الحرام).**[4]

يعني : حفظ الفرج له حراموڅخه د شرمګاه له ساتنېي څخه عبارت ده.

الله (جل جلاله) په قرآنکريم کې خپل غوره بندګان په داسي صفتونوسره نومولي دي چې هرمسلمان ته د خوشحالی اصمينان اوراحت سبب اوذريعه دي.

الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ)**(5)

ژباړه : اوهغه کسان چې د خپلوفرجونو ( شرمګاؤ ) ساتونکي دی ( له حراموڅخه ) .

---

[1] التفسير المنيرللزحيلي ج ١٣ ص ١٦.

[2] الشوری ٤٠.

[3] ايسرالتفاسيرلكلام العلی الكبير ج٤ ص ٦١٦.

[4] التعاريف للمناوي ص ٥٥٣.

[5] المعارج ٢٩.

يعني دوى خپل فرجونه  له حراموڅخه ساتي اوپه هغه ځاى کې يې نه استعمالوي چې الله (جل جلاله) يې اجازه نه  وي کړې. [1]

---
[1] ابن کثير ج ٨ ص ٢٢٧.

## دوهم مبحث : په قرآنکریم کې د خیردنیوي ګټې

### لومړی مطلب : په دنیا کې د خیرفردي ګټې

### دوهم مطلب : په دنیا کې د خیرټولنیزې ګټې

## دوهم مبحث : په قرآنکریم کې د خیردنیوي ګټې

### لومړی مطلب : په دنیا کې د خیرفردي ګټې

دا چې د الله (جل جلاله) مؤمن بندګان په دنیا کې د خیرلاره خپله کړي اود ژوند په ټولوچاروکې د الله (جل جلاله) احکام عملي کړي نو د دنیوي ژوند په فردي برخه کې ځینې ښیګڼې اوګټې لاسته راوړلای شي چې په قرآنکریم کې بیان شوېدي اوځینې یې په لاندې ډول دي.

### لومړی ګټه : علم اوحکمت ترلاسه کول

د علم پېژندنه : (**العلم هو الإعتقاد الجازم المطابق للواقع**)(1) یعنی : علم د واقعیت مطابق دعقیدې لرلوڅخه عبارت دی.

د حکمت پېژندنه : (**الحكمة علم يبحث فيه عن حقائق الأشياء على ما هي عليه في الوجود بقدر الطاقة البشرية فهي علم نظري غير آلي**) (2)

یعني : حکمت د بشري اوانسانېې وس مطابق له هغه علم څخه عبارت دی چې په هغه کې په حقیقي ډول د هرشي حقیقت وڅېړل شي چې دا نظري علم دی نه کمپیوتري.

الله (جل جلاله) خپلوبندګانوته دا خبر ورکړیدی چې هغه چاته چې د ده خوښه شي علم اوحکمت ورکوي چې علم اوحکمت د الله (جل جلاله) د صفتونوله جملې څخه هم دي الله (جل جلاله) فرمایلي دي (**يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ**)(3)

ژباړه : ورکوي الله (جل جلاله) حکمت ( نافع علم سره له عمله ) هرچاته چې اراده وکړي د ورکولویې اوهرچاته چې ورکړشوحکمت ( نافع علم سره له عمله ) نوپه تحقیق سره ورکړی شوده ته خیرډیر، اونه اخلي پند مګرخاوندان د عقلونو ( صافوچې د وهم اونفسي غوښتنوشوائب پکښې نه وي .

حکمت په اصل کې مصدر دی د احکام څخه اخیستل شویدی چې په علم عمل قول اویاهم په ټولوباندې پابندی اواتقان ته ویل کېږي همدا ډول حکمت د انسان لپاره یونفسي صفت دی چې د انسان د معرفت لپاره اساس دی کله چې له حق سره موافق وي انسان د خیرد کارپه لوري متوجه کوي اوله شرڅخه یې ساتي د حکمت په وسیله انسان د کمال درجې ته رسېدلی شي. (4)

---

[1] التعريفات للجرجاني ص ١٩٩ .

[2] التعريفات للجرجاني ص ١٢٣.

[3] البقرة ٢٦٩.

[4] التفيسر الوسيط للقرآن الكريم ج ١ ص ٦١٩.

نود دي مبارک آیت معنی دا شوه چې الله (جل جلاله) د ټولوکارونو فاعل دی د خپلوبندګانوله جملې څخه يې چې چاته خوښه شي حکمت ورکوي **(وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا)** ځکه کوم وخت چې انسان ته حکمت ورکړل شي نوده ته د نافع علم په لوري هدايت وشي هغه بيا صالح عمل ترسره کوي چې د ده له علم سره موافق وي په حق باندې ايمان راوړي هرخيرقبلوي اوله هرشرڅخه ځان ساتي چې د دې کارپه وسيله د نيوې او اخروي سعادت اونيکمرغي ترلاسه کوي. [1]

پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي **(عن ابن عباس رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين)**[2]

ژباړه : عبدالله ابن عباس (رضی الله عنه) له پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) څخه روايت کوي چې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: چاته چې الله (جل جلاله) د خيراراده وکړي هغه ته په دين کې پوهه ورپه برخه کړي.

## دوهمه ګټه : په عبادت کې د الله ( جل جلاله) له لوري مرسته ترلاسه کول

د عبادت پيژندنه : **(العبادة فعل المكلف على خلاف هوى نفسه تعظيما لربه)** [3]

يعني : عبادت د رب د تعظيم لپاره د نفسي ِغوښتنوخلاف د مکلف انسان له کړنې څخه عبارت دی.

الله (جل جلاله) خپل بندګان له مشرکوښځوسره له نکاح څخه د دې لپاره منع کړيدي ترڅوله هغوی سره نکاح کول د دې سبب نشي چې مؤمنان د الله (جل جلاله) له عبادت څخه غافل کړي چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ)** [4]

ژباړه : اوپه نکاح مه اخلئ ! مشرکي ښځې ترهغه پورې چې ايمان راوړي دوی اوخامخا وينځه مؤمنه بهتره ده له مشرکي اصيلې څخه اګرکه ښه درښکاره شي تاسې ته هغه ( کافره ) اوپه نکاح مه ورکوئ ( مسلمانانېنې ښځې ) کافرانوته ترهغه پورې چې ايمان راوړي دوی اوخامخا مريی مؤمن بهتردی له کافرسړي نه اګرکه درښکاره شي تاسې ته ( هغه کافر ) دغه کسان بولي خلک ( په بدعمل سره ) په

---

[1] التفيسرالوسيط للقرآن الكريم ج ١ ص ٦١٩.

[2] الترمذي ج ٥ ص ٢٨ د حديث شميره ٢٦٤٥ ، باب 1 إذا أراد الله بعبد خيرا فقهه في الدين. آلبانى ويلي دي دا حديث صحيح دى. وګوره : السلسلة الصحيحة ج ٢ ص ٢٥١.

[3] التعاريف للمناوي ص ٤٩٨.

[4] البقرة ٢٢١.

لوري د اور ( دوزخ ) اوالله ( اودوستان يې ) بولي ( خلک ) په لوري د جنت اومغفرت په اذن ( حکم اوارادې ) خپلې سره اوبيانوي احکام خپل خلکوته د پاره د دې چې دوی نصيحت ومني ( پند واخلي ) .

په دې مبارک آيت کې الله (جل جلاله) مؤمنان له مشرکوښځوسره د نکاح څخه منعه کړيدي خوکه چېرته په الله (جل جلاله)او رسول ايمان راوړي ورسره نکاح کول جايزدي اومؤمنانوته الله(جل جلاله) دا ويلي دي چې د مشرکوښځوسره د نکاح کولوڅخه نفرت وکړئ اوله مؤمنوښځوسره د نکاح کولو لپاره بايد رغبت ولرى له مؤمني ښځې سره نکاح ترمشرکي آزادې ښځې سره له نکاح کولوڅخه غوره ده اګرکه تاسې د مال اوښايست په سبب له مشرکې ښځې سره د نکاح کولو رغبت هم ولرى همدا ډول الله (جل جلاله) دا کارهم حرام ګرځولى دى چې مؤمنه ښځه مشرک ته په نکاح ورکړل شي خوکه چېرته مشرک ايمان راوړي مؤمنانوته دا روا ده چې خپلې لونې اوخويندې هغوى ته په نکاح ورکړي الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا**) اوغلام مؤمن له آزاد مشرک څخه غوره دى اګرکه مشرک غلام د قدرت اومال خاوند هم وي الله (جل جلاله) د دې کارعلت هم بيان کړيدى (**أُولَئِكَ**) يعنې: مشرکې ښځې اوسړي خلک د دوزخ لوري ته دعوت کوي اوله دوى سره ګډ ژوند د فساد لپاره زمينه برابروي په خاصه توګه چې کله له دوى سره واده وشي خود دې په مقابل کې الله (جل جلاله) د جنت په لوري د ايمان صالح عمل او ريښتيني توبې په وسيله د مغفرت په لوري خلکوته بلنه ورکوي نوتاسې د الله (جل جلاله) د اوامرو اطاعت وکړئ چې دا کار د الله (جل جلاله) د رضايت ترلاسه کولواوجنت ته د رسېدلولاره ده اوله ګناه څخه ځان وساتئ چې ګناه د الله (جل جلاله) د قهراوجهنم د اوروسيله ده. (1)

له ذکرشوي آيت څخه دا څرګنده شوه چې کله له يوچا سره نکاح کېږي د هغه دين بايد په نظرکې ونيول شي ځکه نکاح هم د عبادت يومهم ډول دى خودا هم هغه وخت چې په شرعي طريقه اوله هغه چاسره وشي چې اسلامي شريعت خپل پيروان ورته تشويق کړيدي لکه څنګه چې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي (**عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ صلى الله عليه وسلم-قَالَ تُنْكَحُ النِّسَاءُ لأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ**)(2)

ژباړه : ابى هريرة (رضى الله عنه) له پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) څخه روايت کوي چې پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: چې له ښځوسره د څلورو خصوصياتوپه خاطرنکاح کېږي د مال يا نسب يا ښايست اويا هم د دين لپاره نوته په ديندراه ښځه کاميابي حاصله کړه ستالاسونه دې په خاورو سپېره شي.

---

[1] آيسر التفاسير لكلام العلى الكبير ج ١ ص ٢٠۴.

[2] سنن آبى داود ج٢ ص ١٧۴ د حديث شميره ٢٠۴٩ آلبانى ويلي دي دا حديث صحيح دى. وګوره : صحيح الترغيب والترهيب ج ٢ ص ١٩٣.

په دي مبارک حديث کي پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) خپل امت له ديندارو ښځوسره نکاح کولوته تشويق کړيدی.

### دريمه ګټه : له ګناهونوڅخه د نفس پاکوالی

دلته له ګناه څخه هدف د بدواخلاقوڅخه چې بخل دی د نفس پاکوالی دی الله (جل جلاله) په خپل کتاب کي خپل بندګان دي ته هڅولي دي چې خپل نفس له بدواخلاقوڅخه هغه څه چې د بنده لپاره د ګناه وسيله دي پاک کړي اوپه ښايسته اخلاقو باندي ځان سمبال کړي چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَةً ذَلِكَ خَيْرٌ لَكُمْ وَأَطْهَرُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ)**(1)

ژباړه : ای هغوکسانوچي ايمان يي راوړی دی ( يعني اومؤمنانو ) کله چي ( اراده کوي د پټوخبرو ) له رسول سره نو وړاندي کړئ په مخکښي د رازخپل څه صدقه خيرات ( فقراؤلره ) دغه تقديم د صدقي پخوا له پټوخبرونه  خيربهترډيرغوره تاسي لره اوډيرپاکيزه دی نوکه بيا نه  مومئ ( تاسي هغه شی چي صدقه يې کړی ) پس بيشکه الله (جل جلاله)  ښه مغفرت کوونکی ( د خطيئاتو ) ډير رحم والا دی ( په انعام د اجراوثواب سره ) .

د پورتني مبارک آيت معنی دا شوه چي کله موله پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) سره د مناجات اوپټوخبرو اراده لرله نوله خبروڅخه مخکي صدقه ورکړئ ځکه صدقه ورکول ستاسو لپاره د هغي له نه ورکولوڅخه غوره دي اوله ګناه څخه ستاسود زړونو د پاکوالي وسيله ده که مو د صدقې ورکولو توان نه درلود الله (جل جلاله) په هغوچي د صدقي ورکولو وس نلري مهربان اوبخشش کوونکی دی ځکه چي غنيانوبه له پيغمبرسره مناجات کاوه خوفقيران د پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) د خبرو له آوريدلو څخه محروم ؤ اوخپله هم پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) له اغنياؤ سره زيات مجلس اواوږدې ناستي نه  خوښولي نوالله (جل جلاله) دوی ته ترمناجات مخکي په صدقي ورکولو امر وکړ چي په دې سره فقيران وتوانيدل ترڅو د پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) خبري واوري او د هغه په مجلس کي شرکت وکړي، مجاهد (رحمه الله) ويلي دي : چي له پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) سره له مناجات کولوترهغي پورې منع شول ترڅوپورې يې چي صدقه نوي ورکړې له علی (رضی الله عنه) څخه پرته هيچاهم له پيغمبر(صلى الله

---

[1] المجادله ۱۲.

عليه وسلم) سره مناجات ونكړهغه یو دینار صدقه ورکړ اوله پيغمبرسره يې خبرې وکړې بیا د راتلونکي آيت په وسيله بېرته د الله (جل جلاله) له لوري رخصت راغی.[1]

**(أَأَشْفَقْتُمْ أَنْ تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ)**[2]

ژباړه : آیا ویریږی تاسي له فقرڅي وړاندې کړی په مخکښي د پټې خبرې ستاسي صدقات خیراتونه پس په هغه وخت کښي چي ونه کړتاسي دغه ( خيرات ) او رجوع په رحمت سره وکړه الله (جل جلاله) پرتاسي باندې نوقائم کړئ ( سم ودروئ سره له ټولوحقوقو ) لمونځ او ورکړئ تاسي زکات اوحکم ومنئ تاسي د الله اوحکم ومنئ تاسي د رسول د دغه الله (جل جلاله) اوالله (جل جلاله) ښه خبرداردی په هغه اعمالوباندې هم چي کوی یې تاسي ( نوجزاء به یې درکړي ) .

یعني ای هغوکسانوچي له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) سره مومجلسونه کول تاسي په خپل مال بخل وکړچي له مجلس څخه مخکي یې صدقه کړی که تاسي دا کارکړی وای ډیرښه کاروه که چېرته تاسي نوموړی کارنه څوښوی الله (جل جلاله) ستاسي صدقي ته اړتیا نلري.**(وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ)** الله (جل جلاله) ستاسي څخه تجاوزوکړاوله مجلس کولوڅخه مخکي صدقه ورکول منسوخ شول.**(وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ)** په کوم شي چي الله (جل جلاله) اودهغه رسول تاسي ته امرکوي هغه وکړئ **(وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ)**هغه څه چي تاسي یې کوی که هغه خیریاشرصدقه ورکول یاهم له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) سره مناجات وي الله (جل جلاله) پرې خبردی.[3]

## څلورمه ګټه : نفسي سکون اواطمینان ترلاسه کول

په ژوند کي د نفسي سکون اواطمینان درلودل د الله (جل جلاله) د نعمتونوله جملي څخه هغه لوړاود ارزښت څخه ډک نعمت دی چي د ژوند هیڅ نعمت ورسره برا برېدلی نشي انسان هغه وخت کولای شي چي نوموړی نعمت ترلاسه کړي چي د توحید د سوچه عقیدې درلودونکی اود الله (جل جلاله) په اوامروعمل کوونکی وي الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)**[4]

---

[1] تفسير السعدي، ص۸۴۶.
[2] المجادلة ۱۳.
[3] بحر العلوم للسمرقندي ج ۳ ص ۳۹۷.
[4] البقرة ۲۱۶ .

ژباړه : فرض کړی شوی دی پرتاسې باندې جنګ کول ( له کفاروسره ) حال دا چې د غه ( جنګ ) بد ښکاري تاسي ته ، اوښايي چې بد ګڼی تاسي يوشی حال دا چې هغه ډيربهتروي تاسي لره ، اوښايي چې تاسې ښه وګڼی تاسې يوشی حال دا چې هغه به ډيربد وي تاسې ته اوالله (جل جلاله) عالم دی ( په خيرستاسې اوتاسې نه پوهيږی ( په خيرخپل ) .

د دې مبارک آيت تفسيردادی چې ډېرځله تاسې فی الحاله يوشی پرتاسې باندې ډېرسخت تماميږي خوپه راتلونکي کې هغه ستاسولپاره زياته فايده لري په همدې سبب يوشخص د ترخي دوا څخه د دې لپاره استفاده کوي ترڅوپه راتلونکي کې د روغتيا خاوند شي که ستاسې ګومان دا وي چې د جهاد په پرېښودلوسره به ځان له مرګ څخه خلاص کړم اومال به مې هم نه ضايع کيږي خوليکن د جهاد په پرېښودلوکې زيات ضررونه دي ځکه که دښمن پردې باندې وپوهيږي چې تاسې له استراحت اوآرام کولوسره مينه لری هغوی به ستاسوپه هېوادونود حملې کولواوستاسود وژلوقصد اواراده وکړي، نتيجه داشوه چې د الله (جل جلاله) په لارکې جهادکول په دنيا کې له دښمنانوڅخه د امن د لاسته راوړلولپاره وسيله ده اوپه آخرت کې مجاهد د لوی اجراوثواب مستحق ګرځي. (1)

**(وَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَعَسَى أَنْ تُحِبُّوا شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَكُمْ)** يعنې : ډېرځله انسان هغه څه ترسره کوي چې هغه يې په طبيعت ښه نه لګيږي د دې لپاره چې په راتلونکي کې خيراونفع ترلاسه کړي لکه چې په تجارت کې د دې لپاره چې فايده وکړي د خطرڅخه ډکوسفرونوته زړه ښه کوي اودعلم د ترلاسه کولوپه لاره کې ډېرې ستړياوې ګالي ترڅودنيوي اواخروي کاميابي ترلاسه کړي همدارنګه هغه شيان چې په طبعي توګه لذت لري خوهغه څوک چې د لاسته راوړلولپاره يې هڅه کوي د دې څخه وېره لري چې له کوم ضررسره مخامخ نشي اويا نورخلک له ده سره د هغه په لاسته راوړلوکې منازعه اوجنجال ونکړي همدا ډول د جهاد په پرېښودلوکې هم دا حال دی ځکه يوشخص په دې کارسره ځان له مرګ اومال له فی الحاله لاسه وتلوڅخه ساتي خوپه راتلونکي وخت کې ډېرضررونه لري لکه د کفاروتسلط د دوی په هېوادونومالونواوحريمونو باندې چې دا بيا نولوی تاوان دی خوپه جهاد کې مسلمانان ډېرڅه ترلاسه کولای شي لکه غنيمت د کفاروپه هېوادونوتسلط اود اسلام د حدودوساتنه په دين کې دا خپلدوته نورخلک تشويقول د حق د کلمې لوړوالی اوپه اخرت کې ثواب اواجرترلاسه کول. (2)

---

1 التفسيرالوسيط للقرآن الكريم ج ١ ص ٤٦٩.

2 تفسيرالشيخ المراغی ج ٢ ص (١٣٢ـ ١٣٣)

له دي مبارک آیت څخه د استدلال وجه داده چې د الله (جل جلاله) په لاره کې جهاد کول د نفسي سکون اواطمینان ترلاسه کولولپاره مهمه ذریعه ده ځکه مؤمنان به خپل دیني احکام بغیرله ویرې څخه ترسره کوي اومجاهدین به د خپل جهاد په وسیله د خپلوسرحداتوساتنه کوي.

## پنځمه ګټه : د دعا قبلېدل

د دعا پېژندنه : (**هوالابتهال الى الله ومناجاته فى طلب حصول محبوب اودفع مكروه**)[1]

یعني دعا د الله (جل جلاله) څخه د ښه شي د لاسته راوړلولپاره دعا اومناجات ته اویا هم د ناخوښه شي له دفعه کولوڅخه عبارت ده.

د دعا قبلېدل هغه مېوه ده چې د الله (جل جلاله) غوره بندګان یې ترلاسه کولای شي چې د دوی په سرکي پیغمبران لکه څنګه چې ذکریا د الله (جل جلاله) په دربارکي د خپلي مېرمنېني شفاعت کوي کله چې الله (جل جلاله) ته دعا کوي الله (جل جلاله) یې دعا قبلوي اوده ته اولاد ورکوي الله (جل جلاله) فرمایلي دي (**وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَى رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ (89) فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ**)[2]

ژباړه : او( یاد کړه ای محمده ! قصه د ) زکریا کله چې غږ وکړرب خپل ته ( داسي چې ) ای ربه زما مه پرېږده ما یوازې ( بي اولاده ) اوته یې غوره له ګردو ( ټولو) وارثانو . پس قبوله کړه مونږ.دعا د دغه ( زکریا ) او وموبانښه دغه ( زکریا ) ته یحیی اوصالحه موکړه ده ته ښځه د ده ( د ولادت لپاره له شنډوالي څخه وروسته ) بیشکه دغه ( مذکورانبیاء ) وو دوی چې تلوار به یې کاوه په کولود نیکوعملونواوطلب د خیراتونواوبللوبه یې مونږ.له جهته د مینېني د ثواب اوله جهته د ویرې د عذاب او وو دوی خاص مونږ.ته ویرودونکي متواضع .

یعني ای پیغمبره (صلى الله عليه وسلم) د ذکریا (علیه السلام) د قیصې یادونه وکړه چې کله یې له الله (جل جلاله) څخه وغوښتل چې زوی ورکړي ترڅوله ده څخه وروسته پیغمبروي نوله خپل قوم څخه یې پټه دعا وکړه اوویې ویل چې ای خدایه ما یواځې مه پرېږده چې زوی اووارث ونلرم ماته اولاد راکړه چې زما څخه وروسته خلک ستا د دین په لوري راوبلي د مخلوقاتوله فناء کېدوڅخه ورسته یواځې ته باقي یې که چېرته ماته وارث را په برخه نکړې هېڅ باک نلري ځکه ته بهترین وارث یې د الله (جل جلاله) دا قول (**وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ**) د الله (جل جلاله) ثناء اوالله (جل جلاله) ته دعا ده (**فَاسْتَجَبْنَا** له

---

1 معجم مقایس اللغة ج ۲ ص ۲۲۸.

2 الانبیاء ( ۸۹ ـ ۹۰ )

**وَوَهَبْنَا** له **يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا** له **زَوْجَهُ)** يعني : مونږ ده دعا قبوله کړه اوهغه ته موزوی ورکړچې نوم يې يحيى دی اود ده له مېرمنېنې څخه مود ولادت موانع لرې کړل د شنډوالي څخه وروسته اود روړوالي په حالت کې يې اولاد پيدا شو(**إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ)** يعني : هغه پيغمبران (عليهم السلام) چې مخکې ذکرشول چې د هغوی له جملې څخه ذکريا اود هغه مېرمن هم ده مونږته د نژدېوالي اوزمونږ د طاعت په لوري هڅه کوي مراد دی چې ځکه د دوی دعا قبلېږي چې دوی د ابواب الخيرپه لوري چالاکي اوهڅه کوي (**وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًاوَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ)** معنی دا چې دوی له مونږڅخه غوښتنه اومونږته دعا کوي ځکه ځکه زمونږد رحمت او فضل امېد لري اوزمونږله عذاب څخه وېرېږي هغوی زمونږلپاره عاجزي کوونکي ۇ معنی دا شوه چې پيغمبرانوځکه د طاعاتوترسره کولولپاره هڅه کوله چې: لومړی : ترڅوالله (جل جلاله) ته عذراوزاری وکړي د دې لپاره چې ثواب ترلاسه کړي همدا ډول يې د الله له عذاب څخه وېره لرله، دوهم : په هغوی کې خشوع شتون درلود خشوع په زړه کې ثابتې وېرې ته ويل کېږي اوياهم خشوع په زړه کې له هغې لازمي وېرې څخه عبارت ده چې هېڅ کله ترې جدا نشي. (1)

## دوهم مطلب : په دنياکې د خيرتولنيزې ګټې

که چېرته د الله (جل جلاله) مؤمن بندګان په خپل دنيوي ژوند کې د خيرلاره خپله کړي نويولړټولنيزې ګټې به ترلاسه کړي چې دا ګټې د الله (جل جلاله) په کتاب کې په ښکاره ټکوکې بيان شوېدي چې ځينې ګټوته به يې په راتلونکوټکوکې اشاره وشي.

## لومړی ګټه : په ځمکه کې د الله (جل جلاله) د توحيد خپرېدل

د توحيد پېژندنه : ( **التوحيد في اللغة الحكم بأن الشئ واحد والعلم بأنه واحد وفي اصطلاح أهل الحقيقة تجريد الذات الالهيةعن كل ما يتصور في الأفهام ويتخيل في الأوهام والأذهان وهو ثلاثة أشياء معرفة الله تعالى بالربوبية والإقرار بالوحدانية ونفي الأنداد عنه جملة.** ) (2)

يعني : توحيد په لغت کې په يوشي د يووالي حکم کولواوعلم لرلوته ويل کېږي اوپه اصطلاح کې له هرهغه څه څخه د الهي ذات يواځې ګڼلوته ويل کېږي چې انساني فهم يې تصورکوي اوپه خيال کې را ګرځي چې دا درې ډوله دي د الله (جل جلاله) د ربوبيت پېژندنه د الله (جل جلاله) په يووالي اقرارکول اوله الله (جل جلاله) څخه د ټولوسيالانونفی کول.

[1] التفسيرالمنيرللزحيلي ج ١٧ ( ١٢٢ ـ ١٢٣ )

[2] التعريفات للجرجاني ص ٩۶.

الله (جل جلاله) د تاريخ په اوږدوکي د زياتوخلكوواقعات په ځمکه کي د تو حيد د خپرېدلولپاره په خپل كتاب كي ذكركړيدي چې د دې ډول واقعاتوڅخه يوه هم له ساحرانوسره د موسى واقعه ده چې دوى په څه ډول ايمان راوړاوپه خمکه کې د توحيد د خپرېدلولپاره په خپل ايمان ثابت پاتي شول الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى)**[1]

ژباړه : بيشكه مونږايمان مو راوړی دی په رب خپل چې وبخښي مونږته ګناهونه زمونږ اوهغه چې مجبورکړي يومونږپه كولود هغه شي باندې له سحره ( په مقابل د معجزې کښي )

**(إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ)** يعني : مونږپه خپل هغه رب ايمان راوړی دی چې ټول عمريې زمونږسره نېكي كړېده ترڅوپوري زمونږ هغه ګناهونه له مينځه يوسي چې مونږيې بدنام اومجروح كړي يوپه خاصه توګه هغه ګناه چې تاپرې مجبورکړي ؤچې هغه سحردی ترڅوپرې د الله (جل جلاله) د آياتونواومعجزاتومقابله وكړو، له حسن بصري (رحمه الله) څخه روايت دی هغه ساحران چې له موسى سره د مقابلي لپاره د ښارونوڅخه را ټول شوي ؤ هغوی په زورراوستل شوي وو چې خپل سحرښكاره كړي، دا هم روايت شوي چې د ساحرانومشران ۷۲ كسان ؤ چې دوه يې قبطيان اوپاتي نوريې بنى اسرائيل ؤ چې فرعون دوی د سحرپه زده کړه مجبورکړي ؤ**(وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى)** يعني : الله (جل جلاله) د وامداره جزا اوثواب په اساس ستا اوهغه څه څخه غوره دی چې تا مونږ د هغه په لوري دعوت كولو. [2]

**(وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى)** په دې کې دوه وجې دي لومړی دا چې: كه چېرته د الله (جل جلاله) اطاعت وكړود هغه ثواب دوامداره اوغوره دی همدارنګه كه د الله (جل جلاله) نافرماني وشي عذاب يې همېشه دی، دوهم دا چې: كه د الله (جل جلاله) اطاعت وشي د ثواب په لحاظ ستا څخه غوره دی اوكه يې نا فرماني وشي د هغه عذاب ستا له عذاب څخه دوامداره دی. [3]

همدا رنګه په ځمکه کې د توحيد خپرېدل د پيغمبرانو (عليهم السلام) د بعثت اساسي هدف اومقصد هم دی اوپه هرځای اوهروخت كې يې خلک د الله (جل جلاله) د وحدانيت په لوري را بللي دي لكه څنګه چې الله (جل جلاله) د يوسف په سورت کې دې ټكي ته اشاره كړېده فرمايي **(يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ)**[4]

---

[1] طه ۷۳.

[2] تفسيرالشيخ المراغي ج۱۶ ص ( ۱۳۱ ـ ۱۳۲ )

[3] التفسيرالماوردي ج ۳ ص ۴۱۵.

[4] يوسف ۳۹.

ژباړه : ای دواړو ملګرو زما د زندان آیا خدایان متفرق ( تار په تار) غوره دي که هغه الله غوره دی چې یودی ؟ ( بې له شریک په الوهیت کښې ) ډیرقوي غالب پرټولواوپه هرڅیزکښې.

مجاهد (رحمه الله) ویلي دي چې یوسف (علیه السلام) خپل ملګري د الله (جل جلاله) اواسلام په لوري را وبلل هغوی ته یې وویل(**يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ**) یعنې : ایا دا ښه ده چې تاسي د یوالله (جل جلاله) عبادت وکړی اویا دا چې د ډېروخدایانوعبادت وکړی چې ستاسي څخه هیڅ شی هم نشي دفع کولای. (1)

(**يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ**) یعنې : ای د بندیخاني اوسېدونکودلته یې ملګرتیا څکه ذکرکړه چې په بندیخانه کې یې زیات وخت تیرکړی ؤلکه چې ویل کیږي (اصحب الجنة واصحب النار) (**أَأَرْبَابٌ مُتَفَرِّقُونَ**) یعنې : چې په شمارياهم لویوالي کوچنوالي اوتوسط کې یوله بل سره متفرق وي (**خَيْرٌ أَمِ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ**) داهم ویل شویدي چې خطاب د ده دواړو ملګرو اوټولوبندیانوته دی چې له دوی سره بوتان موجود ؤ چې بغیرله الله (جل جلاله) څخه یې د هغوی عبادت کاوه دا یې د دې لپاره وویل چې په دوی باندې حجت قایم شي معنی داشوه چې ډیرخدایان چې نه چاته نفع اونه هم ضرر رسولی شي غوره دي یاهم یوخدای چې په ټولوشیانویې غلبه کړېده، دا هم ویل شویدي چې په تفرق سره یې دې ته اشاره وکړه که چېرته خدایان ډیرشي نوارادې به هم زیاتې شي اوځینې به په ځینونوروغالب شي نودا معلومه شوه چې کله ارادې متفرقې شي هغوی بیا نوخدایان نشي کېدلای. (2)

## دوهمه ګټه : د الله (جل جلاله) نصرت اود غنیمت مال ترلاسه کول

د نصرت پېژندنه : (**النصراعانة المظلوم**)(3)

یعنې : نصرت له مظلوم سره مرستې ته ویل کیږي.

د غنیمت پېژندنه : (**الغنيمة اسم لما يؤخذ من أموال الكفرة بقوة الغزاة على وجه يكون فيه إعلاء كلمة الله تعالى**) (4)

یعنې : غنیمت د کفارو هغه مال ته ویل کیږي چې مجاهدین یې په جګړه کې په زور سره ترلاسه کړي په داسې ډول چې په جګړې کې به د الله ( جل جلاله) د کلمې لوړوالی وي.

---

1 الرازي ، الإمام الحافظ أبو محمد عبد الرحمن بن أبي حاتم ، المتَوَفَّى سنة 327 هجرية ، تفسيرابن آبی حاتم تحقیق : أسعد محمد الطيب ، چا پ ځای : المكتبة العصرية - صيدا ، د ټوکونوشمیر: 10 د ټوک ګڼه ، ۷ د پاڼي ګڼه ۲۱۴۶ .

2 الجامع لاحكام القرآن ج ۹ ص ۱۹۲.

3 لسان العرب ج ۵ ص ۵۱۰.

4 التعریفات للجرجاني ص ۲۰۹.

د قرآنکريم په ډېرو مبارکوآياتونوکي د خيرلفظ له نصرت اوغنيمت سره يوځای ذکرشويدی غنيمت هغه خيردی چې الله (جل جلاله) يې د مجاهدينوپه لاسونوکي ورکوي الله (جل جلاله) دې ټکي ته هم اشاره کړېده چې د الله (جل جلاله) نصرت هم يواځې مؤمنان ترلاسه کولای شي الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)**[1]

ژباړه : ليکن رسول د الله (جل جلاله) اوهغه کسان چې ايمان لرونکي دي له ده سره جهاد يې وکړپه مالونوخپلوا وځانونوخپلو؛ اودغه کسان هم دوی لره دي ښېګڼې ( فايدې ) اودغه کسان هم دوی دي په مراد رسېدلي ( بريااليان ) تيارکړي دي الله (جل جلاله) دوی ته جنتونه چې بهيږي له لاندې ( د مانيواو ونو ) د هغو څلورقسمه ويالې تل به وي دوی په دغو جنتونوکښې ؛ دغه ( ننوتل د جنت ) بری دی لوی په نفس اوشيطان.

**(وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ)** خيرات د خيرة جمع ده اوپه دې کې څلورجې دي لومړی له دې څخه مراد دنيوي غنيمتونه اود جهاد منافع دي دوهم مقصد ورڅخه زيات منافع دي دريم مراد ورڅخه د آخرت ثواب دی څلورم مراد ورڅخه د آخرت حورې دي د الله د دې قول پربناء ( **فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ** ) [2]

ژباړه : په جنت کې شايسته اوښورې حورې د جنتيانولپاره دي.

**(لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ)** يعني : پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) اوهغه کسانوچې له ده سره ايمان راوړی دی په ټولومهموديني کارونوکې د پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ملګري وي اوهېڅ کله ورڅخه نه جدا کيږي **(جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ)** د ايمان په غوښتنه اوپه قرآنکريم کې د الله د امرپه سبب دا فريضه ( د الله (جل جلاله) په لاره کې جهاد) په غوره طريقه ترسره کړه **(وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)** يعني : د الله (جل جلاله) په لاره کې د مجاهدينولپاره خيرات دي چې هغه د ايمان اوجهاد ثمرات دي لکه د الله (جل جلاله) نصرت د الله (جل جلاله) د کلمې لوړوالی د کفرکلمه محوه کېدل اوله مينځه تلل د حق اوعدل اقامه کېدل له غنيمتونوڅخه استفاده اوپه ځمکه کې سيادت اوقيادت دا د هغوبزدله منافقانو لپاره نه دي چې له لذت سره مينه لري اود دې مسئوليت د پورته کولواهليت نلري بلکه د الله (جل جلاله) په لاره کې مجاهدين د دنيوي اواخروي کاميابۍ اوسعادت ترلاسه کوونکي دي نه هغه منافقين چې د دنيوي اواخروي خيرڅخه د خپل نفاق په سبب محروم دي چې نفاق يې د دوی په اعمالواواخلاقو هم تآثيرکړيدی. [3]

---

[1] التوبة ۸۸.

[2] الرحمن۷۰ تفسيرالماوردي ج ۲ ص ۳۹۰.

[3] تفسيرالشيخ المراغی ج ۱۰ ص ۱۷۹.

## دریمه ګڼه : مالداره اوغني کیدل

د غناء پېژندنه : غناء د فقرضد ته ویل کیږي اوپه دوه ډوله ده لومړی د حاجت غوښتل چې بغیرله الله (جل جلاله) څخه د بل چا څخه نه غوښتل کیږي دوهم د حاجاتوکمول چې د الله (جل جلاله) په دې قول کې ورته اشاره شوېده (**وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى**)[1]

ژباړه : الله (جل جلاله) ته فقیرپیدا کړې اوبیا یې بیرته غني اومالداره کړې.

د الله (جل جلاله) په نومونوکې غني هغه چاته ویل کیږي چې هېچاته احتیاج نلري هرڅوک هغه ته احتیاج اوضرورت لري الله (جل جلاله) مطلق غني دی هېڅوک له ده سره په دې صفت کې شریک نه دی د الله (جل جلاله) له نومونوڅخه مغني هم دی دا هغه ذات ته ویل کیږي چې د خپلوبندګانوله جملې څخه یې چاته چې خوښه شي هغه غني کوي اوغني د زیات مال خاوند ته ویل کیږي. [2]

الله (جل جلاله) په قرآنکریم کې د مال یادونه کړېده اومال یې د اسیروکافرانو لپاره د اسلام په مبارک دین کې د داخېلېدلولپاره د تشویق وسیله ګرځولې ده لکه څنګه چې الله (جل جلاله) فرمایلي دي (**يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ**)[3]

ژباړه : ای نبي ! ووایه ته هغه چاته چې په لاسونوستاسې کښې دي له بندیانو ( قیدیان ) که معلوم کړي الله (جل جلاله) په زړونوستاسوکښې کوک خیر( ایمان ) نودر به کړي تاسې ته خیر« بهتر، غوره » له هغه مال څخه چې اخیستل شویدی له تاسې نه اومغفرت به وکړي تاسې ته ؛ اوالله (جل جلاله) ښه ښنونکی د ( خطیئاتو ) ډیر رحم والادی « د اجراوثواب په انعام سره » .

دا مبارک آیت د بدرغزا د ټولواسیرانو په اړه نازل شویدی چې د دوی له جملې څخه د عباس (رضی الله عنه) فدیه څلوېښت اوقیې ۴۰ وه اود نورو بندیانوفدیې هم څلوېښت اوقیې وې. [4]

د محمدبن سیرین (رحمه الله) [5] څخه روایت دی چې د بدرد بندیانوفدیه سل اوقیې وه یوه اوقیه څلوېښت درهمه اوشپېږدیناره کیږي، امام مجاهد (رحمه الله) د څلوېښتواوقیوقول غوره بللی دی. [6]

---

[1] الضحی ۸ أبو الفيض محمّد بن محمّد بن عبد الرزّاق الحسيني ، الملقّب بمرتضى ، الزَّبيدي ، تاج العروس من جواهر القاموس ، تحقيق : مجموعة من المحققين ، چاپ ځای ، د ټوکونوشمیر ۴۰ د ټوک ګڼه ، ۳۹ د پاڼي ګڼه ۱۸۸.

[2] لسان العرب ج ۱۵ ص ۱۳۷.

[3] الانفال ۷۰.

[4] روح المعاني ج ۵ ص ( ۲۳۱ ـ ۲۳۲ )

[5] - محمد بن سیرین ابوبکر الانصاری د انس بن مالک د ازاد کړل شوو غلامانو له جملې څخه د نوموړی پلار په جر جرا یا کي بندی وو او انس بن مالک هغه واخیست او بیا یي د څو روپو په مقابل کي ازاد کړ . وګوره : سیراعلام النبلاء ،ج۴، ص ۶۰۶.

[6] التفسیرالمنیرللزحیلي ج ۲۸ ص ( ۲۵۵ ـ ۲۵۶ )

داهم ويل شويدي چې دا مبارک آيت د حضرت عباس (رضی الله عنه) په اړه نازل شويدی له هغه څخه روايت شوی دی چې هغه وويل: زه مسلمان وم خومشرکينوپه زورد بدرپه جنګ کې شرکت کولوته مجبورکړم پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ماته وويل: که چېرته ستاخبره يعنې داچې ته وايې چې زه مسلمان يم حقيقت ولري نوالله (جل جلاله) به ستا د مال بدله درکړي خومونږستا په اړه دا فيصله کووچې د خپل ځان اودوه وربېرونونوفل بن الحارث اوعقيل بن ابی طالب اوخپل حليف عتبة بن عمرو فديه هم ورکړه ما پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته وويل چې زما سره خودومره مال نشته پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ماته وويل هغه مال دې څه کړچې تا اوام الفضل ښخ کړاوتا هغې ته وويل چې زه نه پوهېږم چې په دې جنګ کې به په ما څه وشي که چېرته زه له کومې واقعې سره مخ شوم ( يعنې مړشوم) نودا مال دې ستا عبدالله عبيدالله اوقثم لپاره وي ما پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) ته وويل: چې ته چاخبرکړې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) وويل: چې ماته الله (جل جلاله) خبرراکړعباس (رضی الله عنه) په دې وخت کې وويل: (اشهد انک صادق وان لا اله الاالله وانک رسول الله) زما له دې کارڅخه له الله (جل جلاله) څخه بغيرهېڅوک هم خبرنه ؤما خپلې ښځې ته دا مال د شپې په تياره کې ورکړ، د حضرت عباس (رضی الله عنه) څخه روايت دی چې هغه څه موده وروسته وويل: چې الله (جل جلاله) له هغه مال څخه ماته غوره مال راکړزه اوس شل غلامان لرم چې ادنی يې شل زره درهمه قيمت لري او الله (جل جلاله) ماته د زمزم اوبه راکړېدي زه دا نه خوښوم چې د زمزم د اوبوپه مقابل کې د ټولې مکې مالونه راکړل شي اوله الله (جل جلاله) څخه د مغفرت اوبښنې اراده هم لرم (**إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا**) يعنې : ښه نيت اوخالص ايمان (**يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ**) يعنې:هغه فديه چې له تاسې څخه اخيستل شوېده د هغه په مقابل کې به الله (جل جلاله) په دنياکې څوچنده مال اويا هم په آخرت کې ثواب درکړي. [1]

همدا رنګه الله (جل جلاله) فرمايلي دي (**فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**)[2]

ژباړه : نو وويرېږی تاسې له الله (جل جلاله) څومره چې توانيږی تاسې واورئ ( خبرې د الله (جل جلاله) په سماع د قبول سره ) اواطاعت کوئ ( د احکام الله ) اونفقه کوئ لګوئ ښه شيان د پاره د نفعې د ځانونوخپلواوهغه چې وساتلی شوله حرص بخيلۍ د نفس خپل څخه نودا کسان هم دوی دي برياليان ( کامياب ) په مراد رسېدلي ( له عذابه په دواړو دارينوکښې ) .

---

[1] روح المعاني ج ۵ ص ( ۲۳۱ ــ ۲۳۲ )
[2] التغابن ۱۶.

**(فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ)** یعنې : د الله (جل جلاله) په اوامرو د خپل وس مطابق عمل وکړئ اوله منهیاتوڅخه يې ځان وساتئ اوهغه څه ته غوږونیسئ چې د الله (جل جلاله) له لوري درته امرکیږي د الله (جل جلاله) اورسول (صلی الله علیه وسلم) اطاعت وکړئ کوم مالونه چې الله (جل جلاله) درکړي دي د خیرپه لاروکې يې مصرف کړئ اوبخل مه کوئ ځکه د امت اودین په مصالحوکې د مال نفقه کول ستاسولپاره د مال اواولاد څخه خیراوسعادت دی دا کارستاسولپاره په دنیا اوآخرت کې غوره دی که دا کارونکړی ستاسولپاره په دنیا اوآخرت کې شردی **(وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)** یعنې هغه څوک چې الله (جل جلاله) د بخل له مرض څخه وژغوري د الله (جل جلاله) اوخیرپه لارکې خپل مال نفقه کړي دا کسان د کوم څه چې غوښتونکي وي هغه ته رسیږي چې هغه کامیابي ده. [1]

له پورته ذکرشووآیاتونوڅخه دا څرګنده شوه څوک چې خپل مال د الله (جل جلاله) په لاره کې نفقه کړي الله (جل جلاله) به دنیوي اواخروي سعادت ورپه برخه کړي په دنیاکې به الله (جل جلاله) د ده په مال کې برکت واچوي اوالله (جل جلاله) به يې غني کړي اوپه آخرت کې به لوی اجرورکړي لکه څنګه چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي **(من أنفق نفقة في سبيل الله كتب له سبع مئة ضعف)** [2]

یعنې : څوک چې د الله (جل جلاله) په لاره کې خپل مال نفقه کړي هغه ته به اووه سوه چنده اجرولیکل شي.

همدا رنګه پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي **(عن أبي الدرداء أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ما طلعت شمس قط إلا وبجنبتيها ملكان يناديان اللهم من أنفق فأعقبه خلفا ومن أمسك فأعقبه تلفا)**[3]

ژباړه : ابی درداء (رضی الله عنه) له پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه روایت کوي چې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: هرکله چې لمررا خېژي د هغه په څنګ کې دوه ملایکې وي هغوی دا آوازکوي ای الله (جل جلاله) څوک چې نفقه کوي هغه ته يې بدله بېرته ورکړې اوڅوک چې نفقه نکوي له هغه څخه يې مال بېرته واخلې.

په پای کې دا ویلی شوچې د خیرله ثمراتوڅخه د دنیا په ژوند کې یوهم مالداره اوغني کېدل دي.

[1] التفسیرالمنیرللزحیلي ج ۲۸ ص ( ۲۵۵ ـ ۲۵۶ )

[2] ابن حبان ج۱۰ ص ۵۰۴ د حدیث شمیره ۴۶۴۷، باب فضل النفقة فی سبیل الله. البانی ویلي دي دا حدیث صحیح دی . وګوره : صحیح وضعیف الجامع الصغیر وزیادته ص ۱۱۰۶ .

[3] ابن حبان ج ۲ ص ۴۶۲ د حدیث شمیره ۶۸۶ ، باب القفروالزهد والقناعة. آلبانی ویلی دی دا حدیث صحیح دی. وګوره : الألباني محمد ناصر الدین ، صحیح الترغیب والترهیب ، چاپ ځای : مکتبة المعارف – الریاض ، پنځم چاپ د توک شمیر ۱ د پاڼي شمیر۲۲۳.

## دریم مبحث : د خیراخروي ګټې

### لومړی مطلب : په آخرت کې د خیرفردي ګټې

### دوهم مطلب : په آخرت کې د خیرټولنیزې ګټې

## دریم مبحث : د خیراخروي ګټې

### لومړی مطلب : په آخرت کې د خیرفردي ګټې

که چیرته یوشخص په خپل دنیوي ژوند کې د خیرلاره خپله کړي اوټول کړه وړه یې د اسلامي شریعت د اساساتوسره موافق ترسره کړي وي په اخروي ژوند کې یولړفردي ګټې ترلاسه کولای شي چې په راتلونکوکرښوکې یې ځینوته اشاره شوېده.

### لومړی ګټه : د الله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کول

د رضاء پیژندنه : **(الرضاء سرورالقلب بمرالقضاء)** ([1])

یعنې: رضاء په ناخوښه فیصله اوحکم باندې د زړه له خوشحالتیا څخه عبارت دی.

هغه څوک چې غواړي د قیامت په ورځ د الله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کړي نود ده لپاره لازمه ده چې په دنیوي ژوند کې هغه کارونه ترسره کړي چې د الله (جل جلاله) د رضایت سبب ګرځي نود بنده لپاره دا ضروري چې د مختلفوعباداتود ترسره کولوپه وسیله د الله (جل جلاله) د رضایت لاسته راوړلوهڅه وکړي الله (جل جلاله) د خپل رضایت ټول موارد په خپل کتاب کې ذکرکړیدي لکه چې د حج په سورت کې الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ)** ([2])

ژباړه : ای هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی ( یعنې ای مؤمنانو ) رکوع کوئ تاسې ! اوسجده کوئ تاسې ! ( په لمانځه کښې ) اوعبادت کوئ تاسې ! د رب خپل ( نه د بل ) اوکوئ نیک کارونه ( لکه صله رحمي اوښه اخلاق ) د پاره د دې چې بری ومومی ( په نعمت اوجنت سره ) .

یعنې : ای هغوکسانوچې د الله (جل جلاله) اورسول (صلی الله علیه وسلم) تصدیق موکړی الله (جل جلاله) ته عاجزي وکړئ اوهغه ته په سجده ولوېږئ اوټول هغه عبادات ترسره کړئ چې الله (جل جلاله) پرې مآمورګرځولي یاست لکه صله رحمي پالل اوپه مکارم اخلاق باندې ځان سمبالول ترڅوله الله (جل جلاله) څخه هغه کامیابې چې تاسې یې آرزولرې ترلاسه کړی چې هغه ثواب اود الله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کول دي.([3])

الله (جل جلاله) له خپلوهغوبندګانوسره چې صالح اعمال نیک اود خیرکارونه ترسره کوي د خپل رضایت اعلان کړیدی الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ (7)**

[1] - التعریفات ، ص ۱۴۸.
[2] - الحج ، آیت ۷۷.
[3] - تفسیر المراغی ، ج۱۷، ص ۱۴۸.

**جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ)** ([1])

ژباړه : بیشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی اوکړي یې دي ښه عملونه په دنیا کښې دا خلک دي هم دي ډیرښه د خلکو. جزاء عوض د دوی په نزد د رب د دوی جنتونه د ابدي هستوګنیې دي چې بهیږي له لاندې ( د مانیواو ونو ) د هغو ( د اوبو د شودو د شاتواود پاکوشرابو ) ویالې تل به وي دوی په هغو ( جنتونو ) کښې همیشه ترابده ، راضي به وي الله (جل جلاله) له دغو ( مؤمنانوڅخه په طاعت سره ) .

په دې مبارکوآیاتونوکې الله (جل جلاله) په عامه توګه هغه چاته د خپل رضایت اعلان کړیدی چې صالح اعمال ترسره کوي اوهرهغه څه چې د الله (جل جلاله) درضایت سبب ګرځي د خیرعمل نومول کیدای شي نود خیرله ثمراتوڅخه په اخروي ژوندکې یوهم د الله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کول دي څکه چې د خیرپه تعریف کې مونږدا ویلي ؤ چې هرهغه عمل له خیرڅخه عبارت دی چې د هغه په وسیله د الله (جل جلاله) د رضایت سبب ګرځي هغه که لوی اوهم کوچني د خیرکارونه وي.

## دوهمه ګټه : د توبې قبلېدل

د توبې پېژندنه : تا واواوبا یوه کلمه ده چې په رجوع باندې دلالت کوي عرب وایي: (تاب من ذنبه) ([2])

یعنې: له ګناه څخه یې رجوع وکړه اوګناه یې پرېښوده.

امام طبري په خپل تفسیرکې توبه داسې تعریف کړېده **(التوبة الآوبة ممايكرهه الله الى ما يرضاه)**([3])

یعنې : توبه له هغه شي څخه چې الله یې نه خوښوي د هغه شي په لورې چې الله (جل جلاله) یې خوښوي ګرځېدلوته ویل کیږي.

په قرآنکریم کې الله (جل جلاله) د موسی (علیه السلام) واقعه ذکرکړېده چې خپل امت یې توبې اود الله (جل جلاله) په لوري ګرځېدلواورجوع کولوته تشویق کړیدی الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ يَا قَوْمِ إِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ أَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوبُوا إِلَىٰ بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ عِنْدَ بَارِئِكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ إنه هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ)** ([4])

ژباړه : او ( یاد کړئ ! ) هغه وخت چې وویل موسی قوم خپل ته ای قومه زما ! بیشکه تاسي چې یی ظلم کړی دی تاسي پرځانونو خپلوپه سبب د نیولو د تاسي خوسي ( سخي ) لره ( په خدا یی سره ) پس توبه

---

[1] - البينة ، ايت (۷-۸ )
[2] - معجم مقايس اللغة ، ج۱، ص ۳۷۵.
[3] - تفسير الطبرى ، ج۲، ص ۷۲.
[4] - بقره ۵۴.

وباسئ ( ټول ) خالق د تاسې ته نو ووژنئ ځانونه خپل ؛ دغه ( ځان وژل ) ستاسې بهتردي تاسې ته په نزد د خالق د تاسې پس قبوله یې کړه توبه ستاسې ! بیشکه الله (جل جلاله) هم دی ښه توبه قبلوونکی ښه مهربان دی ( په توبه قبلوونکو ) .

د آیت معنی دا شوه چې ای بني اسرائیلود الله (جل جلاله) د نعمت یادونه وکړئ د دې لپاره چې نفعه اوعبرت ترې واخلی کوم وخت چې موسی د خپل قوم هغوکسانوته چې د خوسکي عبادت یې کړی ؤ په هغه وخت کې چې موسی (علیه السلام) له دوی څخه لرې له خپل رب سره مناجات کاوه هغه خپل قوم ته وویل: ای زما قومه تاسې په خپل ځان ظلم وکړاودغیرالله د عبادت په وسیله موخپله مرتبه اومنزلت له لاسه ورکړکه تاسې له ګناهونوڅخه پاکېدل غواړی نوالله (جل جلاله) ته صادقانه اونصوحا توبه وکړئ اوخپل ځانونه و وژنئ ترڅود الله (جل جلاله) مغفرت ترلاسه کړی چې دا کارد الله (جل جلاله) په نزد له ګناه څخه په استقامت باندې غوره دی کله چې تاسې دا کارترسره کړالله (جل جلاله) ستاسوتوبه قبوله کړه ځکه الله (جل جلاله) هغه ذات دی چې د خپلوبندګانوګناهونه که ډېرزیات هم وي بخښي همدا ډول د الله (جل جلاله) رحمت د هغوکسانولپاره ډیرپراخه دی چې الله ته رجوع کوي اوپه ښکاره لاره باندې استقامت غوره کوي. ([1])

(**فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ**) یعني : هغه ذات ته توبه وکړئ چې تاسې یې پیدا کړي یاست اوپه مختلفوشکلونواوصورتونویې یوله بل څخه جلا کړي یاست د الله (جل جلاله) په دې قول کې (**إِلَى بَارِئِكُمْ**) دې ته اشاره ده چې دوی په جهل اوناپوهۍ کې انتهاء ته رسېدلي ؤ ځکه چې دوی د الله (جل جلاله) عبادت پرې ایښی ؤ اود یوغبي حیوان چې خوسکی دی عبادت یې غوره کړی ؤ اوچا چې د خوسکي عبادت نه دی کړی هغه کسان دي و وژني چې د خوسکي عبادت یې کړی دی چې دې ټکي ته یې په (**أَنْفُسَكُمْ**) اشاره وکړه ځکه چې مسلمانان یود بل وروڼه دي د یوچا ورور داسې دی لکه د ده خپل نفس لکه د الله (جل جلاله) دا قول (**ولاتلمزوا آنفسكم**)([2])

(**ذالكم**) توبه اوقتل (**خيرلكم عند بارئكم**) په ګناه باندې له اصرارڅخه د الله (جل جلاله) په نزد غوره دي.[3]

همدا رنګه زمونږ پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) هم خپل امت له ګناه څخه توبې ایستلوته تشویق کړیدی لکه چې په یومبارک حدیث کې پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي (**يا أيها الناس توبوا إلى الله فإني أتوب في اليوم إليه مائة**) ([1])

[1] - تفسير الوسيط ، ج١، ص ١٣١.
[2] - تفسير المراغي , ج1, ص ١٢٠.
[3] - تفسير النسفى ، ج١، ص ١٢٠.

يعني: الله ته توبه وکړئ ځکه زه په خپله په يوه ورځ کي سل ځله الله ته توبه کوم.

همدا ډول د الله (جل جلاله) اطاعت کول اوالله (جل جلاله) ته توبه اورجوع کول الله (جل جلاله) ته د بنده د نژدېوالي سبب ده لکه څنګه چي پيغمبر(صلی الله علیه وسلم) فرمايلي دي **(عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ يَرْوِيهِ عَنْ رَبِّهِ قَالَ إِذَا تَقَرَّبَ الْعَبْدُ إِلَيَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعًا وَإِذَا تَقَرَّبَ مِنِّي (إِلَيَّ) ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ منه بَاعًا وَإِذَا أَتَانِي مشيا أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً** ([2]

ژباړه : انس له پيغمبر(صلی الله علیه وسلم) څخه روايت کوي چي پيغمر(صلی الله علیه وسلم) يي له خپل رب څخه روايت کوي چي الله وفرمايل: کله چي بنده ماته يوه لوېشت را نژدې شي زه هغه ته يوګزورنژدې کېږم اوکله چي ماته يوګزرا نژدې شي زه هغه ته يوباع ورنژدې کېږم اوکله چي بنده زما په لوري راځي زه هغه ته په ځغاسته ورځم.

له پورتنېنی بحث څخه دا واضحه شوه چي په آخرت کي د خيرله ثمراتوڅخه په فرد باندې د الله (جل جلاله) رضايت ترلاسه کول دي چي په نتيجه کي جنت ته د دا خپلېدلو سبب ګرځي همدا رنګه د خيرله ثمراتوڅخه په آخرت کي د توبې ثمره ترلاسه کول دي چي د انسان لپاره په آخرت کي د نېنېکمرغی وسيله ګرځي.

## دوهم مطلب : په آخرت کي د خيرتولنيزې ګټې

که چېرته د الله (جل جلاله) بندګان په ځمکه کي د الله (جل جلاله) په اوامروعمل وکړي اود خيرلاره خپله کړي نود خپل اخروي ژوند لپاره به يي يوه ښه سرمايه د خپل ځان لپاره برابره اوآماده کړې وي چي په دنيوي ژوند کي د خيرلاره خپلول د انسان لپاره په اخروي ژوند کي يولړټولنيزې ګټې له ځانه سره لري البته له ټولنيزوګټوڅخه هدف دادی چي دا ګټې به ټول هغه کسان چي خيرته يي په دنياکي پاملرنه کړې وي ترلاسه کړي چي په راتلونکوکرښوکي بيان شوېدي.

## لومړی ګټه : د الله (جل جلاله) له لوري د رحمت اومغفرت ترلاسه کول

د رحمت پېژندنه : **(الرحمة هی ما يحصل من الخيروالاحسان والثواب العاجل والآجل لمن اهتدى به فا الهدى اجل الوسائل والرحمة كمال المقاصد والرغائب)**([3]

[1] - مسلم ،ج۴، ص ۲۰۷۴، دحديث نمبر، ۲۷۰۲، باب استحباب الاستغفار والاستكثار منه.
[2] - بخاری ، ج۱، ص ۳۳۵، د حديث نمبر ۷۵۳۶.
[3] - تفسير سعدی ، ص ۲۶۶.

يعني : رحمت له هغه شي څخه عبارت دی چې له خيراحسان د اوسني او راتلونكي ثواب په وسيله چې انسان د هغه په سبب هدايت مومي ترلاسه كيږي نوهدايت د وسائلوپه وسيله ترلاسه كيږي اورحمت حقيقي هدف ته رسېدل دي.

د مغفرت پيژندنه : **(المغفرة هي أن يستر القادر القبيح الصادر ممن تحت قدرته حتى أن العبد إن ستر عيب سيده مخافة عتابه لا يقال غفر** له) ([1])

يعني : مغفرت دې ته ويل كيږي چې يوقدرت مند شخص ترخپل قدرت لاندې كس باندې پرده واچوي كه چېرته يوغلام د خپل بادارعيب د هغه د تعذيب له وېرې څخه پټ كړي دې ته نوبيا دا نه ويل كيږي چې هغه ته يې ببښنه وكړه.

الله (جل جلاله) په خپل كتاب كې د خپلي لارې له مجاهدينوسره په آخرت كې د خپل رحمت اومغفرت وعده كړېده چې په دې اړه الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِنَ اللَّهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِمَّا يَجْمَعُونَ)** ([2])

ژباړه : اوقسم دی خامخا كه ووژلی شوی تاسې په لاره د الله (جل جلاله) كښې يا مړه شوی تاسې ( په لاره د الله (جل جلاله) كښې چې طاعت دی ) نوخامخا مغفرت له جانبه د الله (جل جلاله) اورحمت ( مهرباني د الله ) خير( ډيرښه ) دی له هغومالونو چې دوی يې جمع كوي.

په دې مبارک آيت كې الله (جل جلاله) دا خبروركړی چې في سبيل الله جهاد اوشهادت هېڅ تاوان اونقص نلري بلكه دا هغه كاردي چې پكې بايد يوله بل سره مسابقه ترسره شي ځكه چې دا كار د الله (جل جلاله) رحمت اومغفرت ته د رسېدلووسيله اولاره ده اود الله (جل جلاله) رحمت اومغفرت له هغه څه څخه چې د دنيا اهل يې په دنيا كې جمع كوي غوره دی، همدا ډول الله (جل جلاله) خپل پيغمبر(صلى الله عليه وسلم) ته د بدرد بنديانوپه هكله فرمايلي دي چې كه چېرته دوی د اسلام دين ومني نوپه دنيا كې به الله (جل جلاله) دوی زيات مالدا ره كړي اوپه آخرت كې به الله (جل جلاله) دوی ته مغفرت وكړي كله چې الله (جل جلاله) خپلوبندګانوته مغفرت وكړي دا طبعي خبره ده كله چې يوبنده د الله (جل جلاله) مغفرت ته ځان ورسوي نود ده لپاره په آخرت كې د كاميابۍ د روازه پرا نستل شوه .[3]

الله (جل جلاله) فرمايلي دي **(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ)**([4])

---

[1] - التعريفات ، ص ٢٨۶.
[2] - آل عمران ، ايت ١٥٧.
[3] تفسيرالسعدي ص ١٥٣.
[4] - الانفال ٧٠.

ژباړه : ای نبي ! ووایه ته هغه چاته چې په لاسونوستاسي کښې دي له بندیانو ( قیدیان ) که معلوم کړي الله په زړونوستاسي کښې کوم خیر( ایمان ) نودربه کړي تاسي ته خیر« بهتر، غوره » له هغه مال څخه چې اخیستی شوی دی له تاسي نه اومغفرت به وکړي تاسي ته ؛ اوالله (جل جلاله) ښه ښونکی د ( خطیئاتو ) ډیررحم والا دی « د اجراوثواب په انعام سره » .

د حضرت عباس (رضی الله عنه) څخه روایت دی چې هغه څه موده وروسته وویل: چې الله (جل جلاله) له هغه مال څخه ماته غوره مال راکړزه اوس شل غلامان لرم چې ادنی یې شل زره درهمه قیمت لري او الله (جل جلاله) ماته د زمزم اوبه راکړېدي زه دا نه خوښوم چې د زمزم د اوبوپه مقابل کې د ټولې مکې مالونه راکړل شي اوله الله (جل جلاله) څخه د مغفرت اوبښنې اراده هم لرم. ([1])

له پورته بحث څخه دا څرګنده شوه چې د خیرد ټولنیزوکټوڅخه په آخرت کې یوهم د الله (جل جلاله) رحمت اومغفرت ترلاسه کول دي.

## دوهمه ګټه : جنت ته دا خیلیدل

د جنت لویه کامیابي ترلاسه کول د هرمؤمن حقیقي آرزواوغوښتنه ده ځکه چې دنیا اونعمتونه یې په حتمي ډول یوه ورځ له مینځه تلونکي دي خوجنت اونعمتونه یې همیشني اوتل پاتېکېدونکي دي اولوی خیرهغه دی چې انسان دایمي کامیابی اوسعادت ته ځان ورسوي اودا کامیابي جنت اود هغه نعمتونه دي. الله (جل جلاله) په خپل کتاب کې اسلامي امت دې ته هڅولی دی چې ټول بشریت ته د خیرپه لوري بلنه ورکړي الله (جل جلاله) فرمایلي دي **(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ)**([2])

ژباړه : او وي دې ( تل ) له تاسي یوه ډله چې بولي خلک په طرف د خیر ( اسلام ) اوامر ( حکم ) کوي خلکوته په معروف ( نیکی ) سره اومنع کوي خلک له منکر ( بدئ ) دغه اودغه ( آمرین باالمعروف اوناهین عن المنکر ) هم دوی دي په مراد رسیدلي .

له دې مبارک آیت څخه د استدلال وجه داده چې فلاح یعني جنت ته دا خیلیدل اودالله (جل جلاله) رضایت ترلاسه کول.**(والخیراسم جامع لکل ما یقرب الی الله ویبعد من سخطه)** ([3])

یعني: خیریوجامع نوم دی هرهغه څه ته ویل کیږي چې یوشخص الله (جل جلاله) ته نژدې کوي اوله قهرڅخه یې لرې کوي **(وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ)** یعني تاسې ټول یوه ډله شئ د دې لپاره چې

[1] - روح المعانی ، ج٥، ص (٢٣١- ٢٣٢).
[2] - آل عمران ١٠٤.
[3] - تفسیر السعدی ، ص ١٤٢.

